

# خپله درملنه خپله وکړئ

Ketabton.com

لیکوال : واحدالله ،پاڅون،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړ لیک

سرلیک
مخګنه
مکرونیوټرینټ(خوړو) بنسټیزې برخې ------------------------------------------ ۱۱
پروټین ------------------------------------------------------------------------ ۱۱
رول او اهمیت -------------------------------------------------------------- ۱۱
د پروټینونو غذایی منابع ------------------------------------------------------ ۱۱
کاربوهایډریټ --------------------------------------------------------------- ۱۲
رول او اهمیت --------------------------------------------------------------- ۱۲
منابع ------------------------------------------------------------------------ ۱۲
شحمیات او غوړي ----------------------------------------------------------- ۱۲
رول او اهمیت --------------------------------------------------------------- ۱۳
غیر مشبوع شحمي اسیدونه ---------------------------------------------------- ۱۳
د غیر مشبوع شحمی اسیدونو غذایی منابع -------------------------------------- ۱۳
مشبوع شحمی اسیدونه ------------------------------------------------------- ۱۴
د مشبوع شحمی اسیدونو غذایی منابع ----------------------------------------- ۱۴
احتیاط ---------------------------------------------------------------------- ۱۴
اوبه ------------------------------------------------------------------------ ۱۴
رول او اهمیت --------------------------------------------------------------- ۱۴
منابع ----------------------------------------------------------------------- ۱۴
ویټامینونه ------------------------------------------------------------------ ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويټامين دوه ډوله دی --------------------------------------------------------١٦
په بدن کې د ويټامينونو د کموالي نښې ------------------------------------------ ١٦
د شونډو چاودېدل --------------------------------------------------------------- ١٧
د زياتې سترړيا احساس ---------------------------------------------------------- ١٧
په ملا، ورنونو او اوږو باندې د زخمونو نښې نښانې -------------------------------- ١٧
خفګان ------------------------------------------------------------------------ ١٧
د ويښتانو توئېدل ---------------------------------------------------------------- ١٨
د سترګو د ديد کمزورتيا ---------------------------------------------------------- ١٨
بې اشتهايي ------------------------------------------------------------------- ١٨
زړه بدوالی او د ګېډې درد ------------------------------------------------------ ١٨
له ژامو د وينې راتلل او هغه زخمونه چې نه ښه کېږي -------------------------------- ١٩
سر درد او ګنګسوالی ------------------------------------------------------------ ١٩
اسهال ------------------------------------------------------------------------ ١٩
بې خوبي ---------------------------------------------------------------------- ١٩
د پوستکي وچوالی --------------------------------------------------------------- ١٩
د آ ويټامين رول په بدن کی ------------------------------------------------------٢٠
په کوم موادو کی آ ويټامين پيداکيږی ----------------------------------------------- ٢٠
د ويټامين ای کم والی په بدن کی ------------------------------------------------- ٢٠
د ويټامين ای خاصيت ------------------------------------------------------------ ٢٠
د بی ۱ ويټامين رول په بدن کی -------------------------------------------------- ٢١
په کوم موادو کی بی ۱ويټامين پيداکيږی ------------------------------------------- ٢١
په لاندني مواردو کي دغه ويټامين ښه آغېزه لري ------------------------------------- ٢١
د ويټامين بی ۱ کموالی په بدن کی ----------------------------------------------- ٢١

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بی ۲ ویټامین رول په بدن کی ---------------------------------------------- ۲۱
د بی ۲ ویټامین کموالی په بدن کی ------------------------------------------- ۱۶
په کوم موادو کی بی ۲ ویټامین پیداکیږی ------------------------------------ ۲۲
متوسطه ورځني اړتیا ----------------------------------------------------- ۲۲
د ویټامین سی رول په بدن کی ---------------------------------------------- ۲۲
د ویټامین سی کموالی په بدن کی ------------------------------------------ ۲۲
په کوم موادو کی ویټامین سی پیداکیږی ------------------------------------ ۲۲
په لاندنیو مواردو کي ښه آغېزمن دي --------------------------------------- ۲۳
ویټامین ډی په کښته توکو کي شتون لري ------------------------------------ ۲۳
په لاندني مواردو کي یې اغېزه ډېره ښه ده ----------------------------------- ۲۳
متوسطه ورځني اړتیا ----------------------------------------------------- ۲۳
ویټامین یی په کښته شیانو کي شتون لري ----------------------------------- ۲۳
لاندنی مثبتي آغېزي لري -------------------------------------------------- ۲۳
متوسطه ورځنی اړتیا ------------------------------------------------------ ۲۴
په لاندني مواردو کي یې اغېزه ډېره ښه ده ----------------------------------- ۲۴
د ویټامین کا کموالی په بدن کی --------------------------------------------- ۲۴
منرالونه ----------------------------------------------------------------- ۲۴
اوسپنه ----------------------------------------------------------------- ۲۴
د اوسپنې غذایی منابع --------------------------------------------------- ۲۵
آیودین ------------------------------------------------------------------ ۲۵
منابع ------------------------------------------------------------------- ۲۶
جست یا زنک ------------------------------------------------------------ ۲۶
رول او اهمیت ---------------------------------------------------------- ۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library


منابع ---------------------------------------------------------------------------- ۲۶

د وزن د زیاتولو ښې لارې --------------------------------------------------- ۲۶

دوهمه طریقه --------------------------------------------------------------- ۲۶

یاده ونه ------------------------------------------------------------------- ۲۷

د وزن د کمولو ښې لارې --------------------------------------------------- ۲۷

لازم مواد ------------------------------------------------------------------ ۲۷

د استعمال طریقه ------------------------------------------------------------ ۲۷

دوهمه طریقه --------------------------------------------------------------- ۲۷

دریمه طریقه ----------------------------------------------------------------- ۲۷

د وزن د کمولو ښې لارې --------------------------------------------------- ۲۸

مستې ------------------------------------------------------------------------ ۲۸

د چرګو هګۍ ----------------------------------------------------------------- ۲۸

پسته ------------------------------------------------------------------------ ۲۸

مرخیړي ---------------------------------------------------------------------- ۲۸

د ورزش فزیولوژي ------------------------------------------------------------ ۲۹

د فزیکي فعالیت مستقیمي اوغیر مستقیمي روغتیایي ګټې ----------------------------- ۳۰

د ورزش فردي اغیزې -------------------------------------------------------- ۳۳

د شکرې د ناروغۍ درملنه او مخنیوی ------------------------------------------------ ۳۳

د چاغوالي سره مبارزه او د چاغوالي اړوند روغتیایي خطرونو راکمول ------------- ۳۴

دخرماګټې ------------------------------------------------------------------- ۳۵

خرما قبض لیرې کوی ------------------------------------------------------- ۲۶

د بدن د ښې ودې لپاره ------------------------------------------------------- ۳۶

خرما د صحتمند زړه لپاره ----------------------------------------------------- ۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنسی کمزورۍ لپاره ---------------------------------------------------- ۳۷
خرما د نس ناستې لپاره ---------------------------------------------------- ۳۷
خرما د نشې علاج ده ------------------------------------------------------ ۳۷
زيتون -------------------------------------------------------------------- ۳۷
دتورو اوشنو چايو څښل څه ګټه لری -------------------------------------------- ۳۸
چای په دوه ډوله دی تور چای او يا شين چای -------------------------------------- ۳۸
شين چای ----------------------------------------------------------------۳۹
تور چای -----------------------------------------------------------------۴۰
عسل (ياشهد) ------------------------------------------------------------ ۴۱
د عسلو ګټې په لاندې ډول دي ------------------------------------------------ ۴۱
ځانګړتياوي --------------------------------------------------------------۴۲
څو په زړه پورې خواصونه ------------------------------------------------------ ۴۲
په نهاره (تشه خېټه) د اوبو څښل ------------------------------------------------ ۴۲
بادام او د هغه روغتيايي ګټې --------------------------------------------------- ۴۴
دانګورو ګټی --------------------------------------------------------------- ۴۵
بادرنګ ------------------------------------------------------------------ ۴۶
بينډۍ ------------------------------------------------------------------ --۴۷
امروت ------------------------------------------------------------------ ۴۸
د انځر صحي ګټې ---------------------------------------------------------۴۹
د پالک ګټې ------------------------------------------------------------- ۵۰
د تورو مرچو ګټې ---------------------------------------------------------- ۵۱
د خټکي غذايي ګټې ------------------------------------------------------- ۵۱
د خټکي په استعمال کي لازم احتياط -------------------------------------------- ۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


کاهو ------------------------------------------------------------------------- ۵۲
کېله ------------------------------------------------------------------------- ۵۲
منه او د هغې ګټې ------------------------------------------------------------ ۵۳
ویلنی (نانا) ------------------------------------------ ---------------- ۵۴
ژاولو روغتیایي ګټې ------------------------------------------------------------ ۵۵
نیکوتین لرونکې ژاولې ------------------------------------------------------------ ۵۵
بې قنده ژاولې ------------------------------------------------------------ ۵۵
مخدره توکي لرونکې ژاولې ------------------------------------------------------------ ۵۵
ولې ژاولې کاروو ------------------------------------------------------------ ۵۵
ولې ژاولې ونه ژوو ------------------------------------------------------------ ۵۵
کشمش ------------------------------------------------------------------------- ۵۶
وړه ------------------------------------------------------------------------- ۵۶
دپام وړ ------------------------------------------------------------------------- ۵۶
لیمبو ------------------------------------------------------------------------- ۵۶
زردالو ------------------------------------------------------------------------- ۵۷
انار ------------------------------------------------------------------------- ۵۷
رومی ------------------------------------------------------------------------- ۵۸
دپیام وړ ------------------------------------------------------------------------- ۵۸
پیاز ------------------------------------------------------------------------- ۵۸
دپیام وړ ------------------------------------------------------------------------- ۵۹
د غوزانو طبعی ګټی ------------------------------------------------------------ ۵۹
غوزان دا لاندې مواد لري ------------------------------------------------------------ ۵۹
خوب ماغزه له زهرجنو موادو پاکوي ------------------------------------------------------------ ۶۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لب سرين څخه د سرطان مريضي پيدا کيږي ---------------------------------- ۶۱
نارنج ا و سلامتيا ------------------------------------------------------ ۶۲
د نارنج د پاڼې چاي ------------------------------------------------------ ۶۳
سهار وخته راويښېدل د ښه صحت او خوشالی سبب کېږي --------------------------- ۶۴
ګندنه ------------------------------------------------------------------- ۶۴
ګازره ------------------------------------------------------------------- ۶۵
شلغم د سرطان ضد ترکاري ------------------------------------------------ ۶۰
د اوربو مکملې ګټې: ----------------------------------------------------- ۶۷
د اوربو رول د ودې د مخالفو فکتورونو په برابر: --------------------------------- ۶۷
شلومبې ----------------------------------------------------------------- ۶۸
پټاټې ------------------------------------------------------------------ ۶۸
کوليسترول څه شی دی ---------------------------------------------------- ۶۹
د کوليسترول يا ليپوپروټينو ډولونه ----------------------------------------- ۶۹
ټيټ غلظت درلودونکی ليپوپروټين --------------------------------------- ۷۰
لوړ غلظت درلودونکی ليپوپروتين ---------------------------------------- ۷۰
ترايګلايسرايډ------------------------------------------------------------- ۷۰
د کوليسترولو اندازه ----------------------------------------------------- ۷۰
د لوړ کوليسترول خطرونه ------------------------------------------------ ۷۰
د وينی د لوړ کوليسترول نښی ------------------------------------------- ۷۱
د وينی د لوړ کوليسترول اسباب ------------------------------------------ ۷۱
تشخيص ---------------------------------------------------------------- ۷۱
تداوی ------------------------------------------------------------------ ۷۲
د دوا په واسطه تداوی ---------------------------------------------------- ۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

موبایل د تیلفون نه زیاته کار اخیستنه د سرطان سبب ګرځي ------------------------- ۷۵
دشپې په رڼاکې خوب کول ودماغ ته نقصان رسوي ---------------------------------- ۷۶
فشار ------------------------------------------------------------------------------------ ۷۶
بدني کار انسان له ناروغیو ژغوري ---------------------------------------------------- ۷۷
ولې ټوله شپه خوب نه درځي ------------------------------------------------------ ۷۸
ذهني فشار په کوچنیانو کې د سر درد لامل کېږی ------------------------------- ۷۹
د انسان کلستروم ------------------------------------------------------------------ ۷۹
ایا د لمر وړانګې او ویټامین ډي ستاسو عمر زیاتوي ---------------------------- ۸۱
د کمښت زیانونه -------------------------------------------------------------------- ۸۱
د ستونزې وسعت --------------------------------------------------------------------- ۸۱
ولې لا دا ستونزه دومره پراخه ده ------------------------------------------------ ۸۱
حل لاره ----------------------------------------------------------------------------- ۸۱
ویټامین ډي او د عمر اوږدوالی ------------------------------------------------------ ۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

دا کتاب مې خپل پلار ته ډالۍ کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# مکرونیوټرینټ(خوړو) بنسټیز ې برخې

موږ او زمونږ په څیر نور ژوندي موجودات په خوړو پایو ځکه چې خواړه بدن ته انرژی او ځواک وربخښي د ودې او تکامل، تعاملاتو او نورو وظایفو د ترسره کولو لپاره اړین دي. دخوړو هغه برخه چې د انرژئ (د پایښت ځواک) جوړونکې توکي دي د ماکرونیوټرنټ (د خوړو غټې اوبنسټیزې برخې) په نوم ځکه یادیږي چې د نورو په پرتله ډیر کاریږي او د کاربوهایډریټ(خواړه او غله جات) ، شحم (غوړ)، او پروتین (غوښې او حبوبات) څخه عبارت دي . خواړه انرژي تولیدوي، د انرژئ اندازه په کالوري اټکل کیږي او کالوري د تودوخې په بڼه ښودل کیږي. یوه کالوري هومره ده چې د یو ګرام اوبو تودوخه د یو سانتی ګراد په اندازه لوړه کړي. د کاربوهایډریټ او پروتین هر ګرام څلور ، د تیلو اوغوړو هر ګرام نهه ګرامه کالوري تولیدولای شي. ماکرو نیوټرنټونه د بدن په ساتنه او د غذا د خوند، رنګ ، فزیکي بڼې اوځرنګوالي په ټاکنه کې هم رغنده رول لري.

## پروټین

### رول او اهمیت :

د بدن د حجرو، مایعاتو، انټي باډي ګانو (میکروب ضد توکو) او د معافیتي سیستم د نورو برخو د جوړولو دنده لري. کله نا کله د انرژئ لپاره هم کار ترې اخیستل کیږي.

## د پروتینونو غذایی منابع

د پروتینو بهترینه منبع عبارت ده د غوښې د ټولو ډولونو څخه، چرګانو غوښه، ماهی، شیده، پنیر، ماسته، د چرګې هګې، لوبیا، سویابین، بادام، چهارمغز، پسته، مغبهترین منبع پروتین ( د کدو خسته، کنجد، افتاب پرست، هندوانه او خټکی). د مور شیدې هم د باکیفیته لوړ پروتین منبع ده.

غله جات لکه وریجې او غنم هم د پروتینو د پام وړه اندازه لري او ځرنګه چې دا د اساسی خوړو(محلی) مهمه برخه تشکیلوی او په ډیره اندازه تری استفاده کیږی ، له همدی امله دا د افغانستان د اکثره خلکو لپاره د پروتینو ډیره اندازه برابروی .

بیلابیل خواړه د امینو اسیدونو متفاوت ترکیبونه لری. په استثنا دسویابینو چې نباتی پروتین ټول ضروری امینو اسیدونه په یو ډول خوړو کې نه لری. په هر حال، کله چې نباتی غذایی مواد په یو ځایې توګه کارول کیږی په هغه حالت کې بدن ته ټول ضروري امینو اسیدونه برابروی.

له همدې کبله مهمه ده چې په یو وخت خوړو کې رنګارنګ غذایی مواد په مخلوطه توګه وخوړل شي. د مثال په ډول: وریجې او لوبیا یا ډوډۍ د عدسو سره یا د لړې غوښې، ماهی، د چرګې هګۍ یا لبنیاتو سره. ځینې افغانې خواړه د ښه ترکیب لرونکی وی، لکه وریجې، ماسته او می (کیچری قروت)؛ کدو او دال نخود (د کدو قورمه)؛ او بانجان د ماستو سره (بانجان قروت). ددې ډول خوړو څخه استفاده کول به د ټولو ضروروي امینو اسیدونو په اخستلو سره د ماشومانو سالمه وده، د نسجونو ساتنه او ترمیم یقیني کړي.

## کاربوهایډریټ

### رول او اهمیت :

قند او نشایسته د بدن د ژوندي پاتې کېدلو، حرکت، تودوخې، د نسجونو د ودې او ترمیم لپاره ضروري انرژي برابروي. ځینې نشایستې او قندونه په بدن کې په وازده بدلیږي او ذخیره کیږي.الیاف د غایطه موادو د نرموالي او د حجم د زیاتوالي سبب کیږي؛ مضر کېمیاوي موادجذبوي؛ له بدنه يې باسي او له همدې امله د هضمي سیستم د روغتیا په برخه کې مرسته کوي. فایبر د غذایي موادو هضم او جذب ورو کوي او د چاغی په مخنیوي کې مرسته کوي.

### منابع :

په مېوو، شاتو (عسلو)، شیدو، وچو مېوو، بوره، دانه بابو، غوښه، او بحري خوړوکې پیدا کیږي.

## شحمیات او غوړي

شحمیات اوغوړي د انرژۍ یوه متراکمه منبع ده. د شحمو ۱ ګرام ۹ کیلوکالورۍ په اندازه انرژی برابروي، چې د کاربوهایدریتونو او پروتینو څخه دوه چنده اضافه انرژی ده.

له همدی امله ، شحم کولای شي غذایی رژیم ته ډیره انرژی ورکړي پرته لدی څخه چې د غذایی رژیم کتله زیاته کړي. دا موضوع د هغو خلکو لپاره مهمه ده چې درانه فزیکی کارونه کوي. دا موضوع د تی رودونکو ماشومانو لپاره چې کوچنې معده لري هم مهمه ده چې نسبت د بدن اندازې ته د فزیکی ودې او رواني پرمختګ لپاره ډیرې انرژۍ او مغذی موادوته اړتیا لري.

ځینې شحمی او غوړې غذاګانې مهم ویټامینونه هم لریی لکه ویټامینA او ویټامینD ، او شحم د نوموړو ویټامینونو جذب اسانوی. له همدی کبله شحم او غوړي او د شحمو نور بیلابیل ډولونه د روغتیا لپاره ضروری دي. همدارنګه د خوړو خوند هم ښه کوی.

## رول او اهميت :

د ودې او روغتيا لپاره د اړتيا وړ شحمي اسيدونه او د انرژي يوه متراکمه زېرمه برابروي؛ د ځينو ويټامينونو لکه ويټامين اې په جذب کې مرسته کوي .

شحمي اسيدونه په دوه اساسي ګروپونو ويشل شويدي: مشبوع شحمي اسيدونه او غير مشبوع شحمي اسيدونه. ټول شحميات او غوړي چې انسانان يې مصرفوی د مشبوع شحمي اسيدونو او غير مشبوع شحمي اسيدونو څخه ترکيب شويدي.

## غير مشبوع شحمي اسيدونه

دا ګروپ د دواړو يعنی څو رابطه يي او يو رابطه يي غير مشبوع شحمي اسيدونو لرونکی دی. (Polyunsaturated Fatty Acids- PUFA) (Monounsaturated Fatty Acids- MUFA). عير مشبوع شحمي اسيدونه د اوميګا ۳او اوميګا ۶ په نامه غير مشبوع شحمي اسيدونو ګروپونه لري، چې بدن د زړه ناروغيو په مقابل کې ساتي.

د اوميګا ۳او اوميګا ۶ ځيني غير مشبوع شحمي اسيدونه د " اساسي شحمي اسيدونو" څخه عبارت دي: دا بايد د خوړو څخه واخستل شي ځکه بدن يې نشي جوړولای. دا شحمي اسيدونه د حجرو، په ځانګړي توګه د مغزی حجرو او عصبی سيستم لپاره ضروري دي.

## د غير مشبوع شحمی اسيدونو غذايی منابع

د غيرمشبوع شحمي اسيدونو درلودونکي خواړه عبارت دي د نباتي غوړيو له اکثرو ډولونو، چهارمغز، بادام، پسته، آفتاب پرست زړي، کونځلو او نور غوړين زړي او خسته باب او د ماهی غوړي.

هغه خواړه چې د اوميګا ۳ شحمي اسيد لري هغه عبارت دي له غوړ لرونکو بحري کبانو، ځينو زړو او حبوباتو څخه لکه د کتان تخم او سويا. د غير مشبوع شحمي اسيدونو څخه غنی خواړو ټاکل د بهترينو صحی خوراکونو کی شميرل کيږي، د مشبوع شحمی اسيدونو يا انتقالی شحمی اسيدونو(Trans Fatty Acids) څخه د غنی غذايی موادو ډير زيات خوړل د زړه د ناروغيو خطر زياتولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## مشبوع شحمی اسیدونه

دا شحمي اسیدونه ډیر زیات صحی ارزښت لري ځکه د مشبوع شحمیاتو زیاته اندازه اخستل د ارتیروسکلیروزیس ( د شریانونو سختتوالی او تنګیدل ¸چې د زړه د سکتې او حملو لامل دی) د رامنځته کیدلو او د اکلیلي رګونو د ناروغیو د فکتورونو څخه شمیرل کیږی. له همدی امله دا شحمیات باید په غذایی رژیم کې محدود کړای شي.

## د مشبوع شحمی اسیدونو غذایی منابع

د وچې د حیواناتو شحم لکه، د پسه او غوا شحم،کوچ او غوړی ( دکوچو غوړي) نسبت نباتی غوړو ته ډیر مشبوع شحمی اسیدونه لري.

## احتیاط:

د زیاتو غوړو خوړل روغتیا ته ښه ندي. هغه څوک چې فزیکي کار نکوي یا یې کم کوي، باید د غوړو د خوراک اندازه کمه کړي. هغه غوړي چې سخت او کلک وي، خوړل یې بدن ته ضرر لري. پکار ده چې د جوارو، زیتونو او تخونو مایع غوړي استعمال شي.که د ماهي غوړي او اومیګا-۳اخیستلی شئ، د ماشومانو د ذهن او دماغ د پیاوړي کېدو لپاره ډیر ګټور دي.

## اوبه

## رول او اهمیت :

په بدن کې د کېمیاوي پروسو د تر سره کېدو، د بدن د الکترولیتونو د توازن، او د مایعاتو (اوښکو، خولو، او متیازو) د جوړولو لپاره ضرور دي .

## منابع :

له پاکو چینو، پاکو نلونو او پاکو څاګانو څخه باید واخیستل شي، او یا هم لومړی فلتراو یا جوش او تر سړېدو وروسته وڅښل شي. په کلورینو هم پاکیدای شي.

# ویټامینونه

په بدن کي ویټامینونه ټول هغه عضوي جوړښتونه دي چي نه یوازي دغړو دترمیم اوانرژۍ لپاره په کارراځي، بلکي دنورومهیمو سیستمونو،اوارګانونو دجوړښت او ودي لپاره هم پکاریږي

دمثال په توګه ؛دهضم په سیستم کي دخوراکي توکوادلون بدلون چي ترډیره حده په اسانۍ سره نه شي حل کیدای په حل کولو کي یي دویټامینونو رول زیات دی

په دي سیستم کي دخوراکي توکودهضم په پروسه اوبدلون کي دویټامینونوترټولوستره وظیفه دقندونو،پروټینونو،اومعدني موادوترتیبول ا په دروسته توګه په کار اچول دي

یعني دقندونو،پروټینونو،اومعدني موادودادلون بدلون دنده چي په صحي توګه دانرژي سرچینه وګرزي په غاړه لري

او همدارنګه په بدن کي دمعافیت سیستم ځواکمن اوفعال ساتي دویني دکرویاتو،دهډوکودجوړښت ،اودغاښونودجوړساتلولپاره مهم جوړښتونه دي. چي نژدي زیاته برخه یي له خوراکي توکوڅخه لاس ته راځي

ټول ویټامینونه په بدن کي دحل کیدونکو جوړښتونوپه حیث په دوو عمده او کارنده ګروپونوویشل شوي دي چي اول ګروپ یي دliphopilپه نوم اودوهم ګروپ یي د hydrophilپه نامه یادیږي

. یاپه بل عبارت ویلای شو چي په بدن کي ټول ویټامینونه په دوو عمده اوکارنده ګروپونوباندي ترتیب شوي دي چي اوله یي برخه یي په اوبوکي حل کیدونکي لکه ویټامین سي ،ویټامین بي ،اوددي ویټامینونه دي

اودوهمه برخه یي هغه ویټامینونه دي چي په غوړوکي دحل کیدووړدي لکه دA’’B:EاودKاړوندویټامینونه دي

لکه څرنګه چي ورته اشاره وشوه اوله برخه ویټامینونه په اوبو اودوهمه برخه ویټامینونه دځیګرتراغیزلاندي په غوړوکي حل او جذب کیږي

په اي ،ډي ،اې ،کي ، ویټامینونوسربیرهB12ویټامین هم په ځیګرکي ذخیره کیږي چي مهمه دنده یي دعصبي سیسم جوړساتل اوسلامتیا ده

په ځیګرکي دویټامینونو دجذب فیصدي ته په کتلوسره ویلای شوچي په بدن کي ځیګردویټامینونوترټولولویه زیرمه ده

په ځیګرکي دویټامینونوله ډلي څخه ویټامینB6 اوځیني نورددفاعي سیستم دتقویي لپاره ضروري ویټامینونه دي ویټامینونه په ټولیزه توګه دیولړتجزیو اوپروسوپه کاراوچونه اوسرته رسونه باندي لاس ته راځي آن تردي چي کله وخت داسي هم کیدای شي چي کله وخت دیولړپروسو اوتجزیو په اساس له یوه ویټامین څخه بل ویټامین لاس ته راوړل شي

دبیلګي په توګه ،استثنایي ویټامینونه دډي ویټامین جوړوي یاني کله چي انسان دلمرړنا ته کښیني او دلمرشعاوي یي بدن ته دا خلي شي په دي حالت کي بدن ویټامین ډي جوړوي

د لمر وړانګو ته لږ مخامخ کیدل د ویټامین ډي کموالي ته د انسان تمایل زیاتوي . دا کموالی بیا د هډوکو د معدني موادو د خرابي کیږي چې په ماشومانو کې د rickets د ناروغی سبب کیږي او په لویانو کې بیا د هډوکو د نرمیدو یا osteomalacia oste )) په لاتین کې د هډوکي او ملیشیا د نرمیدلوپه معني ده

ټولي هغه ناروغۍ چي په بدن کي دویټامینونو دکمښت له کبله رامنځ ته کیږي دشلمي پیړۍ په لومړیوکي دطبعي علومودپوهانواوڅیړونکو لخوا وپیژندلي شوي.

## ویټامین دوه ډوله دی:

اول : هغه ویټامین دی چی په اوبو کی د وېلی کیدو قابلیت لری

چی هغه ویټامن B کملکس او ویټامین C دی چی په جسم کی نه ساتل کیږی جسم دغذا څخه دضرورت په اندازه جذبوی اواو نور دجسم تر ضرورت زیات دبولو سره دجسم څخه خارجیږی

دوهم : هغه ویټامین دی چی په تیلو او غوړو کی دویلی کیدوخاصیت لری لکه ویټامېن A و D و E و K دي چې دا ډول ویـټامېن جسم دخپل ضرورت په اندازه جذبوی او باقی څه حیصه په جسم کی ساتل کیږی او څه حیصه دبولو سره دبدن څخه خارجیږی.

## په بدن کې د ویټامینونو د کموالي نښې

د عضلاتو، د ګوتو د بندونو او پښو درد:

پورته نښې په وجود کې د ویټامینونو د کموالي نښې دي. هغه غذاوې وخورئ چې کلسیم، پټاشیم او مګنیزیم لري. هغه کسان چې ډېر ورزش کوي له دې حالت سره مخ کېږي، خو دوی ته توصیه کېږي، چې باید ګیلاس، منې، انګور، کیلې او سبزیجات ډېر وخوري.

## د شونډو چاودېدل:

که مو شونډې وچاودېدې او یا یې څنګونه زخمي شول، نو بدن مو د بي ویټامین له کموالي سره مخ دی. کېدای شي وجود مو د بي دوه، بي درې او بي دولس ویټامینونو له کمي سره هم مخ وي.

دا ستونزه عموماً په هغه کسانو کې لیدل کېږي چې اکثریت وخت سبزیجات خوري او یا مناسب غذایي رژیم نه لري . ددې ستونزې د له منځه وړو لپاره حبوبات او بادام وخورئ.

## د زیاتې ستړیا احساس:

که تېره شپه مو هم کافي خوب کړی وي، خو بیا هم د ورځې په اوږدو کې له زیاتې ستړیا کړېږئ، نو وجود مو د بي دوه ویټامین له کمي سره مخ دی. ددې ستونزې د لمنځه وړو لپاره لبنیات، د چرګې هګۍ او غوښه وخورئ.

## د پښو او لاسونو ویدېدل:

د کار پرمهال مو اکثریت وخت پښې او لاسونه ویدیږي او د ګوتو په برخه کې د سوزش احساس کوئ، نو دا ستونزه د بي دولس او بي شپږ ویټامینونو د کموالي له وجې ده. ددې ستونزې د حل لپاره ګازې او لبلبو وخورئ. هګۍ هم په غذایي مهالوېش کې ورزیاتې کړئ.

## په ملا، ورنونو او اوږو باندې د زخمونو نښې نښانې:

که چېرې مو د وجود په پورته مشخصو ځایونو دغسې نښې احساس کړې، نو ستاسو وجود د ویټامین اې او ډي له کموالي سره مخ دی. ددې ستونزې د حل لپاره پاڼه لرونکي سبزیجات وخورئ او هغه غذاوې مهالوېش کې ورزیاتې کړئ، چې ویټامین اې لري. د ماهي غوښه هم ښه ده، خو د ورځې لس پنځلس دقیق لمر ته هم وګرځئ.

# خفګان:

په خفګان د اخته کېدو بېلابېل عوامل شته دي. یو له دغو څخه یې د ډي ویټامین کموالی دی. تازه څېړنه په ډاګه کوي، هغوی چې د ژمي په اوږدو کې د ډي ویټامین ترلاسه کوي، نو د هغوی په پرتله خوښ او ښه روحیه لري، چې بدن یې د ډي ویټامین په کموالي اخته وي.

اما تاسو باید پدې فکر کې ونه اوسئ چې د کال په کومه برخه کې یاستئ، خو بدن مو باید د ډي ویټامین پوره کړي. د لمر له وړانګو د ډي ویټامین ترلاسه کول او هغه خواړه خوړل چې د ډي ویټامین لري له خفګان څخه مو ژغورلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ویښتانو توئېدل:

د ویښتانو توئېدل هم ګڼ عوامل لري، خو یو له دغو څخه یې د بیوتین (د ویټامینونو له کورنۍ څخه دی) کموالی بلل کېږي. په ځانګړي ډول هغه ورزشکاران چې خامې هګۍ خوري د بیوتینو له کموالي سره مخ کېږي او ویښتان یې توئیږي.

په خامه هګۍ کې د (آویدین) په نوم یوه ماده شته، چې د بیوتین موادو د جذب مخه نیسي. په همدې اساس ورزشکارانو ته توصیه کېږي، چې د خامو هګیو له خوړلو ډډه وکړي. که چېرې ددې عادت پرېښودل ورته ستونزمن وي، نو بیا دې په غذایي مهالوېش کې سبزیجات او میوه هم ورزیاته کړي.

## د سترګو د دید کمزورتیا:

که چېرې د شپې لخوا مو د سترګو دید بیخي کمزوری کېږي، نو بیا مو وجود د ویټامین اې له کموالي سره مخ دی. تاسو ته به معلومه وي چې ګازرې ددې ستونزې د حل لپاره تر ټولو ښه او اسانه نسخه ده.

## بې اشتهایي:

د بې اشتهایی ګڼ عوامل شته، خو یو له دغو څخه یې د بیوتین موادو کموالی دی. که له دې ستونزې سره مخ یاست، نو حل لاره یې داده چې بادام، هګۍ او حبوبات وخورئ.

## زړه بدوالی او د ګیډې درد:

که چېرې له داسې حالت سره مخ شوئ، چې ګیډې مو درد کاوه او یا په دوامداره ډول زړه مو بد، بد کېده، نو پوه شئ چې وجود مو د بي دولس ویټامین له کموالي سره مخ دی.

ددې ستونزې د حل لپاره جیګر، ماهي او هغه غذاوې وخورئ چې د بي دولس ویټامین لري.

## له ژامو د وینې راتلل او هغه زخمونه چې نه ښه کېږي:

که چېرې مو له ژامو وینه راتلله او یا مو په خوله کې داسې زخم راڅرګند شو، چې د ښه کېدو نه و، نو پوه شئ چې وجود مو د سي ویټامین له کموالي سره مخ دی.

ددې ستونزې د حل لپاره مالتې وخورئ او اوس یې موسم هم دی، خو پر دې سربېره هغه میوې او غذاوې هم مه هېروئ چې د سي ویټامین لري لکه دُلمه یې شنه مرچ او کیوي.

## سر درد او ګنګسوالی:

سر درد او ګنګسوالی د بي درې ویټامین کموالي نښه ده. هغه ناروغان چې دوامداره اسهال او یا (د عقل زوال) له ناروغۍ سره مخ وي، نو د بي درې ویټامین د کموالي نښه ده. د غوايي او خوسکي جیګر، د چرګ غوښه او ماهیان د بي درې ویټامینونو غوره سرچینې دي

## . اسهال:

که په دوامداره ډول په اسهال ناروغۍ اخته شوئ، نو دا ښیي چې وجود مو د بي نهه ویټامین په کموالي اخته دی. ددې ستونزې د حل لپاره باید د چرګ جیګر وخورئ. حبوبات او د غوايي یا خوسکي جیګر هم خوړلی شئ، خو پدې شرط چې ښه پوخ شوی وي.

## بې خوبي:

که کله داسې حالت دربانډې راغی چې بیخي خوب نه وړئ، نو پوه شئ چې وجود مو د بي پنځه له کموالي سره مخ دی. ددې ستونزې اصلي عامل په بازار کې د پخوو شویو تیارو خوړو خوراک دی. که بې خوبي مو دوامداره شي، نو د پوستکي ښکلا ته مو هم زیان اړوي.

د پسه جیګر یو له هغو خوراکونو دی چې ددې ستونزې په حل کې درسره مرسته کولای شي.

## د پوستکي وچوالی:

د پوستکي د وچوالي عوامل د اې او بي ویټامینونو کموالی دی. ددې ستونزې د حل لپاره سبزیجات، غله جات او د ماهي غوښه وخورئ

# د آ ویټامین رول په بدن کی

ویتامین ای یو له هغی ویتامینونو څخه دی چی په وعزده کی حل کیږی. ویتامین ای په قرمز او ناریجی رنګه میوو کی پیده کیږی. ویتامین ای یو له ډیرو مهم ویتامینونو څخه دی چی د بدن ډیر حیاتی فعالیتونه په غړه لری. هغی جملی نه:د سترګو په دید اساسی نقش لری او همدارنګه د بدن په رشد هم موثره دی.

شب کوری ورکوی بینایی قوه زیاده وی او بدن مقاومت ریاده وی د مریض په مقابل کی.د بدن غړی سالم ساتی. وښتانه غټوی او د بدن عدوکی قوی کوی.

# په کوم موادو کی آ ویټامین پیداکیږی

ویتامین ای په ډیره کچه په هګی او په ځګر کی.همدارنکه په شیدیو کی د چرګ په غوښه کی او په هغه سبزیجاتو کی چی تیره شین رنګ لری، په هغه میوجاتو کی چی نارنجی رنګ لکه مالته، ماهی د هکی زیاړ.دا سبریجات د نورو په نسبت ډیر ویتامین آ لری شاهی ،کاهو ، کدو ،جعفری. و په میوجاتو کی د نورو په نسبت په دی میوجاتو ویتامین آ ډیر دی .

# د ویتامین ای کم والی په بدن کی

هر کله چی ویتامین ای په بدن کی کم شی بدن صحی رشد نه کوی د سترګو دید یی کمیږی او د سترګو لاندی حلقی پیده کیږی. د ویتامین آ کموالی په بدن د دی سبب کیږی چی شب کوری په مراض اخته شی او که چیری دا مراض ډیر شی کیدای چی سړی نابینا شی.
ویتامین آ د زړه په سالمه فعالیت او د وینی فشار سالم تنظیم نقش لری .

# د ویټامین ای خاصیت

یو له ډیر مهمو ویټامینونو څخه دی او د بدن په فعالیتونو کی رول لری . ویټامین ای یو له هغی جملی څخه دی چی د بدن په رشد کی موثر دی.

ویټامین ای د سترګو دید کی موثر دی

ویټامین آ د بدن مقاومت زیاده وی او د بدن سلامت ساتی.

# د بی ۱ ویټامین رول په بدن کی

ویټامین بی د هغه کسانو د پاره ډیر موثر دي چی عصبی یا پریشان وی . د دماغو تاقت ډیره وی . د هضمی سره مرسته کوی . زړه سلامت ساتی.

# په کوم موادو کی بی ۱ویټامین پیداکیږی

عبارت دی له : ورچی ، نخود ، جوار ، لوبیا ،چارمغز ، لبنیات ، غوښه ،

کچالو، اینه، سبوڼی یاخمیره ، شیدې ، په سبوس لرونکو توکو کي موجود دي.

# په لاندني موارد‌و کي دغه ویټامین ښه آغېزه لري

د بدن وده ښه کوي، د اعصابو دنده سمه وي، ذهني اوفکر توان لوړه وي، د شامیاتو مصرف منظمه وي.

# د ویټامین بی ۱ کموالی په بدن کی

عبارت دی له : سټریټوب احساس ، کمه اشتها ، عصبی کیدل ، بد هاضمه دا ټول د ویټامین بی د کموالی علایم دی . که چیرته د ویټامین بی کموالی په بدن کی دوام پیداکړی نو په پښو کی درد ، دروندوالی ، د پښو ګراموالی او د لاس ګوتو بی حسه کیدل احساس کیږی.

په دی مرحله کی که چیرته د دی ویټامین کموالی ته پاملرانه و نه شی ، سړی په رنګه رنګ بیماری اخته ګیږی او که چیرته د دی بیماری علاج و نه شی نو مرګ ته رسیږی.

د دی بیماری علایم : د اشتها کموالی ، صحی په لاره نه تلل ، د زړه بیماری ، هر څه دوه ښکاریدل ، د حافظی کموالی د دی بیماری علایم دی .

# د بی ۲ ویټامین رول په بدن کی

د بدن په رشد کی مرسته کوی. د پوستکی او د نوکانو په سلامتی کی مرسته کوی .

د خولی ، ژبی ، او د شوندو زخمونو کی موثر دی . د سترګو په دید کی موثر دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د بی ۲ ویټامین کموالی په بدن کی

د معدی او رودی که عوارض پیدا شی د بی۲ ویټامین کموالی دی . د شونډو زخمی کیدل ، د سترګو ضعیف والی یعنی کله چی لمر ته ګوری سترګی بریښېږی دا د دی ویټامین کموالی علایم دی.

# په کوم موادو کی بی ۲ ویټامین پیداکیږی

عبارت له د دی : بادام ، غوښه ، غنم ، شیدی ، مستی ، جرګ یا د ماهی غوښه ،جګر ، سبزیجات.

# متوسطه ورځنۍ اړتیا :

لویانو ته د ورځي ۱۰۰ ملیګرامه او شیدې ورکونکو ښځو ته ۱۵۰ ملیګرامه ته اړتیا سته .

# د ویټامین سی رول په بدن کی:

ویټامین سی د وینه په جریان کی قرار لری او د مضر موادو څخه چی بدن ته ضرر راځوی له خنثی کوی . دا ویټامین د لمر مضر شعه څخه پوستکی خافظت کوی .

د هورمون په جوړولو کی مرسته کوی.

# د ویټامین سی کموالی په بدن کی

هر نفر ته په ورځ کی ۶۰ میلی ګرام توصیه شوی دی.

که چیرته د تر یو میاشت پوری نفر ذکر شوی ویټامین لاسه را نه وړی په رانګه رانګ بیمارۍ به اخته شي.

# په کوم موادو کی ویټامین سی پیداکیږی

لکه: په توتانو کي، په شنو سابو کي، کچالوو کي، کیوي کي، لیموو کي، په ګرمّ کي، په اینه کي، غټ مرچک (دولمه) کي، شتون لري

(c) ketabton.com: The Digital Library


## په لاندنيو مواردو کي ښه آغېزمن دي :

دفاعي سستم د بدن لوړه وي، په بدن کي نسجونه قوي کوي، د «خَوږ» وجوړېدو ته چټکتيا ورکوي، دزړېدو پروسه راټيټه وي

## ويټامين ډی په کښته توکو کي شتون لري :

لکه: دهګۍ په ژړکي، په مايانو کي، په اينې کي، دکب په غوړوکي، دشيدو په محصولاتو کي، شتون لري.

## په لاندني مواردو کي يې اغېزه ډېره ښه ده :

لکه: قوي کول د هډوکو، دغاښوقوي کېده، په بدن کي د کلسيومو دجوړښت سره مرسته کول. د ويټامين اغېزه په بدن کي پياوړې کوي.

## متوسطه ورځنې اړتيا :

لويانو او ماشومانو ته د ورځې ۵ ميو ګرامه زړو ته ۱۰ ميوګرامه اړتيا ليدل کيږي.

## د ډی ويټامين کموالی په بدن کې.

ددی ويټامين د کموالی پ بدن کی سخت درد د پښو او ملا کی پيداکيږی.

## ويټامين يی په کښته شيانو کي شتون لري :

پاڼي لرونکي سابوو کي، هګيوکي،په اينې کي، په نباتي کوچو کي، دغنمو په غوړوکي او په نورو نباتي غوړو کي شتون لري.

## لاندنۍ مثبتي آغېزي لري :

لکه: دبدن دپوټکي زړتيا کراره وي ياني عمر يې ډېره وي، اودغسي د نور بدن دغړو زړتيا کراره وي، د ژر سترړيا مخنيوی کوي، دپوندېو دغړو د شخېدو مخنيوی کوي.

# د ویټامین کا کموالی په بدن کی

ددی ویټامین کموالی په بدن کی ددی سبب کیږی د گرمې په موسم کی د پوزی نه وینه ځی

# متوسطه ورځنی اړتیا :

ښځي ته ۱۲ ملیگرامه په ورځ کي،او کومه ښځه چی تی ورکوي ۱۷ ملیگرام

# په لاندني مواردو کي يې اغېزه ډېره ښه ده:

ددی ویټامین یوه مهمه فایده دا ده چې خونریزی نه مخنیوی کوی.

# منرالونه

منرال کیمیاوی مواد دي چې په خوړو کې موجود دي او د بدن د ودې او پرمختګ لپاره ډيرې لږې اندازې ته اړتیا لري. ځینې مهم منرالونه د کلسیم، اوسپنې ، ایودین، فلورین او زینک څخه عبارت دي.

# اوسپنه

د هیموگلوبین د جوړولو لپاره ضرور ده. (هیمو گلوبین د سرو کرویاتو هغه پروټین دی چې انساجو ته اکسیجن انتقالوي). د کم خونۍ مخنیوی کوي.

د بدن بیلابیلو برخو ته د اکسیجن د انتقال لپاره عضویت د اړتیا مطابق اوسپنې ته اړتیا لري. د اوسپنې کمښت د کمخونۍ لامل گرځي.

د اوسپنې د کمښت کمخونید بیلابیلو لاملونو له کبله منځته راتلای شي. په غذایی رژیم کی د اوسپنې کمښت، بدن نشی کولای په مناسبه توگه اوسپنه جذب کړي، یا د اندازې د زیاتې وینې بهیدل.

د مثال په توگه hookworm یا د گیډې چنجی، چې په ډیرو هیوادونو کې معمول دي او د وینې د ضایع کیدلو لامل گرځي او په نتیجه کې کمخونی رامنځته کوی.هغه میرمنې چې میاشتنې عادت یې ډیر زیات وي ډیره اندازه اوسپنه د لاسه ورکوی او د اوسپنې د کمښت په خطر کې واقع کیږي.

د امیندوارۍ د عمر میرمنې او شیده رودونکی ماشومان اوسپنې ته ډیره اړتیا لري. د اوسپنې د کمښت کمخونۍ نښې : د ستړتیا او سستیوالی د احساس، د کار د قوی کموالی، د ښونځې د

درسونو د وړتیا کموالی، د ماشومتوب په مرحله کې ورو روانی وده او په میکروبونو باندی د اخته کیدو د وړتیا زیاتوالی څخه عبارت دي.

## د اوسپنې غذایی منابع

په ځیګر، شنو سبو لکه پالکو، دالو او لوبیاګانو کې شته. امیندوارې میندې یې باید له فولیک اسید سره یو ځاي ګولی هم واخلي.

د هیم اوسپنې لرونکی غذایی منابع د اوسپنې د سویې زیاتولو یا ساتلو لپاره د بهترینو منابعو څخه شمیرل کیږي. دا ډول خواړه د عضوی غوښو، د غوا غوښه، د اوزې غوښه ، د چرګې غوښه او د ماهي غوښې څخه عبارت دي.

هغه اوسپنه چې هیم نه لري(non-haem iron) لکه چای او قهوه د اوسپنې د جذب څخه مخنیوی کوي، له همدې امله باید په دوه ساعتونو کې د اوسپنې لرونکی خوړو څخه مخکیاو وروسته د هغې د څکلو څخه ډډه وشي. د اوسپنې د جذب د خوړو د بیلابیلو ګروپونو د ترکیب په اخستلو لوړ شي، د مثال په توګه، د نباتی خوړو سره د حیوانی خوړو په ځانګړی ډول د غوښی اضافه کول ، او یا د ویټامین سی څخه د غنی خوړو په علاوه کولو سره د اوسپنې لرونکو خوړو اخستل.

## آیو دین

د جنین (د مور په نس کې ماشوم) د عصبي سیستم او دماغ د ودې، همدا راز د ذهني پسمانی، ټیټ قد، مړو زیږونونو، جاغور او نورو ناروغیو د مخنیوي لپاره ضروري دی.

د تایروید(درقیه) غدې د سم فعالیت او د ماشومانو د ودې او پرمختګ لپاره ایودین ضروری دی. د ایودین کمښت د نړۍ په کچه د وقایی وړ روانی تاخر اساسی لامل دي. د ایودین کمښت په امیندوارو میرمنو کې د ولادی نقیصو، د جنین په وده کې وروسته والی او همدارنګه د مړه جنین د سقط او زیږون لامل کیدای شي. د تایراید غدې غټوالی چې د جاغور په نامه یادیږي، د ایودین د لیدلو وړ نښو څخه ده.

## منابع :

په بحري غذاگانو او ایوډین لرونکي مالګه کې شته.

# جست یا زنک

## رول او اهمیت :

د ودې او نارمل انکشاف، تولد او تناسل او معافیتي سیستم د سم فعالیت او د نس ناستي او تنفسي ناروغیو د درملنې لپاره ډېر حیاتي دی .

## منابع :

په کبانو، غوښه، د شنو پاڼو لرونکو سبو او حبوباتو کې شته.

د نسناستې په درملنه کې د زنک اهمیت په وروستیو وختونو کې راڅرګند شوی دی چې ډېرې ښې اغېزې لري.

د اسهال پېښې کموي، د ناروغۍ موده یې رالنډوي، د ناروغۍ د بیا راګرځېدو مخه نیسي، په روغتون کې د بستر کېدو ضرورت کموي او د اضافي درملو کارولو ته اړتیا له منځه وړي.

زنک اوس د تنفسي ناروغیو لکه سینه بغل په درملنه کې هم استعمالیږي.

# د وزن د زیاتولو ښې لارې:

که غواړئ چې وزن مو ډیر شي، لومړئ خپل وزن معلوم کړئ او بیا هغه پوند ته تبدیل کړئ بیا ضرب د شلو کړئ هره اندازه چې شوه ، دغه اندازه کالري به خوړئ.

دوم د هر کیلو ګرام په سر یو ګرام پروتین دي، نو چې ستاسو وزن څومره وي نو په دغه اندازه پروتین به د ورځې خوړئ.

## دوهمه طریقه:

که لومړئ طریقه نشئ عملي کولای ، نو دا دوهمه طریقه ډیره اسانه طریقه ، دا هر څوک عملي کوئ شي.

هره ورځ باید تاسو پنځ یا شپږ وخته خوارک وکړئ، او کوشش وکړئ چې په خپل خوارک کې مو پروتیني خوارکونه شامل کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## یاده ونه:

د دی خورکونو سره باید تاسو فزیکي فعالیتو هم ولری. ددی لپاره چې روغ صحت ولرو او د شکر، د وینی غوړ، د زړه خفګان، او داسی نورو ناروغیو څخه په امان کې شو.

## د وزن د کمولو بڼې لارې:

د وزن د کمولو لپاره دا یو ډیره غوړه طریقه ده چې نه ورزش کول غواړي او نه پرخیز.

## لازم مواد :

دو لیمو، یو بادرنګ، ادرک، یوه کاشوقه شهد، دو د کریلی پانی.

## د استعمال طریقه

لومړئ یو جک اوبه راوخلئ اوبیا لیمو په منځ نیم کړئ او اوبو ته یی ورواچوئ ، بیا ادرک ټوټه ټوټه کړئ او اوبو ته یی ورواچوئ، بیا بادرنګ ټوټه ټوټه کړئ او اوبو ته ورواچوئ، بیا د کریلی پانی ورواچوي، او په اخیر کې یو کاشوقه شهد ورواچوئ ، او ۲۴ ساعتونه لپاره پریږدئ ، او کله چې ۲۴ ساعته پوره شول بیا یو ګلاس سهار او یو ګلاس د شپې مخکی د ویده کیدو نه وڅښئ ،په یوه میاشت کې تاسو ته اندازه کیږي چې څرمره کمه شوی یی.

## دوهمه طریقه

لومړئ به د ادرکو اوبه وباسی بیا به لیمو اوبه وباسی او دواړه به په یو جک ګرمو کې واچوئ ، او سهار او ماښام د ویدو کیدو نه وڅښئ .

## دریمه طریقه

دا طریقه ډیره یوه اسانه طریقه ، هر نفر کولائ شي چې دا طریقه عملي کړي.

سهار کله چې د خوب نه راپاڅیدی نیم لیټر اوبه به وڅښې ،بیا به ۴۰ دقیقې انتظار وکړی ، او د هغې نه بعد به د سهار چای وڅښې ،

ماسپخین ۴۰ دقیقې مخکې د ډوډئ نه باید چې نیم لیټر اوبه وڅښې ، او همدارنګه د شپې.

# د وزن د کمولو ښې لارې:

د وجود د وزن کمول د زیاتره کسانو لپاره یوه ستونزه بلل کیږي. چې د وزن د کمولو لپاره بېلابېلې لارې هم شته. خو په ورځنۍ توګه د خپلو خوړو او خوراک له کمولو پرته هم کولای شو چې په آسانۍ سره د بدن وزن کم کړو او لوږه به نه زغمو.

تاسو کولای شئ چې په خپلو ورځینو خوړو کې ځینې دا شامل کړئ:

## مستې:

مستې هغه غني محصولات دي چې له شیدو ترلاسه کیږي. دا خواړه سپک او ډېر کلسیم لري. چې په وجود کې د چټک جذبېدلو سر بېره د وجود د وزن د کمېدو لامل هم کیږي

## د چرګو هګۍ:

که غواړئ په خپله سهارنۍ کې سپک او خوندور خواړه ولري ښه به دا وي چې د غوړینو کیک او کلچو پر ځای د چرګو هګۍ وخورئ. څېړنې ښیي چې که په سهارنۍ کې هګۍ وخوړل شي نو ژر لوږه نه راځي او د سهارنۍ او غرمنۍ تر منځ واټن اوږدېدای شي.

## پسته:

ښایي داسې فکر وکړئ چې مغز لرونکي خواړه د چاغېدو لامل کیږي، خو پسته له دې ډلې بهر ده. د پستې په شان زیاتره مغز لرونکي خواړه فیبر او پروتین لري چې د مړېدو لامل کیږي، چې د بدن د اړتیاو پر پوره کولو سربېره د بې اشتهایی لامل هم کیږي

## مرخیړي:

مرخیړي د غوښې پر ځای خوندور او لږ کالورۍ لرونکي خواړه دي. چې کولای شي د وزن پر کمولو ښې اغېزې ولري. که په هر ځل خوړو کې د غوښې پر ځای مرخیړي وخوړل شي نو شاوخوا ۴۲۰ اضافي کالوري به مو له بدنه لیرې کړې وي.

# د ورزش فزیولوژي

د انسان وجود د ډېرو کمو داسې فشارونو سره مخامخ دی چې د درندو ورزشي فشارونو سره ورته والی لري. په حقیقت کې که چېرې د دروند ورزش ځینې طریقې د یو څه وخت لپاره ادامه ومومي نو د انسان لپاره وژونکي دي.

نو له دې امله د ورزش فزیولوژي یو ډېر مهم ټکی دی چې باید ورباندې خبرې وشي. د مثال په توګه که چېرې یو کس لوړه تبه ولري نو په دې سلنه زیاتوالی مومي. په داسې حال کې ۱۰۰صورت کې د هغې میتابولیزم د عادي حالت نه که چېرې یو کس د ماراتوان ( تن په تن) لوبه کې ګډون وکړي نو په دې صورت کې د هغې سلنه زیاتوالی مومي. ۲۰۰۰میتابولیزم د ښځینه او نارینه ورزش کوونکو د ورزش په فزیولوژۍ کې یو شمیر توپیرونه وجود لري چې باید په نظر کې ونیول شي.

دغه توپیرونه د ځینو لاملونو پورې اړه لري لکه د بدن لویوالی، د بدن جوړښت او د نارینه هورمون یا ټستیسترون موجودیت او یا نه موجودیت، د ښځینه جنسي هورمون یا ایستروجن هم د ورزش د فزیولوژۍ په بحثونو کې د اهمیت وړ دی خو د ټستیسترون په نسبت ډېرې اغیزې نه لري ځکه چې ټستسټرون فوق العاده انابولیکې اغیزې لري چې استروجن هغه نه لري.

عضلي فعالیت د ورزش د فریولوژۍ په بحثونو کې د اهمیت وړ دی چې په هغې کې قوت او عضلي پایښت ډېر مهم دي. عضلي قوت د هغې د اندازې نه ټاکل کیږي او سړي چې د ټستسټرون هورمون افرازوي د عضلي تمرین په نتیجه کې خپل ځان ته وده ورکوي او د ډېر قوت لرونکي وي. دعضلي تقلصي قدرت د عضلی توانایي څخه توپیر لري ځکه چې عضلي توانایي د عضلی د کار اندازه ده چې د وخت په واحد کې اجرا کیږي.

د عضلی د اندازه کولو وروستی واحد د عضلي تحمل څخه عبارت دی. دغه واحد د عضلي په تغذیوي حمایت پورې اړه لري او د ګلایکوجن په اندازې پورې اړه لري کوم چې دتمرین څخه وړاندې په عضلاتو کې زیرمه شوی دی. ۲۸

ورزش او روغتیا په ورزش کې درې عضلي میتابولیک سیستمونه اهمیت لري چې عبارت دي له: 1 The Phosphocreatine-creatine system. د فاسفوکراتین سیستم 2

. The glycogen-lactic acid system . د لکتیک اسید د ګلایکوجن سیستم 3 The . aerobic systemهوازی یا ایروبیک سیستم په لومړي سیستم کې فاسفوکرایتین په دوو ایونونو کرایتین او فاسفیت تجزیه کیږي او د انرژۍ د تولید سبب کیږي. په دوهم سیستم کې

ګلایکوجن چې په عضلاتو کې زیرمه شوی دی په ګلوکوز بدلیږي او وروسته د انرژئ د تولید لپاره استعمالیږي.

دریم سیستم د خوړو د تحمض یا اکسیدیشن څخه عبارت دی چې په مایتوکاندریا کې صورت نیسي او د انرژئ د تولید سبب کیږي. د عضلي فعالیت په وخت کې هغه غذایي مواد چې استفاده ترې کیږي کاربوهایدریت دي خو کله چې د ګلایکوجن زیرمې مصرفیږي نو بدن د شحم څخه د انرژئ د سر چینې په توګه ګټه اخلي.

په ټولیزه توګه ویلای شو چې د ورزش په جریان کې د اکسیجن لګښت ډیر زیاتیږي، د وینې جریان زیاتیږي او دا چې ټوله ازاده شوې انرژي چې د خوړو څخه په لاس راځي په تودوخه بدلیږي نو پر دې بنسټ د بدن تودوخه هم زیاتیږي. څرنګه چې د ورزش په وخت کې مایعات او مالګې هم په کافي اندازه ضایع کیږي نو لازمه ده چې دا مواد هم بیرته عوض شي یعنی وخوړل شي. څیړنې ښیي چې هغه کسان چې خپله روغتیا ساتي، ورزش کوي او خپل وزن کنټرولوي، د عمر کلنی په منځ کې. څیړنې ښیي ۷۰ او ۵۰کلونه یې زیاتیږي او اوږد عمر لري په ځانګړي ډول د چې په روغو کسانو کې د مړینې اندازه د هغو کسانو په پرتله چې ورزش نه کوي درې برابره کمه دي. خو پوښتنه داده چې ولې ورزش عمر اوږدوي؟ دوه لوی علتونه موجود دي: لومړی دا چې د وزن کنټرول او تندرستي د زړه وعایي ناروغۍ راکموي چې دا د لاندې فعالیتونو په نتیجه کې منځته راځي. په منځنی ډول د وینې فشار ښکته ساتل.

ورزش او روغتیا 2 Low density. زیاتول او دHigh density lipoprotein د وینې د کلسټرول کمول ، د کمول lipoproteinاو څرنګه چې مخکې یادونه وشوه چې دا ټول یوځای فعالیت کوي او دزړه د حملو او ستروک د شمیر د کموالی سبب کیږي.

دوهمه داچې روغ شخص د هغه شخص په نسبت چې روغ نه وي او ورزش نه کوي ډیرې زیرمې لري او کله چې ناروغ شي نو له هغو څخه استفاده کوي. نو ددغه دوه دلیلونو پر بنسټ کولای شو چې ووایو چې ورزش نه یواځې د روغتیا سبب کیږي بلکې د انسان عمر هم ډیروي.

## د فزیکي فعالیت مستقیمي او غیر مستقیمي روغتیایي ګټې :

منظم فزیکي فعالیت، فعاله ساتیري او ورزش ډیرو روغتیایي ګټو ته د لاسرسی لپاره یوه عملي لاره کیدای شي.

په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه په لویو خطرونو لکه د وینې لوړ فشار، د وینې غوړوالی، چاغوالی ، د تنباکو استعمال او روحي تشویشونو باندې د هغې د مثبتو اغیزوڅخه یادونه

کولاې شو. فزيکي فعاليت د زړه د ناروغيو، ځيني سرطانونو او د شکري ددوهم ډول د کموالي سبب کيږي.

دغه ګټې د يو شمير ميکانيزمونو له لارې صورت نيسي: په عمومي صورت د ګلوکوز استقلاب ښه کوي، د ويني شحميات راکموي او د ويني فشار را ټيټوي. فزيکي فعاليت د لويو کلمو (کولون) د سرطان د کلمو څخه د ۲خطر د پروستاګلندين د اغيزو ۳تيريدو د وخت د کمولو او د انتي اکسيدانت د اندازې د لوړولو له لارې را کموي . همدارنګه

:پروستاګلانډين يو ډول شحم دي چې کلسترول ته ورته جوړښت لري او د بدن يو له ډېرو مهمو کيمياوي وسيلو څخه دی 2. Prostaglandin چې په مختلفو حجروي اخذو تاثير کوي او د سرطان په مخنيوي کې مهمه ونډه لري. انتي اکسيدانت هغه مواد دي چې په حجرو کې د ازادو راديکالونو څخه مخنيوی کوي او په دې وسيله د سرطانونو په Anti 3. Oxidantمخنيوي کې ونډه لري، تجربو ښودلې ده چې منظم تمرين په وجود کې د دې موادو د زياد جوړښت سبب ګرځي.

ورزش او روغتيا فزيکي فعاليت په ښځو کې د تيونو د سرطان د خطرونود کميدو سبب کيږي چې ممکنه ده دا د هورمونونو په استقلاب باندې د مثبتو اغيزو په نتيجه کې وي. فزيکي فعاليت کولاې شي د عضلاتو او هډوکو روغتيا ښه کوي ، وزن کنترولوي او د خواشينی اعراض راکموي.

منظم فزيکي فعاليت دا لاندې ګټې لري: کلنی څخه مخکې عمر ) مړينه راکموي.75-د وخت څخه وړاندې (1 -د زړه او وعايي ناروغيو راکمول: څيړنو ښودلې ده چې د فزيکي فعاليت نشتوالی د چاغوالی، 2 سلنې مړينې ۴0روحي فشار او د وينې لوړ فشار د پيداکيدو له امله د زړه د ناروغيو د نږدی سبب ګرځي. هغه کسان چې فزيکي فعاليت نه لري د هغو کسانو په وړاندې چې فزيکي فعاليت لري د زړه او وعايي ناروغيو د دوه برابره خطر سره مخامخ دي.

د منځنی اندازي فريکي فعاليتونولکه (پلي ګرځيدلو) ته د هغو کسانو هڅول چې فزيکي فعاليت نه لري کولاې سلنې راکميدو سبب شي. نور لاملونه لکه سګرت څکول او د 14شي چې د زړه د ناروغيو د کلسترول لوړه کچه هم د زړه د ناروغيو د خطر د زياتيدو سبب کيږي.

د وزن په کنترول او د وزن د زياتيدو د خطر په راکمولو کې مرسته کوي. 3 -د هډوکو د له منځه تللو مخنيوی کوي، په ځانګړي ډول په ښځو کې د ورون د هډوکي د 4 ماتيدو خطر راکموي. -د ملا په لانديني برخي کې د درد د راپيداکيدو مخنيوی کوي او د درد لرونکو حالاتو لکه د 5 ملا او د زنګون د بندونو د درد په درملنه کې مرسته کوي.

-د هډوکو، عضلاتو او بندونو په جوړلو او ساتلو کې مرسته کوي او د هغو کسانو استقامت 6 لوړوي چې د مزمنو حالاتو لرونکې، ناتوانه او معیوب وي. -د رواني سلامتی د لوړوالی سبب کیږي او روحي تشویشونه او اندیښنې راکموي. 7 -د غیر روغتیایي سلوکونو لکه د تنباکو ، الکولو او نورو نشه يي توکو د استعمال د مخنیوي 8 او کنټرول، د غیر روغتیایي خواړو او د زور زیاتي په تیره بیا په ماشومانو او تنکي ځوانانو کې، ۹

ورزش او روغتیا د مخنیوي سبب کیږي . -بیلګې ښيي چې فزیکي فعالیت د وینې د شکر اندازه راکموي او په دې توګه د شکر د دوهم 9 ډول د خطر د کمیدو سبب کیږي. -فزیکي فعالیت د وینې د فشار د راټیټولو او د وینې د لخته کیدو د مخنیوي له لارې د ۱۰ خطر راکموي.

اټکل شوی دی چې د فزیکي فعالیت زیاتوالی د مغزي ٤Stroke مغزي سکتې یا برخې د راکمولو سبب کیږي. ٤/۱سکتې دخطر د برخه ۳/۱-فزیکي فعالیت د وینې فشار په مخنیوي او کمولو کې چې د نړۍ د نفوسو 11 اغیزمنوي، مرسته کوي. د بدنې روزنې او ورزش پروګرامونه کولای شي چې د وینې لوړ فشار په سلنه پینځو کې راکمه کړي ، څیړنو ښودلې ده چې ورزش او فزیکي تمرینونه کولاې شي چې 75 د لوړ غلظت لیپوپروتین (هغه پروتیني مواد چې د غوړو د یوې اندازې لرونکې وي) چې د بدن لپاره ګټور دی لوړ کړي او د ټيټ غلظت لیپوپروتین چې د بدن لپاره مضر دی راکم کړي.

-اوستیوپروزیسس: د ماشومتوب او ځوانۍ په وخت کې فزیکي فعالیت د اسکلیټ د 12 نورمالې ودې او همدارنګه په ځوانو خلکو کې د هډوکي د زیات حجم د لاسته راوړلو لپاره اهمیت لري. کولاې شو په زړو خلکو کې د منظم فزیکي فعالیت په واسطه د ورون د کسرونو د نیمايي برخې مخنیوی وکړو. -سرطان: دمنظم فزیکي فعالیت سره د ځانګړو ډولونو سرطانونو د خطر د کمیدو اړیکه 13 لیدل شوې ده.

د بیلګې په توګه په بې حرکته خلکو کې د کولون د سرطان خطر د فعالو خلکو په پرتله درې برابره ډیر دی. څیړنې د فزیکي فعالیت او نورو سرطانونو تر منځ د ورته اړیکې ښوودنه کوي. -د شکرې ناروغي: فزیکي فعالیت د شکرې د دوهم ډول ناروغۍ د خطر دکمیدو سبب 14

یوه بیړنۍ عصبي ناروغي ده چې د مغزو د یوې برخې حجرو ته د وینې د لیږد په برخه کې اختلال منځ .Stroke مغزي سکته یا 4 ته راځي چې لامل يې په رګ کې د لخته شوی وینې بندښت او یا د اړونده شعریه عروق څیری کېدنه ده.

ورزش او روغتیا سلنه زیاتوي او له همدې امله 25کیږي. د بیلګې په ډول فزیکي فعالیت دانسولین حساسیت د انسولین او ادرینالین دوراني غلظت په فعالو خلکو کې ډیر کم دی.

داسې بیلګې موجودې دي چې ښیي چې فزیکي فعالیت په وینه کې د ګلوکوز اندازه ښه کوي او له همدې امله د شکرې د دوهم ډول ناروغی د رامنځته کیدو خطر راکموي.

د روغتیا د ساتنې او ښه والي لپاره څومره فزیکي فعالیت ضروري دی؟ ۳۰ دقیقې نرم فزیکي فعالیت په واسطه ښه صحت لاسته راځي. دغه اندازه فعالیت د ۳۰د ورځې مناسب او خوندور فزیکي فعالیت د بېلابېلو ډولونو او په ورځني ژوند کې د جسماني حرکتونو پواسطه لاسته راځي، د مثال په توګه کار ته د تلو پواسطه، په زینو ختل، په بڼ او ځمکه کې کار کول او په وزګار وخت کې د ورزش او تفریح د بېلابېلو ډولونو پواسطه. د بشپړې روغتیا د لرلو لپاره لازیاتې ګټې د منځنی کچې فزیکي فعالیتونو او یا د درنو او اوږدو فزیکي فعالیتونو پواسطه لاسته راوړلای شو. د مثال په توګه: ۳۰ دقیقو لپاره د منځنی اندازې اضافي ۲۰الف: ماشومان او ځوانان په هره اونی کې درې ځله د فزیکي فعالیتونو ته اړتیا لری. ۶۰ دقیقو لپاره د منځنی اندازې او یا دروند فزیکي ۶۰ب: د وزن د کنټرول لپاره هره ورځ د فعالیت ته اړتیا ده.

## د ورزش فردي اغیزې

ورزش او سلامتي د جسماني سلامتی اهمیت له هیڅ چا څخه پټ نه دی او دې موضوع ته توجه د بدن د حقونو ـکُیْلَ عَکِدَسَجِ لَّنِ اَ وَّاَقَ حَکُیْلَ عَکّبَرِ لَّنِاِ څخه شمیرل کیږي څرنګه چې رسول الله (ص) فرمایي ( ؛ ستا پروردګار پر تا حق لري او ستا بدن پر تا حق لري او ستا کورنی پر تا حق لري). هغه ًاَّقَح څه چې په دې ځای کې د پاملرنې وړ دي هغه دا دي چې رسوالله (ص) د بدن پر حق تر هغه ځایه قایل دی چې د بدن حق یې د خدای (ج) او کورنی د حق تر څنګ ذکر کړی دی. که چېرې انسان سالم بدن ولري نو د خپل پروردګار او کورنی حق ښه ادا کولای شي.

له بل لوري د ورزش رول د بدن په سلامتی کې ډیر مهم دی او هغه څوک چې په خپل ژوند کې ورزشي پروګرامونه لري د ښې روغتیا خاوندان دي او ددې سر بیره ډیرې ناروغی د ورزش پواسطه له منځه ځي چې دغې طریقي ته د درملنې ورزش وایي

## د شکرې د ناروغی درملنه او مخنیوی

کال کې نړدې ۲۰۰۵ ۲ملیونو نه زیات خلک د شکرې ناروغي لري. په ۱۸۰په نړی کې له سلنه په ۸۰میلیون خلکو د همدې ناروغی له امله خپل ځان له لاسه ورکړي او ددې مړینو هغو هیوادونو کې چې لږه او منځنی عاید لري واقع شوي دي او ددې کسانو نږدې نیمایي یې کلونو څخه کم عمر درلود.

د لسو هغه هیوادونو له جملې نه چې د شکرې د ناروغۍ ۷۰د  يي د کمې او یا منځنۍ عاید لرونکي هیوادونه دي. نوې څیړنې ښيي چې ۷لوړه شمیره لري، دروند او ایروبیک ورزش د دوهم ډول دیابیت د خطر د کمیدو سبب کیږي چې د نړۍ نږدې  سلنه خلک اغیزمن کوي.

ورزش ددې ناروغۍ د رامنځته کیدو خطر په هغو کسانو کې چې 5.9 د وزن د زیاتوالي له امله د دې ناروغۍ د خطر سره مخ دي، کموي. ورزش د شکرې په ناروغۍ اخته کسانو کې شکرې د سویې په تنظیمولو کې مرسته کوي خو دغه ساتونکې اغیزې په هغو کسانو کې چې لومړی ډول دیابت لري، ډیر لیدل کیږي.

په داسې حال کې چې دواړه ایروبیک او درونډ ورزش د شکرې د ناروغۍ په کنټرول کې مرسته کوي خو درونډ ورزش په وینه کې د شکرې د سویې د کنټرول لپاره د ایروبیک ورزش په نسبت ډیر ګټور دی. ورزش د خوړو د ښه رژیم  او دوا سره یو ځاي په هغو کسانو کې چې ناروغي یې خفیفه وي، ددوهم ډول دیابت د کنټرول لپاره تر ټولو اغیزمنه وسیله ده خو ورزش او فزیکي فعالیت کیدای شي د شکرې د ناروغۍ په ناروغانو کې د ناوړو اغیزو سبب وګرځي لکه هایپو ګلاسیمیا (په وینه کې د شکرې ټیټه کچه) او هایپر ګلاسیمیا (په وینه کې د شکرې لوړه کچه) . د دې اغیزو د لاملونو د موندولو ۲۳

ورزش او روغتیا لپاره لا زیاتو څیړنو ته اړتیا شته تر څو معلومه شي ولې ځینې وختونه ورزش او فزیکي فعالیت ګټورې اغېزې نه لري.

# د چاغوالي سره مبارزه او د چاغوالي اړوند روغتیایي خطرونو راکمول

چاغوالی په بدن کې د شحم د غیر نورمال او زیات تراکم څخه عبارت دی چې د یو شخص روغتیا اغیزمنه کوی. د یوې نړیوالې سروې پر  کال کې 2۰۰5بنسټ په اټکل شوی چې په نړۍ کې ۲٤

ورزش او روغتیا ۷۰۰ کال پورې دغه شمیره 2۰15) شته او کیدای شي تر Obese میلیونه چاغ کسان (4۰۰ میلیونو وګړو ته ورسیږي چې دغه زیاتوالی تر ډیره حده د خوړو په رژیم کې بدلون (د زیاتې انرژۍ خواړه چې په کمه اندازه ویټامین لري) او د فزیکي فعالیت د کموالي پورې اړه لري. )اندازه یو علمي بحث دی خو ښتلي شواهد موجود دي چې Obesityکه څه هم د چاغۍ ( د وزن زیاتوالی د یو زیات شمیر مزمنو ناروغیو د نسبي زیاتوالي سبب کیږي.

چاغوالی او د فعالیت نشتوالی د روغتیا د خطر د شاخصونو سره نږدې اړیکه لري لکه د وينې لوړ فشار، د )Inflammatory Markersلوړې په حالت کې په وينه کې د شکرې اندازه او التهابي نښې ( خو زیاتره هغه څیړنې چې چاغوالی او روغتیا تر بحث لاندې نیسي ، فزیکي فعالیت یې په کافي اندازه په نظر کې نیولی دی.

د یوې څیړنې په نتیجه کې موندل شوې ده چې په هغو کسانو کې چې چاغ دي خو د زړه او تنفسي سیستم له نظره روغ دي د هغو کسانو په نسبت چې نورمال وزن لري خو د زړه او تنفسي سیستم یې ښه نه دی، د زړه وعایي ناروغیو خطر کم دی. ټولنیز لاملونه لکه ښو خوړو ته نه لاسرسی او غیر فعال ژوند، چاغوالی په یوې لویې ستونزې بدلوي.

په داسې حال کې چې پورته موندنې د فعال ژوند ګټې تقویه کوي په ځانګړي ډول په هغه کسانو کې چې د زیات وزن د لرلو له امله د مزمنو ناروغیو د خطر سره مخامخ دي.

## د خرما ګټې

خرماډیرې ګټې لری چې شمېرئې دانسان له وسه یووتلی کاردی، داپه دې مطلب چې خرما ډیره ارزښتناکه میوه ده، دادمیوې څخه علاوه پوره غذاهم ده اودواهم ده، خرما په دې ډیرې ښې پایلې لری چې ویټامینونه اومینرالونه لری، خرما په ځانګړی ډول سره شحمیات، کلسیم، سلفر، اوسپنه، پوتاشیم، فاسفورس، مس، مګنیزیم اوداسی نورمواد لری، خودائې عمده مواد دی، داټول مواد د انسان لپاره ګټې لری، روغتیا پالان وایی چې د ورځې یوه خرما خوړل دښه روغتیا ضمانت ورکوی، په عمومی ډول سره خرما د قبض ، دکلمو د غیر منظم حرکت ، وزن، د زړه تکلیف، جنسی کمزوری، نس ناستی او د ګیډې دسرطان لپاره یوه بې بېلګې دارو درمل ده. خرما د پوتاشیم په درلودلو سره میتابولیزم حالت ښه کوی، چې خرما د دماغ لپاره هم ډیره ښه ده، خرما د (B-Complex)ویټامینو په درلودلو سره دوینې سره ګُرویات او سپین ګُرویات جوړوی، اوسپنه او مګنیزیم یې د حمل په دوران کی ډیره ښه نتیجه ورکوی، په عمومی ډول سره په خرما کی هیڅ داسی مواد نشته چې د انسان ته ضرر ورسوی برعکس انسان ته ډیره ګټوره اوښې پایلې لری.

د خرما بله غټه اوستره ګټه انسان ته داده چې دانسان غړو ته ډیره ښه وده ورکوی، د روغتیا پالانو د نسخې مطابق خرما په مختلفو طریقو سره خوړل کیږی، خرما د شیدو سره، په ډوډئ کی د کوچو او پنیر سره یو ځای کوی، چې دا خوراک دماشومانو او هم د بالغانودواړو لپاره ګټوردی، یوه بله نوې څیړنه چې اوس ساینس پوهانوکړی ده هغه دا چې خرما د ګیډې د سرطان په پوره ډول سره مخه نیسی، ساینس پوهانو داه م ثابته کړیده چې په مجموعي ډول سره مسلمانان په خرما سره روژه ماتوی، چې دا د دوی لپاره ډیره ګټوره ده

هغه په دې چې د خرما په خوړلو سره لوړه په مکمله توګه سره ماتيږی، زړه صبرکيږی، چې دا د چاغښت، دزړه د تکليفونو او د نس دکړاوونومخنيوی دی.

په عصری نړۍ کی خرما ته د خوړې تاج وايی، د اځکه چې دا يواځی خوړه نه بلکې غذا هم ده، او خرما د سترګيا په وخت کی کيميا ده، خرماعلاوه د نارينو لپاره د ښځو لپاره هم غوره درمل ده، د امريکا يوه څيړنيزه اداره (American Cancer Society) وايی چې هرانسان بايد په هره ورځ کی ۳۰-۲۰ خرماوې وخوری، دوی دا هم وايی چې که هرڅوک په ورځ کی اقلا يوه خرما وخوری نو قوت باصره(دليدوتوان) به ئې د تل لپاره قوی وی، او د اسړی به د ړندوالې څخه په امن کی وی (يعنی ړوندبه نشی). د اځکه چې په خرما کی ويتامين اې (A)شتون لری،

## خرما قبض ليری کوی:

په اوسنی ساينس کی خرما ته د قبض ضد خوراک (Laxative Food) وايی، له همدی کبله هغه کسان چې قبض لری ډاکتران ورته توصيه کوی چې خرما وخوری، د دې لپاره ډاکتران ورته وايی چې خرما بايد يوه مکمله شپه په اوبوکی کښيږدی، چې خرما به په اوبو کې ډوبه وی، او کله چې شپه پر تيره شوه نو سهار دی دا خرما وخوړل شی چې دقبض لپاره تربلې هرې دوااغيزمنه ده.خرما کلمې نرموی، او غوړوی ئې تر څو فضله مواد ښه حرکت پکښې وکړی، نولومړی خرما د کلمو درد له منځه وړی او بيا نورهرڅه اسانه کوی.

## د بدن د ښې ودې لپاره:

خرما يوه ډيره ښه اوغوره خوراک دی، خرما شحم، شکره او پروتين لری، او د ويټامينو په درلودلو سره خرما د ښه روغتيا لپاره غوره ده، يو کيلو ګرام خرما تقريبا۳۰۰۰ کالريز لری، ځکه کيميا ده چې پوتاشيم لری، او د دماغ اواعصابو پوهان وايی چې ۴۰۰ ملی ګرامه پوتاشيم داعصابو۴۰٪ سلنه خطر له منځه وړی. خرما د اوسپنې په درلودلو سره د کم خونۍ (Anemia) لپاره ډيره ښه ده، خرما د وينې شحم اوشکره ثابته او معتدله ساتی.

## خرما د صحتمند زړه لپاره:

کله چې خرماپه اوبو کی واچول شی، او پوره يوه شپه په اوبوکی خشته شی، او بيا سهار وخوړل شی نو دا د کمزوری زړه لپاره غوره درمل دی، اقلا دا بايد په اونۍ کی دوه ځلی تکرار شی.

## د جنسي کمزورئ لپاره:

د جنسي توان لپاره خرما یوه طبعي درملنه ده، که چیری یو موټ د خرما څخه ډک کړی شي او په شیدوکی واچول شي اوشپه پرتیره شي، په سهارکی همدغه خرما په شیدو کی میده شي، لاچي اوعسل هم ورسره علاوه شي نو دا د جنسي کمزورئ لپاره غوره طبعي درملنه ده.

## خرما د نس ناستي لپاره:

کله چي خرما پخه شي نو پوتاشیم پکښي زیات وی، چي دا د ښه هضم لپاره غوره دی، نو ځکه پخه خرما د نس ناستی لپاره غوره درمل دی.وبل لورته خرما د ایل ډی ایل په درلودلو سره (Low-density Lipoprotein) کولسټرول کموی، چي د کولسترول کموالی په بدن کی یو ډیر ښه زیری دی.

## خرما د نشي علاج ده:

په لویدیځ کی خرما د الکحلو د نشي لپاره ډیره زیاته استعمالیږی، هغه چا چي ډیرشراب خوړلی وی اونشه ئي نه ختمیږی نو په خرما سره دا هرڅه له منځه ځی، خو په عمومی ډول سره خرما هغه مهال د هرې نشي لپاره غوره درملنه ده چي کله په اوبو یا شیدو کی خشته شي او بیا وخوړل شی، او که اړتیاوی نو پخه خرما دی سمدستی وخوړل شی.په خرما کی یوه بل طبعي ماده شته چي فلورین ورته وایی، د فلورین په درلودلو سره د غاښونو ستونځې له منځه ځی، یعنی غاښونه دې ته نه پریږدی چی خراب شی، غارونه پکښي جوړشی او که لږ په ساده ژبه ووایم نوچنجیان ئي نه خوری

## زیتون

زیتون یوه کټوره غذا ده ویل کیږی چی زیتون دهر ډول نارو غي درمل دی زیتون په قران کریم کی څو ځله ذکر سوی دی الله سبحان وتعالی دمؤمنون په سورت کی دزیتون په اړه فرمایلی دی {وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِن طُورِ سَيْنَاء تَنبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْآكِلِينَ } المؤمنون20

## په 100 گرامه زیتون کی لاندی غذايي مواد موجود دی

پروتین 1.5 گرامه ، تیل 13.5 گرامه، سکری مواد 4 گرامه، پوتاشیم 91 ملیگرامه، کلسیم 61 ملیگرامه، مګنیزیم 22 ملیگرامه، فوسفور 17 ملیگرامه، اوسپنه 1 ملیگرامه، مس 22 ملیگرامه، تو پاله 4.4 گرامه، کاروتین 180 ملیگرامه، ویټامین ای Iu 300

پوهان وايي د زيتون تيل کوليسترول کموي او دانسان بدن په خپل طبيعی حالت باندی پریږدی او دماغ د شیخوخه څخه ساتی او پر بدن د زاریاتود تاثیر څخه ساتی او جلد د چاودلو څخه ساتی د تریخی افرازات په کار اچوی ، اینه هوساکوی بولی زیاتوی په پښتورگی کی د ډبری د جمع کیدولو مخنوی کوی او په بدن کی د وازگی د ډیریدو مخنوی کوی د چنګاښ او زړه دناروغي مخنوی کوی

د امریکا په نیویارک پوهنتون کی دوو ښوونکو ا . ډاکټر اهرنز او ا . س ترفسلید تر څیړونو وروسته ویلی دی چی د زیتون تیل د زړه د شراینو ناروغ اوهغه کسان چی د وینی پشار یې ډیر وی زیاته ګټه رسوی

او په اسپانیا کی طبی ټولنی تر څیړونو وروسته ویلی دی چی هغه کسان چی د زیتون تیل په خوراکی توکو کی هره ورځ خوری په هغوی کی د تي د چنګاښ ناروغي 35٪ کمه وی

# د تورو اوشنو چایو څښل څه ګټه لری

توري او شيني چای د انسانانو په ژوند کي هغه ټاکلي د څښلومايعوی ماده ده،چه په نړئ کي د څښلو لپاره ډيره کارول کيږي.په افغانستان کي هم شين او تور چای په زياته پيمانه سره څښل کيږی او د څښلو طرفداران يئ هم خورا ډير دي. زمونږ په هيواد کي په سلو کي ٪۹۹ فيصده وګړي د تورو او شنو چا يو د څښلو څخه کا ر اخلي. د چايو اصلی نوم د چينای ژبی څخه اخيستل شوی دی، او د چايو د توليد هيواد هم جنوبی چين دی. چه همدغه نوم زمونږ د هيواد د خلکو په منځ کي هم د چای په نوم سره يادېږی او دا نوم يی ځانته غوره او خپل کړی دی .

دا ځکه چي په افغانستان کي چای د يوې پيژندل شوی عنعنوي او دوديزي وسيلي په تو ګه له پخوانيو وختونو نه مونږ ته را پا ته دي او په هر کور کي د تور او شين چای څښل يوه عامه عادی هراړ خيزه سپارښتنه او ضرورت دی ،کوم چه د هيواد په هر ګوټ او ځای کي د ميلمه پالنې ښکاره او څرګنده پيرزوينه بلل کيږی .

ما د دي ګټور بوټی په باره کي د نړئ د انسانانو د اوسيدونکو د چاپيريال په مختلفو برخوکي د مسلکي پوهانو او متخصيصينو د نظريو په ملتيا سره خپل څيړه نيز مالومات پيل کړه چه دا دی اوس يی ستاسو سره په ګډه ګورو او ور باندی ږغيږو. چه چای څه شی او دانسان بدن ته څه ګټه رسوی .

څيړونيزو مالوماتو له مخي په ټوله نړئ کي د اوبو نه وروسته چای د څښلو دوهمه وسيله ده چه ډير خلک يی د څښلو څخه خوند اخلي.هر کال په نړئ کي دری ميلیارده کيلو ګرامه چای توليديږی د ټولی نړئ د هيوادونو په پرتله د جاپان وګړئ په سلو کی ٪۸۰ فيصده د شنو

چایو د ښځو کار اخلي. د چایو ښخبل بدن ته ډیره ګټه لری او د ډیرو خطرناکو مرضونو د مخنیوي لپاره د درملنې او تداوی په زړه پوری دارو او درمل بلل کیږی .

چای د تورو او شنو په نا مه سره پیژندل کیږي او دواړه د یوه شنه بوټی پواسطه د ځمکی پرسر کرل کیږی او بیا د تولیدی انکشاف د پرمخ تللي مرحلي د تیریدو نه وروسته د ښځو لړی ته وړاندی کیږی.د تورو او شنو چایو

بیلوالی په دی کی دي چي د شنو چایو پاڼو ته لمړی جوش ورکول کیږی او بیا وچیږی ولي د تورو چایو پاڼی بیله جوشه وچیږی او کله کله د شیمیایی موادو رنګ ور ګډیږي او بیا د ښځو لپاره تیاریږي. د چایو د تولید هیوادونه چین، جاپان، هند ، تر کیه او داسی نور دی چه لویه برخه یی په چین کي کرل کیږي .

# شین چای

شین چای د ښځو هغه ټاکلي ماده ده، چه د اړ تیا وړ کسان یی ورځ په ورځ زیاتیږی او د ښي روغتیا زیری پکښی نغښتي دی. د دي چای د ښځو وړ کسان د شنو چایو په ښځو کي ډیری ځانګړی ګټې ویني. د شنوچایو

ښځبل کله د عسلو سره کله د بوری او کله هم د نورو شیرنیو سره ښځبل کیږی.د ځینو مسلکي پو هانو په اند شین

چای د خطر ناکو مریضو لکه د سرطان د ناوړی مریضی د کمولو لپاره د درملنې یوه په زړه پوری ښه نسخه ده

او همدارنګه د کولوسترول په را کښتکولو کي هم د پام وړ مرسته کوی. او د زړه د حجراتو د ویجاړولو او خرابولو په مخنیوی کي هم ښه مرسته کوی. شین چای سړی ځوان ساتي او د اوږده عمر د ضمانت یوه ښه هیله او نښه هم ده.د شنو چایو په ښځو کي لاندی ګټی مو جودی دی :

1:شین چای د وزن د کمولو لپاره په زړه پوری درمل دی .

۲ :د زړه د ناروغي او کولوسترول د کمولو لپاره ښه دارو دي .

۳ :شین چای د چاغوالي د مخنیوی لپاره ډیره ښه وسیله ده چي د سرطان او د زړه د حجراتو او دماغی سلسلو د مختلفو ناروغیو د مخنیوي لپاره په زړه پوری مرسته کوي .

۴ :شین چای د بدن د پوستکي او د بندونو د پاړسوب او روماتیزم په مخنیوی کي هم اغیزمن تما میږي او د نفس تنګي او ساه کښلو په ستونځه کي هم مرسته کوی چي د غوړونو د

عفونیت ستونځه را کموی او د اوریدو لوسلسلی تقویه کوي.فکری او مغزی ګډوډتیا ورکوی او دغاښو دمکروبونو په ویجاړولو کې مرسته کوی .

۵ :شین چای د ډیرو مضرو او خطر ناکو مکروبو او باکتریاوو سره ښه مقابله کوي کوم چې د خولی له لاری د التهاب او دغاښونو د خرابیدو لامل ګرځي .

۶ :شین چای د فکری خرابی عصبی ا حساس د کمولو لپاره ډیر اغیز من تمامیږی او د ارامیت روغه فضا منځ ته را ولي او همدارنګه د هډوکو د تقویوی غښتلیا او پیا وړیتوب د ساتلو لپاره ښه مرسته کوی .

۷ :شین چای دغوړو اوواز ګینو حجراتو د ګلو ګوز خوځښت په ټپه دروی او د شکری د ناروغي لپاره د وینی جریان د کنترولولواو د مغزی حافظی په پیاوړتیا کی ګټور او اغیز ناکه رول لوبوی او د روغتیا یو مهم اړخ دی.

## توري چای :

تور چای زیاتره په غربی هیواد کی ډیر څښل کیږی چې په خپل ترکیب کې داسي مواد لری چه د انسان په بدن کی د غذايي موادو د هضمولوپه برخه کی مرسته کوی. تور چای د احتراق عمل ته تیزوالی ور بخښي او د چاغي خنډ ګرځي. علمی تحقیقاتو ثابته کړیده چه تور چای د هډوکو د پاړسوب حالت کموی او دهغه مخنیوی کوی. تور چای د خولی د ساری ناروغي د مخنیوی لپاره هم ګټوری او اغیز مني ښیګڼی لری .

د ځیرنیزو مالو ماتو له مخي تور چای زړه ته قوت ور کوي او د بدن دغوړتیا او چربیو مخنیوی کوی. دمغزی سلسلي آرامتیا تسکینوی او مختلف وایروسونه او مکروبونه له منځه وړي .

تور چای دشنو چایو په نسبت په نړئ کي ډیر څښل کیږي. په تورو چایو کي بیلابیل تر کیبی مواد ګډیږی چه د ډول ډول میوو اوبه د چایو سره تر کبیږی او بیا یوځای د څښلو لپاره آماده ګیږی. دځیرونیزو تحقیقاتو پلټنی دا په ډاګه ثابته کړی ده چه چای د انسان بدن ته دیر ګټی رسوی. ستومانی او ستړیا له منځه وړي د روانی او عصبی احساساتو دکهالت د نا منظم حالت انګیزه ورکوی،او دیوی سالمي روغتیا زیری پکښي نغښتی دي. چای دمجلس او دوستانو دخبرو اترو پر محال یوه ځانګړئ وسیله ده چې د میلمه پالني او کوروداني یوه په زړه پوری ډالئ ده چه دخوند او لذت نه پرته فکری سالمتیا هم ور سره ملګری ده. ددي ټولو مالوماتو له مخي شین او تور چای

دروغتیا او آرامتیا لپاره یوه ډیره په زړه پوری وسیله ده چه انسان ته دهوساینې سالمتیا زیری ور کوی. چه خوند او لذت پکښی پروت دی. نو ځکه ددی کټور بوټی څخه مونږ ته د چایو په نا مه دغه نوم را پا ته دی او مونږ یی وڅښلو ته تیاریوو. تاسو ته هم دشنو اوتورو چایو د څښلو په هیله

## عسل (یاشهد)

طبعي عسل(شهد) ۲۵۰۰ کاله پخوا د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د انسانانو په واسطه د استعمال وړ ګرځیدلي ول. هغه ګټې چې طبعي عسل لري په سنتې طب کې د

په نوم د استفادې وړ ګرځیدلي دي Ayurveda.

په همدا ډول د انشمندانو په نوې طب کې هم د عسلو په اړه تحقیقات کړي دي. په خاصه توګه د ژورو زخمونو ته د بهبود په ډګر کې.

لکه څنګه چې پوهیږئ، عسل یو تر ټولو پخوانی او قدیمې خواړه دي چې انسان ترینه استفاده کړي.

او د ګلوکوز، فروکتوز، معدني مواد، لکه منیزیم، پټاسیم، کلسیم، اوسپنه او همداسې نورو معدني مواده څخه بډایه دي

د دې برسیره لکه د بې ۱ بې ۲ بې۳ بې ۵ او بې ۶ ویټامینونه هم په عسلو کې شتون لري. هغه څه چې عسل یې د خلکو پر وړاندې ډیر محبوب کړي دي، د عسلو استعمال دئ. عسل په ډیره ساده توګه د استفادې وړ دي. کولای سئ په مستقیمه توګه یې هم وخورئ، په ډوډئ باندې لکه د مربا په شکل یې هم خوړلای سئ.

د عسلو ګټې په لاندې ډول دي.

عسل کولای سې چې په خواړو یا څکلو کې د شکرې ځای په مکمله توګه پوره کړي. په عسلو کې ۶۹ فیصده ګلوکوز او فراکتوز وجود لري.

په یوه قاچوغه( قاشقه) عسلو کې ۶۴ کالوري وجود لري، او په یوه قاچوغه شکره کې ۵۰ کالوري وجود لري. خو د عسلو ګټه دا دئ چې هغه شکره یا شیرینې چې پکې موجوده دئ ډیره په اسانه توګه په ګلوکوز بدلون مومي، او ډیري ظعیف معدي هم کولای سي چې جذب یې کړي. ځکه د عسلو هضم ډیر اسان دي.

اخیرنیو څیړنو دا څرګنده کړې چې، په عسلو کې داسې یو اورګانیزم وجود لرې چې د یو ورزشکار بدنې قووت ته وده ورکوي.

همداسې د وينې قند هم ثابت ساتي، عضلې تازه کوي، او بعد له ورزشه څخه ګليکوژن هم ترميم کوي .

همداسې د باکتريا ضد خواص هم په عسلو کې وجود لري.

او که د شيدو سره وخوړل سي، تر ټولو ښه درمل د پوستکې لپاره دي. په همدې دليل د نړۍ په ډيرو هيوادونو که په سبانارۍ کې عسل او شيدي ضرور موجودي وي.

## ځانګړتياوي.

۱ په راحتی سره هضميږي.

۲ د انتي اکسيدان بهترينه منبع دئ.

۳ په سرعت سره په وينه کيې ګډيږي. کله چې د اوبو د مناسبه ميزان سره مخلوط سي په ۷ دقيقو کې د انسان په وينه کې تيتيږي.

۴ وينه پاکوي، د وينې چريان تنظيموي.

## څو په زړه پورې خواصونه.

۱ عسل هيڅکله نه خرابيږي، د ساتلو لپاره يې يخچال ته اړتيا نسته.

۲ د فروکتوز د ميزان د پورته کولو پخاطر ۲۵ فيصده د قندو څخه خواږه دي.

۳ د کال د هر فصل د بدلون په وخت کې چې کوم الرژي يا حساسيت انسان ته پيښيږي، عسل يې بهترينه درمل دي

## په نهاره (تشه خېټه) د اوبو څښل

نن صبا دا په جاپان کې دود دی چې هر سهار کله چې وګړي له خوبه را ویښ شی په نهاره اوبه څښي. په دې سربيره ساينسي څيړنو هم په نهاره د اوبو څښلو ارزښت ثابت کړی. غواړم د ښاغلو لوستونکو لپاره د اوبو د استعمالو او ګټو په اړه یو څو کرښې وليکم. يوې جاپانئ طبي ټولنې د یو شمير خطر ناکو زړو او همدا رنګه د نوو ناروغيو لپاره د اوبو په وسيله د راتلونکو ناروغيو درملنه ۱۰۰ فيصده اغيزناکه او ګټوره ښودلې: د سر درد، د ځان درد، د زړه سيستم، د بندونو پړسوب، د زړه چټکه درزا، عصبي ناروغي (ميرګي)، زيات چاغ والی، نفس تنګي، توبرکلوز، د مغزو د پړسوب ناروغي، د پښتورګو او بولې ناروغۍ، قی ، د معدې جوش، اسهال، بواسير، د شکرې ناروغي، قبضيت، په سترګو پورې ټولې تړلې ناروغۍ، د زيلانځ (رحم) ناروغي، د سرطان ناروغي، د غوږو، پوزې او ستونې

ناروغۍ. د درملنې کړنلار ۱. هر سهار کله چې له خوبه بيداريږي مخکې له دې چې خپل غاښونه برش کړئ ۲ ګلاس اوبه وڅښئ.

۲. خپله خله يا غاښونه برش کړئ، مګر د ۴۵ دقيقو لپاره مه څه څښئ او مه څه خورئ.

۳. د ۴۵ دقيقو څخه ورسته کولی شئ د معمول په څير څه وخورئ يا هم څه و څښئ. ۴. د صبا ناری، د غرمې او ماخستن له ډوډۍ څخه ۱۵ دقيقې وروسته د ۲ ساعتونو لپاره مه څه خورئ او مه څه څښئ. ۵. هغه وګړی چې د عمر له لحاظه زيات او يا هم ناروغه وي او نه شي کولی ۴ ګلاسه اوبه وڅښي په پيل کې کولی شي له کمو پيل وکړي او په تدريجی ډول د ورځې په سر خپل د اوبو څښاک ۴ ګلاسونو ته ورسوي.

۶. د اوبو د استعمال نوموړې کړنلار کولی شي ناروغه وګړو ته روغتيا ور په برخه او روغ وګړي له خپلې روغتيا څخه خوند واخلي. راتلونکی لست د هغو ورځو د اوبو د درملنې د ورځو شمير په ډاګه کوي چې د عمده ناروغيو د درملنې/کنترول/کمولو لپاره اړتيا لري. ۱. د وينې فشار- ۳۰ ورځې۲. د معدې ناروغي- ۱۰ ورځې۳. د شکرې ناروغي- ۳۰ ورځې ۴. قبضيت- ۱۰ ورځې ۵. د سرطان ناروغي- ۱۸۰ ورځې ۶. د توبر کلوز ناروغي- ۹۰ ورځې ۷. هغه ناروغان چې د بندونو پاړسوب لري په لومړۍ اونۍ کې بايد د ۳ ورځو لپاره نوموړې کړنلار تعقيب کړي او په دوهمه اونۍ کې دې هره ورځ څښي نوموړې کړنلاره کومه جانبي اغيزه نه لري، خو بيا هم کيدای شی د درملنې په پيل کې څو ځله اړه شئ چې تشې متيازې وکړئ.

دا به غوره وي که چيرې موږ دغه کړه وړه د خپل ورځنی ژوند يو عادت وګرځوو. اوبه وڅښئ او روغ رمټ او فعاله اوسئ. دا يو مفهوم لري ... چې چينيان او جاپانيان د ډوډۍ سره ګرم چای څښي... يخې اوبه نه . کيدای شی دا هغه وخت وي چې موږ هم د چينيانو او جاپانيانو دغه عادت خپل کړو. موږ بايد څه له لاسه ور نه کړو، بايد هر څه تر لاسه کړو.

هغه وګړي چې د يخو اوبو څښل خوښوي، دغه موضوع پرې د تطبيق وړ ده. دا ښه ده چې چې د خواړو وروسته يو ګلاس يخې اوبه وڅښي، مګر يخې اوبه هغه غوړين مواد چې تا خوړلي جامدوي او په پايله کې يې د هاضمې پروسه سوکه کيږي.

کله چې دغه مواد د معدې د تيزابو سره غبرګون ښکاره کوي، نوموړې مواد په چټکۍ سره تجزيه او په کولمو کې جامد پاتې کيږي. چې له امله يې کولمه ليکه کيږی، او بيا په ډيره چټکۍ سره په شحمياتو بدل او د سرطان ناروغی لامل ګرځي. نو دا به غوره وی چې له ډوډۍ وروسته د يخو اوبو پر ځای سوپ يا ګرمې اوبه و څښل شي.

د زړه د حملې په اړه یوه جدي خبرتیا: میرمینې باید پر دې پوه شي چې هر زړه د حملې نښه دا نه ده چې په چپ مټ درد راشي، نو د زړه د حملې مانا لري . د جامې په مصراع یا لاین کې د سخت درد څخه هم خبر اوسئ.

دا هم شوني ده چې د زړه د حملې پر مهال په لومړی کې ناروغه په سینه کې درد احساس کړي. د زړه بدیدنه او زیاته خوله کول هم د زړه د حملې عادي نښې نښانې ګڼل کیږي. پر ۶۰ فیصده وګړو د زړه حمله هغه وخت راځي چې بیده وي، د تل لپاره بیده پاتې او بیا هیڅکله را بیدار نه شي. د جامې په مصراع کې درد کیدای شي ناروغه له خوبه بیدار کړي. راځئ چې محتاطه او باخبره اوسو. څومره زیات چې موږ په دې موضوعاتو پوه شو، په هماغه اندازه زموږ د ژوندانه چانس په سختو شرایطو کې زیات وي.

## بادام او د هغه روغتیایي ګټې

څرنګه چې بادام یو خوندوره وچه مېوه ده او د ښه خوند تر څنګ ډیري نوري روغتیایي ګټې هم لري چې ځیني یې په لاندي ډول دي:

1: بادام د بدن اضافي وزن په کمولو او د زړه د حملې په کمولو کي له تاسو سره مرسته کوي د (Loma Linda School of Public Health) د راپو له مخي په هفته کي پنځه واري خوړل یې ۵۰% (پنځوس فیصده) انسان د زړه له مختلفو ناروغیو څخه ژغوري.

2: دا وچه مېوه د مضر کلیسټرول په له منځه وړلو ، د ویني د فشار په کمولو او د شکري په کښته کولو کي مرسته کوي.

3: بادام د فاسپورس په درلودلو سره د غاښونو او د بدن د هډوکو په قوي کولو کي مرسته کوي.

4: همدارنګه بادام د انسان حافظه پیاوړې کوي او ددې تر څنګ عصبي سیستم لپاره نوري زیاتي ګټي هم لري.

5 : د بادام د غوړو منظم استعمال کولای سي د پوستکي توري الغې ، ټپونو او د ګونجو په له منځه وړلو کي له تاسو سره مرسته وکړي.

6: دبادام غوړي مو وریښتانو ته ښکلا او ټینګوالی ورکوي.

7: پر پورته ګټو سربېره بادام دپوستکي د ښکلا او صحت لپاره، د سرطان د ناروغۍ مخ نیوي ، د بدن د اضافي وزن د کمولو او دقبضیت د له منځه وړلو لپاره ګټور دي.

د پاملرني وړ ده که چیري دغه خواړه تر اندازې زیات وخوړل سي د مختلفو ناروغیو لامل هم کېدای سي.

## دانګورو ګټې

انګور هغه میوه ده چې پریمانه C، B, A,او ويټامينونه او ډېره اوسپنه ، مګنيزيم، فاسفور او کلشيم لري نن سبا په ډېروځايونوکې دانګور په وسيله دمعالجې له رودې استفاده کوي دغه میوه همداراز دقبضيت او روماټيزيم د معالجې لپاره کارول کيږي حتي دسرطان دمخنيوي لپاره ګټه وره میوه ګڼل شوې ده.

وروستۍ څېړنې ددې ښودنه کوي چې دغه میوه دسرطان ،سيني ،پروسټاټ، اوځيګردسرطان په مخنيوي کې ډېر اغيز لري.

که انګور له ډوډۍ مخکې وخوړل شي وزن کموي په داسې حال کې چې که له ډوډۍ سره وخوړل شي دچاغښت سبب کيږي يوې خبرې ته بايد پام وکړو چې له انګورو وروسته اوبه ونه څښل شي او له انګورو سره يوځاي وچه میوه هم تاوان لري ځکه په دواړو حالاتو کې دنس دردونه پيداکوي . دغه میوه همداراز وينه پاکوي او دويني په جوړيدا کې هې اغيز جوت شوی دی.

دغه ارزښتمنه میوه دويني دخوړو انډول ساتي او کارپوهان وايي چې سره انګور دشنو په پرتله دويني په جوړولو او تصفي کې ښه تاثير لري نو هغه کسان چې د ويني خواړه يې کم دي هغو ته دغه میوه ډېره ګټه لري داچې وايي دغه میوه سرطان ضد د ه علت يې دا ؛دچې انګور ميکروبي ضد اغيزلري او له دې لارې دسرطان مخه هم نيسي هغه کسان چې ناروغۍ يې تيرې کړي وي يا هغه کسان چې دفاعي سيستم يې کمزوری وي بايد انګور ، ګازرې ، منې او شفتالو ډېر وخوري.

همداراز انګور پريمانه پتاشيم لري چې دبدن کمزورۍ جبرانولاي شي او دويني له فشار سره مرسته کولاي شي.

دغه میوه دزړه ،پښتورګو اوسږو لپاره ګټه لري او دمالګواو کاني مو موادو د درلودلو له امله ملين او مدرر خواص لري هغو کسانو ددې میوې سپارښتنه کو چې په نقرص ناروغۍ اخته وي همداراز هغه سرخوږ چې قبضيت ،بې اشتهايي ،نفخ او باد او خولې بد بوي هم ورسره وي د انګور داوبو په خوړلو سره يې معالجه شونې ده.

ددغې میوې بل محصول یعنې ممیز هم دبدن دعمومي تقوې سبب کیږي او دسنیې دنرم کولو او دستونې د دردونو لپاره ښه دي همداراز هغه کسان چې دوینې لوړ غوړلري دهغو لپاره یې سپارښتنه کوو.

دانګورو غوره میکروب ضد تاثیرات لري او کله لا سلاد سره وخوړل شي نووزن هم ورسره کمیداي شي خو که دانګورو غوره یوازې وخوړل شي معدې ته تاوان لري همداراز باید امیندواره ښځې یې ونه خوري ځکه چې ادرار زیاتو ي او ممکنه ده دسقط جنین سبب شي.

# بادرنګ

بادرنګد څلورو هغو سبزیو د ډلي دئ، چي په نړۍ کې په ډېره اندازه کرل کیږي او خوړل یې د روغتیا لپاره تر ډېرو نورو سبزیجاتو لومړیتوب لري، او همدا ډول نوموړي سبزیجات په ډېره اساني سره کولای سي چي هر څوک یې تر لاسه کړي.

د ساینسپوهانو وروستیو څېړنو ښودلې ده چي بادرنګ ۹۰ سلنه اوبه لري، هغه کسان چې په هر دلیل اوبه نه سي چښلای، نو پر ځای دي ئې په غذایي مهالوېش کي بادرنګو ته ځای ورکړي. بادرنګ د وجود د ضایعو سویو اوبو په پوره کولو کي له تاسو سره ډېره مرسته کوي.

د وجود د داخلي او باندنۍ تودوخي سره په مبارزه کي مثبت رول لري، هغه کسان چي پر پوست ئې داني وي او یا په جلدي ناروغیو اخته کیږي نو د بادرنګو خوړل مرسته ورسره کولای سي. همدا ډول روغتیا پالان وایي: چي د ښکلا لپاره هم بادرنګ ښه نخسه ده.

بادرنګ دA ، Bاو C ویټامینونه لري، چي ستاسو وجود اړتیا ورته لري. د هاضمي سیستم د خوندي کولو او سالم ساتلو لپاره بادرنګ سالمه نخسه ده.

که غواړئ، چي سترخوان مو ښایسته سي، نو د بادرنګو د رانیولو پر مهال یې رنګ او تازه والي ته خاصه پاملرنه وکړئ. ځکه چي پیازي او ژړ بادرنګ ستاسو روغتیا ته زیان اړوي.

بادرنګ د هغو سبزیو او میوو په سر کې راځي، چې له تندې سره مبارزه کوي، له رومي ، کاهو او هندوانې هم مخکې دی، چې 92% اوبه لري.

بادرنګ دکاهو، رومي په پرتله ډېره لږه کالري لري ځکه خو ورته د ډنګروالي / لاغر ستوری بلل کیږي ، دخوړو کارپوهان یې تل هغو کسانو ته سپارښتنه کوي، چې ډېر وزن لري پردې سربېره بادرنګ بوره نه لري ،چې دوزن د ډېرښت لامل وګرځي .

ځینو علمي ښېړنو دا ښودلې ده، چې بادرنګ دا وړتیا لري، چې دسړیو دجنسي ځواک فعالیت لا پسې ډېر کړي په ځانګړو توګه دهغو، چې دکوروالي پرمهال له ځانګړو ستونزو ځوریږي ، بادرنګ دجنسي ناروغیو د درملنی په سر کې راځي ، ځینې عضوي ویګرا ګڼي.

دبادرنګ له ګټو یوه دا هم ده، چې دسړی ادرار زیاتوي او دا ددې لامل ګرځي، چې سړی له خپل کوروالي څخه خوښ شي پردې سربېره په بدن کې دوینې دجریان فعالیت زیاتوي،چې دا چاره دسړی او ښځی لپاره مهمه او ګټوره بلل شوې ده.

ځینې ځیړنې دا هم وایي : چې دبادرنګ بوی دښځو دراپارولو په برخه کې هم دپاموړ رول لوبوي ددې ترڅنګ هغه ښځې، چې دسترګو شاوخوا توروالي او پړسوب څخه ځوریږي کولای شي له بادرنګ څخه ګټه پورته کړي، چې دا پړسوب له منځه ولاړ شي

بادرنګ د پوستکي د ناروغیو لپاره هم ګټور دي لکه د سترګو د لاندینۍ برخي پړسوب او د لمر پواسطه د مخ د پوستکي د سوځیدو، ځکه په بادرنګ کې سکوربیک او کافئیک اسید موجود دي چې د بدن د اوبو د ضایع کیدولو مخنیوی کوي.

## بینډۍ

بینډۍ یو له هغو سبزیجاتو څخه دی چې بې شمیره روغتیایي ګټې لري او انسان له یو شمیر مهلکو ناروغیو څخه ژغورلی شي.

بینډۍ ډیره لږه کالوري لري خو د ګټورو روغتیایي موادو تر ټولو غوره منبع ده. دغه خواړه زیاته اندازه فایبر(Fiber) ، ویټامین اې(Vitamin A) ، ویټامین سي (Vitamin C) او فولیټ (Folate) نومې ګټور روغتیایي مواد لري. همداراز دویټامین بي(Vitamin B) ، ویټامین کې(Vitamin K) ، کلسیم(Calcium) ، پوتاشیم(Potassium) ، اوسپنه(Iron) ، مګنیزیم(Magnesium) ، منګنیز (Manganese) او زینک (Zinc) له غوره منابعو څخه ګڼل کیږي. په دغه خواړه کې یو شمیر انټي اکسیډنټس لکه بیټا کیروټین(Beta-Carotene) ، لیوتین (Lutein) او ژانتین (Xanthine) هم شتون لري.

بینډۍ یو له هغو سبزیجاتو څخه دی چې د زیات شمیر ناروغیو په وړاندې د بې ضرره درمل رول لوبوي. بینډۍ د لاندې ناروغیو په درملنه کې مرسته کولی شي:

د ویني لږوالی :(Anemia) بینډۍ د ویني له حجراتو سره د ویني بیا تولید کې مرسته کوي او د انیمیا د ناروغۍ مخه نیسي.

د سرطان ضد: په دغه خواړه کې شته انټي اکسیډنټس (Antioxidants) د بدن دفاعي نظام څخه د هغو ازادو رادیکالونو په وړاندې چې حجرات ته بدلون ورکولو سره هغوي ته سرطاني خاصیت ورکوي ساتنه کوي.

نفس تنګي: په بېنډۍ کې شته انټي اکسیډنټس او ویټامین سي د نفس تنګۍ ناروغي په کمولو کې ډیره زیاته مرسته کوي.

هډوکي غښتلی کوي: په بېنډۍ کې شته فولېټ نومې مواد هډوکي پیاوړي کولو سره انسان د هډوکو مختلو ناروغیو څخه ژغوري.

کولیسټرول: په بېنډۍ کې پیدا کیدوونکی محلول فایبر په بدن کې مضرکولیسټرول ټیټولو سره د زړه د حملې او د زړه یو شمیر نورو ناروغیو څخه مخنیوی کوي.

هاضمه: په بېنډۍ کې شته فایبر او نور ګټور مواد د خوړو په هضم او په کولمو کې د هغوي په انتقال کې ډیره زیاته مرسته کوي. له بدن څخه د زهري موادو په خارجولو کې هم مهم رول لوبوي.

شکر: دغه خواړه انسولین (Insulin) ته ورته خاصیت لري او په وینه کې د قندي موادو اندازه کموي

## امروت

امروت هغه مېوه چې له ښکلي خوند سره سره د ویټامینونو او معدني موادو بډایه شرچینه هم بلل کېږي. د امروتو خوړل په اوړي کې د دې لپاره ګټور دي چې هم د بدن د اړتیا وړ مواد پوره کوي او هم د زیاتې تندې مخه نیسي.

امروت له ۷۶ نیولې تر ۸۳ سلنه اوبه او له شپږو تر ۱۲ سلنه قندي مواد لري. په امروتو کې د اسید کچه یو یا دوه سلنه ده چې مالیک سیتریک، تانن، پکتین، انورتین او اسپاراژین یې معلوم اسیدونه دي.

امروت د ویټامین (A,B1, B2, C) او دغه راز د معدني موادو لکه فاسفر، سوډیم، کلسیم، مګنیزیم، ګوګرد، پوتاشیم، مس، اوسپنه، منګنیز او نور تر ټولو ښه زېرمه بلل کېږي.

د امروتو د ونې پوستکی د قبض لپاره ګټور دی؛ دغه راز که د امروتو د ونې پوستکی و اېشول شي، د بډوډو، مثانې ډبرې له منځه وړي او ادرار زیاتوي.

د امروتو د ونې پاڼې هم بې ګټې نه دي؛ د یادې مېوې ونې اېشول شوې پاڼې کولی شي له مثانې څخه بډوډو ته غځېدلې لاره له هر ډول میکربونو څخه پاک کړي.

د خامو امروتو په خوړلو کې باید زیاتی ونه شي؛ ځکه پر معدې فشار راوړي، خو د پخو امروتو خوړل نه یوازې د معدې لپاره ګټور دي، بلکې نور ګنې ګټې هم لري.

که څه هم چې امروت د امیدوارو مېرمنو لپاره ښه مېوه بلل شوې ده، د هغو کسانو لپاره هم د پام وړ ګټه رسوي چې د وینې له کمښت سره مخ وي.

د امروتو ونه له لسو نیولې تر ۲۰ مترو پورې جګوالی، اوږدې رېښې او ساده پاڼې لري، مېوه یې مخروط ته ورته او غوښینه ده.

## د انځر صحي ګټې

انځر ډېره قیمتی غذا ده، د بدن څخه ترویشکی جزبوی چی دغه ترویشکی د زیاتو ناروغیو سبب ګرځی.

پښتورګی او مسالک بولی پریولی،قبض ماتوی خاصتا د ډیر عمر کسان که 3- 4 دانی وچ انځر په اوبو کی خشته کړی او بله ورځ سهار یې په نهاره وخوری او اوبه یې وچښی د قبض د پاره تر هر ډول ګولی انځر ښه درمل دی،د تنفسی جهاز د التهاب دپاره ډیره فایده کوی،د ماشومانو، سپین ږورو، سپوټ کونکو، د امیدوارو میرمنو دپاره ډیره ښه غذا ده،هغه ریګ چې په پښتورګی او مثانه کی وی دهغه د خارجولو او پاکولو دپاره ډیره فایده کوی او او دپښتورګی اومثانی د پریوللو دپاره ښه درمل دی. په 100 ګرامه تازه انځر کی لاندی مواد وجود لری.

اوبه71.1ګرامه، پروټېن1.2 ګرامه، غوړ0.4 ګرامه،کولیسترول0.07ګرامه،کاربون هیدرات16.1 ګرامه، تپاله 1.4 ګرامه، وېټامین ای 75، وېټامین1بی 0.09 ملیګرامه، وېټامېن2 بی0.07 ملیګرامه، وېټامېن سی 2 ملیګرامه، تریو ستریک340 ملیګرامه، صودیم2 ملیګرامه، پوتاشیم190 ملیګرامه، کلسیم 50 ملیګرامه، مګنیزیم21 ملیګرامه، اوسپنه0.8 ملیګرامه، مس0.07 ملیګرامه، ګوګړ12 ملیګرامه، انرژی65، په 100 ګرامه وچ انځر کی لاندی مواد وجود لری. اوبه71.1ګرامه، پروټېن1.2 ګرامه، غوړ0.4 ګرامه،کولیسترول0.07ګرامه،کاربون هیدرات16.1 ګرامه، تپاله 1.9 ګرامه،وېټامین ای 75، وېټامین بی 10.09 ملیګرامه، وېټامېن2 بی 0.07ملیګرامه، تریو نیکوتیک0.63 ملیګرامه، وېټامېن سی2 ملیګرامه، تریو ستریک340 ملیګرامه، صودیم2 ملیګرامه، پوتاشیم190 ملیګرامه، کلسیم 50 ملیګرامه، مګنیزیم21 ملیګرامه، اوسپنه0.8 ملیګرامه، مس0.07 ملیګرامه، فوسفور40 ملیګرامه، ګوګړ12 ملیګرامه، کلورین16 ملیګرامه، یود0.35، کارسین (زنک)0.25 انرژی65.

د پام وړ: دانځر خوراک باید ډیر هم نه شی چې هضم خراب سی او هغه کسان چې کولمی یې التهاب لری تکلیف ورته پیښ کړی تر پنځه یا شپږ دانی دی اضافه نه خوری.

## د پالک ګټې

پاخه شوي پالک تر ټولو ښه، قوي او مغذي خواړه دي؛ که څه هم چې پالک کم کالري خواړه بلل کېږي، خو د معدني موادو او ویټامینونو تر ټولو بډایه سرچینه هم په ګوته شوې ده. کله چې په خپل غذایي رژیم کې پالک ولرئ، نو له چاغوالي مه وېرېږئ، که د بډوډو شګې نه لرئ کولی شئ په اونۍ کې یې ان تر درېیو ځلو مصرف کړئ.

که مو کله عصاب خرابېږي او یا مو په کورنۍ کې څوک دغه ستونزه لري، د پالکو خوړل دې نه هېروي؛ د پالکو خوړل عصاب ارامويي او ذهني توازن مو پیاوړی کوي.

دا چې پالک په خپل ترکیب کې په زیاته کچه کلیسم او ویتامین (که) لري، نو د هډوکو د پیاوړتیا او بیا رغولو لپاره کټور ثابتېږي. هغه کسان چې اوس او یا مخکې یې کوم هډوکی مات شوی وي، په رغېدو کې د پالکو خوړل تر بل هر څه ورسره ښه مرسته کولی شي.

معمولاً کله چې د انسان عمر زیاتېږي د بدن غړي یې هم ورسره ضعیفېږي چې له دې جملې یو یې سترګې دي، خو په پالکو کې شته (کارتنویدونه) هغه مواد دي چې سترګې ځوانې ساتي، کسي یې پر خپل حال پاتې کېږي او د سترګو له دید سره مرسته کوي.

د پالکو د پخولو تر ټولو بده لار د پالک زیات اېشول، خو تر ټولو ښه لاره یې په کمو غوړیو کې سره کول دي؛ ځکه که پالک د ډېر وخت لپاره و اېشول شي په کې شته ټول مودا یې له منځې، بیا نو یوه شنه ګیاه وي او بس.

دا چې پالک نورو خوراکونو ته هم رنګ ورکوي دغه راز په هنر کې هم د رنګونو د تولید لپاره کار ترې کار اخیستل کېږي.

د نړۍ ۸۵ سلنه پالک په چین هېواد کې کرل کېږي، یوه کمه اندازه پالک ۴۰ کالري انرژي لري په داسې حال کې چې د (کټ کټ) چاکلېټ یوه برخه بیا د ۵۷ کالرۍ انرژۍ درلودونکې ده.

پالک په خپل ترکیب کې د (اګزالات) په نوم شیمیایي ماده لري چې د بدن لپاره ګټوره ده، خو زیاته پیمانه یې په بډوډو او مثانه کې د ډبرې جوړېدو لامل کرځي.

نو د هغه کسانو لپاره چې بډوډي یې ډبرې تولیدوي، ډېر نه توصعه کېږي.

روغتیا پالان پر دې اند دي چې پالک د وچې توخلې لپاره تر ټولو ښه نسخه ده، دوی وایي پالک د سرطان ضد خاصیت لري او د وینې د سرو کورویاتو له تولید سره مرسته کوي.

پالک د پروستات، رحم، معدې او حنجرې سرطان له منځه وړي او په وینه کې د کلسټرولو تنظیمول یې اصلي دنده ده.

## د تورو مرچو ګټې

مرچ کولای شي په معده کې هائې ډرو کلورک ایسډ پیدا کوي او ورسره قبض کموي او په ښځو کې دسینو کینسر مخنوی کوي او له بدن څخه زهریلی مواد هم ختموي.

دلندن د مشن پوهنتون څېړونکې وائي د تورو مرچو زیاتوکارولو سره د انسان بدن ته یو نوی روح ورکوي او هم د تورو مرچو خوراک دانسان د چاغوالي په علاج حجراتو د جوړښت مخه نیسي او دانسان په مردانه کمزورۍ کې هم ډیره مرسته کوي.

که چیري یو انسان غواړي چې له زیاتو ښځو سره واده وکړی او هغه سره خوشحال ژوند غواړي بیا دی د تورو مرچو خوراک زیات کړي.

## د خټکي غذایي ګټې

۱ :خټکی د ویټامین A درلودونکی دی، چې د بدن د حجرو په ترمیم او نوښت کې اړین رول لري. ۲: خټکی د ادرار راوړلو او پتاشیم په لرلو سره د پښتورګو او مثانې د ډبرو په ناروغیو کې ګټور تمامیږي. ۳: خټکی په ډېره اندازه د A,D,C ویټامینو او سلولز درلودونکی دی. ٤: خټکی د ښځو د شېدو د زیاتوالي لامل ګرځي. ٥: خټکی د کمخونه ناروغانو لپاره ګټور دی. ٦: خټکی د قبضیت د درملنې لپاره هم وړاندي کېږي۷: خټکی د پوستکي رنګ روښانکوي او د دایمي تندي (تږې) د درملنې سبب ګرځي. ۸: خټکی د غذا په هضم کې مرسته کوي او د سوی هاضمې په کمولو کې رول لري. ۹: خټکی د زیاتو اوبو په درلودلو سره، قندي مواد په وینه کې ژر جذبوي، په نتیجه کې خستګي او ستوماني له منځه وړي. ۱۰: خټکی د قندي او معدني موادو په منځ کې د ځانګړو انزایمونو درلودونکی دی، د هاضمې سرعت زیاتوي په کوچنیانو کې اشتها او فزیکي فعالیت زیاتوي او د بدن د حجراتو د ودې سبب ګرځي.

## د خټکي په استعمال کي لازم احتیاط:

۱_ د خټکي زیات مصرفول د معدې او کلمو د درد لامل کیږي. خټکی باید د غذا څخه وروسته مصرف سي، که نه د اسهال لامل کیږي. هغه کسان چي معده یې کمزوره وي، د خټکي خوړل یې د اسهال لامل ګرځي. په خټکي کي موجود قند د ګلوکوز له کورنۍ څخه دي چي په وینه کي ژر جذبیږي او ډېر ژر د ویني قند لوړوي، نو هغه کسان چي په شکره اخته وي یایې وزن ډېر وي باید د خټکي د مصرفولو څخه ډډه وکړي. پیاد ولرئ: د خټکي د مصرفولو تر ټولو ښه وخت د دوه وخته غذا خوړلو منځ دی.

## کاهو

1-کاوو، یو ډول ګټور سابه دی چي اومه خوړل کیږي. د پاڼو څخه یې په سلاته (سلاد) کي هم کار اخلي. کاهو پلني، اوبه لرونکي، شني پاڼي او ژېړ ګل لري. د جوړې هاضمي ځښتن کولای شي چي هغه ښه هضم کړي. د کاهو کلورفیل د هغه په پوټکي کي ویاو خوړل یې وینه زیاتوي.

کاهو د عصبي مرضو، روماتیزم، نقرس، د سیاټیک د دردو او بدخوابۍ ضد دی او ستړي ماغزه تسکینوي، خو خوړل یې د شیدو، شرابو، خوږو، انیځرو، عسلو، خټ:ي، هندوانې، انګورو او خرما سره ښه نه لګیږي. کاهو په سلوکي ۱-۱۲٪ کاربوهایډریټ، ۱-۹۰،۰٪ پروټین او ۰،۵٪ شحمی مواد لری. د ۱۰۰ ګرامو کاهو خوړل ۱۳-۱٦ کالوري تولیدوي. کاربوهایډریټ یې د همی سلیولوس، مانیت او اینوریت او پانتوزان. کاهو کافي مواد لکه: پوتایم، سوډییم، مګنیزیم، سلفر او یو څه کلسیم هم لري. خوړل یې د ډیابیټ لپاره ګټور دي

## کېله

یوه دانه کېله په متوسطه توګه ۱۶۵ ګرامه ده، چي ۱۵۷ کیلو کالوري انرژي لري. په همدي حساب ۱۰۰ ګرامه کېله ۹۵ کیلو کالوري لري.

کېله د سي ویټامین، فولک اسید، پوتاشیم، مګنیزیم او فایبر ښه سرچینه ده. کیله انسان مړولای شي. یو عدد غټه کېله د دریو خوراکو میوو سره برابره ده، په همدي خاطر باید د خوراک په نسبت مصرف شي.

کېله د روغتیایي له لحاظه د پنځه نمرو څخه د څلورو نمرو خاونده مېوه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## په سل ګرامه کېلې کې د انرژئ کچه:

۱ـ کاربن هایدرایت ۲۱/۳۹ ګرام، ۲ـ پروتئین ۱/۱۵ ګرام، ۳ـ غوړ ۰/۱۸ ګرام، ۴ـ کلسترول نلري، ۵ـ سودیم ۱ ملی ګرام، ۶ـ پوتاشیم ۳۹۳ ملي ګرام، ۷ـ کلسیم ۹ ملي ګرام، ۸ـ ویټامین آ ۳۸ ملي ګرام، ۹ـ ویټامین سي ۱۲ ملي ګرام، ۱۰ـ اوسپنه ۰/۵۵ ملي ګرام.

## منه او د هغې روغتیایي ګټې

منه چې علمي نوم یې Malus domestica او په انګلیسي کې ورته Apple وایي، د Rosaceaپه کورنۍ پورې اړه لري، خوږه او غوښنه مېوه لري، چې ځینې یې په دوبي او ځینې یې په مني کې پخېږي .

منه ډېره ښکلې او په زړه پورې ونه لري؛ چې د ونې لوړوالی یې له ۸/۱ تر ۶/۴ مترو پورې رسېږي؛ شنې بیضوي شکله تېرې څوکې پاڼې لري؛ ګلان یې سپین دي، چې د پسرلي په لومړیو کې له پاڼو سره یوځای په ونه کې راڅرګندېږي .

زموږ د ګران هېواد افغانستان په بېلابېلو سیمو کې د منې ونې کرل کېږي، چې د میدان وردګو منې تر ټولو زیاتې مشهورې دي، چې نه یوازې د هېواد، بلکې د نړۍ په بازارونو کې یې مینه وال ډېر او په لوړ قیمت خرڅېږي .

د منې ونه لومړۍ په مرکزي آسیا کې وکرل شوه، چې زرهاو کاله وروسته د مهاجرو (کډوالو) په وسیله یې اروپا او امریکا ته لاره پیدا کړه، چې په نړۍ کې یې تر دې دمه ۷۵۰۰ پېژندل شوي سورتونه شتون لري .

د نړۍ د ځینو هېوادونو خلک لکه : یونانیان، سکندنویان او د لرغونې اروپا مسیحیان له منې څخه په مذهبي مراسمو کې ګټه اخلي او دغه راز افغانان یې د خپلې خوښۍ په محفلونو کې لکه : د مېلمستیا، کوژدې او واده په مراسمو کې د خپلو مېلمنو د درنښت په خاطر ترې کار اخلي . منه په بشپړه پیمانه دPP ) ، B2، B1، A، او C ) ویټامینونه لري. قندونه یې په ځانګړي ډول ګلوکوز او سلولوز دي. سر بېره پر دې معدني مالګې لکه : فاسفورس، کلسیم، مګنیزیوم، پوټاشیم او نور په خپل ترکیب کې لري .

منه بشپړ خواړه دي، ویټامینونه یې د بدن اړتیا پوره کوي. که منه په ونه کې ښه پخه شي، نو خوشالونکې، زړه او اعصاب قوي کوونکې مېوه ده، د هاضمې جهاز هم پیاوړی کوي او په اروایي توګه انسان ډاډمن کوي . منه د بدن په روغتیا او د پوستکي ښکلا او تازه ساتلو کې ډېر رول لري.

د ينې د ناروغيو د نقرص، روماتېزم او ډيابت د ناروغانو له پاره ښه مېوه ده، څرنګه چې د منې سلولوز له نورو مېوه جاتو څخه لږ دی، نو ځکه يې د نورو په پرتله جذب او هضم آسان دی . يو انګليسي متل دی، چې وايي : که په ورځ کې يوه منه وخورئ، نو هېڅکله به ډاکټر ته ورنه شئ .

د يادونې وړ ده، چې په منه کې شته ويټامينونه د هغې په پوستکي کې ډېر دي، هغه کسان چې کولای شي د منې پوستکی هضم کړي، نو غوره ده، چې له پوستکي سره يې وخوري، که چېرې غواړئ، چې پوستکی يې لرې کړئ، نو غوره ده، چې ډېر نازک يې لرې کړئ.

## په هر ۱۰۰ ګرامه منه کې لاندې مواد شتون لري:

۱ ــ انرژي ۲۵۸ کالوري، ۲ ــ پروتين ۲/۱ ګرامه، ۳ ــ شحميات ۶/۱ ګرامه، ۴ ــ نشايسته ۶/۵۹ ګرامه، ۵ ــ کلسيم ۲۴ ملي ګرامه، ۶ ــ فاسفورس ۱۰ ملي ګرامه، ۷ ــ اوسپنه ۲/۱ ملي ګرامه، ۸ ــ ويټامين اې ۳ مايکرو ګرامه، ۹ ــ ويټامين سي ۶/۴ ملي ګرامه، ۱۰ ــ پوتاشيم ۱۰۷ ملي ګرامه، ۱۱ ــ ويټامين بي يو ۱۵/۰ ملي ګرامه، ۱۲ ــ ويټامين بي دوه ۰۸/۰ ملي ګرامه، ۱۳ ــ ويټامين بي درې ۱/۰ ملي ګرام.

## ويلنی (نانا)

ترکي روغتيا پوهان وايي، چې د ويلني (نانا) خوړل د وينې کلوسټرول کنټرولوي او د دې ترڅنګ ستاسو هډوکي هم قوي کوي.

روغتيا پوهان وايي، چې نويو څېړنو ثابته کړې، د ويلني پرلپسې استعمال د انسان د وينې کلوسټرول کنټرولوي او په کې موجود (ميګنيزيم) هډوکو ته طاقت او ځواک ورکوي. که څه هم نانا يوه عادي سبزي ښکاري؛ خو ګټې يې ډېرې زياتې دي.

# ژاولو روغتیایي ګټې

۱ -نیکوتین لرونکې ژاولې دغه ژاولې په خپل ترکیب کې نیکوتین لري او له هغو کسانو سره مرسته کوي چې غواړي سګرېټ پرېږدي.

## ۲ -بې قنده ژاولې

ډېری کسان له ډوډۍ خوړلو وروسته له دې ډول ژاولو څخه ګټه اخلي؛ ځکه نه یوازې غاښونو ته زیان نه رسوي، بلکې په پاکولو کې یې مرسته کوي. په دې ډول ژاولو کې د ګلوکز پر ځای له مصنوعي او بې ضرره قندونو کار اخیستل شوی.

## ۳ -مخدره توکي لرونکې ژاولې

دغه ډول ژاولې په خپل ترکیب کې مخدره مواد لري چې د روغتیا پالانو په وینا د وخت په تېرېدو سره انسان د خولې، اوریو او ژبې پر سرطان اخته کوي.

## ولې ژاولې کاروو

د خولې بد بوی له منځه وړي، د غاښونو او اوریو د پاکوالي لامل کېږي. دا سمه ده چې ژاولې د غاښونو او خولې له پاک ساتلو سره مرسته کوي، خو هېڅکله هم د غاښونو د برس، کرېمو او مسواک ځای نه شي نیولی.

له ډوډۍ خوړلو وروسته د لسو دقیقو لپاره د ژاولو ژول په معده کې د خوراکي موادو له هضم سره مرسته کوي.

## ولې ژاولې ونه ژوو

د ژاولو ژولو پر مهال تر ډېره خوله وازه او بسته کېږي، معدې ته اضافي هوا داخلېږي او د معدې د پړسوب لامل کېږي.

د ډېر وخت لپاره د ژاولو ژول د غاښونو او خولې د درد لامل کېږي.

د ژاولو ژول په هغو کسانو کې د وینې فشار د لوړېدو لامل کېږي چې د زړه ناروغي لري.

# کشمش

دوپښی تریو تیزاب ختموی ،وبدن ته ښه طاقت ورکوی،داپښي دپاره ډیر ه فایده کوی

دتنفسي جهاز دناروغیو دپاره ډیره فایده کوی ، دبولو او مثاني دناروغیو دپاره ډیره ګټه رسوی، دنیکوتینو تاثیر ختموی.

# وړه

وړه شراپن د بندیدو څخه ساتی ولی چی په رګو کی د کولسترول جمع کیدل د منځه وړی ، فوسفو او کلسیم پکښی ډیر دی ،د وینې فشار ټیټوی ،اشتها خلاصوی ،کولمې پاکوی او سپږسکې چنجیان خارجوی ،نس ناسته ختموی خاصتا هغه نس ناسته چې د مکروب له وجې پیداسوی وی،بلغم ورکوی ، ټوخ دروی هغه ټوخ چې د سل د ناروغې او د سږی د التهاب څخه پیداسوی وی، بولی ډیروی،جنسی طاقت ډیروی،اعصاب قوی کوی ،د پښتورګی او مثانې رېګ صفاکوی ،وړه که کور کی دود سی د سل او د فتریا مکروب وژنی ،دغاښ درد ارامو ی

# دپام وړ:

هغه کسان چې معده یې ضعیفه وی او یا دمعدې تېزاب یې ډیر وی هغه دی وړه ډیره نه خوری ،دماشوم مور چې وماشوم ته شیدې ورکوی هغه دی وړه نه خوری ،دوړی تر خوړولو وروسته دخولی دبوی دورکولو دپاره څو تاره بقدونس ، نخود ، اویا یوه کاچوغه شهت وخوری چی بوی یې ورک شی.

# لیمبو

دلیمبو فایدې دلیمبوخوړل د مخه تر خوړو اشتها خلاصوی ، لیمبوکه وروسته ترخوړو وخوړل شی خواړه هضموی ، لیمبوپه

ویټامین سی غنی دی په هډوکو کی کلسیم تثبتوی ، د وینی سپین کرویات په کار اچوی او د ناروغیوممانعت راولی ، هغه کسان چی تر پزه یی وینی راځی وهغو ته ډیره فایده کوی ، مکروبونه وژنی او ذکام ته ډیره فایده کوی ،تنفسی جهاز او حنجره صافوی ،د ګیډی بادونه ورکوی،د خولی دانی ورکوی ،د بدن پلې په کار اچوی ستړی کس ته ډیره فایده کوی ، د لیمبو تیل د عطرونواو شامپو په جوړولوکی ډیر استعمالوی ،که د لیمبوټوټې پر مخ او غاړه کښیښودل شی د پوست غوړ ختموی ،که په اونی کی دوه واره مخ د لیمبو په اوبو غوړ سی د مخ کوتان ورکووی ،د لیمبو اوبه که دګلسرین سره ګډی شی او لاسونه په غوړ شی د لاسو

سږوالی ورکوی او لاسونه نرموی ،هغه نوکان چی ژر ماتیږی که د لیمبو په اوبو ولړسی نو کان به بیا نه ماتیږی ،که غوماشی ، غالبوزی چیچلی ځای باندی که لیمبو وموښل شی ډیره فایده ، د وینی فقیر ته ، اوهغه کسان چی اینه یې کا کوی وهغوی ته ډیره فایده کوی، د لیمبو پوستکی د ګیډی چنجیان خارجوی ، په ژړ بریښندوکی لیمبو کی ګټه زیاته وی اوپه شین لیمبو کی ویټامین سی لږ وی په لیمبو کهپه زړه پونده وموښل سی دپوندی زړوالی سموی

لیمبو باید د لږ څه اوبو سره وچښل شی او سهار په تودو اوبو کی وچیښل سی د معدې او اینې څخه زاریات خارجوی ، د لیمبو اوبه ډیر ژر خرابیږی باید تازه استعمال شی.

# زردالو

ښه غذا ده ژر هضمیږی ، دوینی فقیر ته ډیره فایده کوی ولی چی په زردالو کی اوسپنه ډیره ده اعصاب ارامو ی او خوله ختموی ، اشتها خلاصوی وسترګو ته ډیره فایده کوی ولی چی ویټامین ای پکښی ډیره ده ، اشتها خلاصوی او دنارغیو پر ضد دفاع کوی ، د ماشوم جسم ته ډیره فایده رسوی د زردالو خوړې مندکی هم ډیر فایده لری لکه بادام د زردالو په مندکه کی تر زردالو ګټه ډیره ده.

په وچ زردالو( سرخوچه ، کشته ) ډیری فایدی یوه کامله غذا ده او څلور چنده تر تازه زردالو ښه ده دوچ زدالو شربت ډیری فایدی لری خاصتا په روژه مبارکه کی که د روژه مات پر وخت وچیښل سی د بدن هغه کم سوی مواد پوره کوی زموږ په ګران هیواد کی د دی قیمت بها غذا میوه ډیره ده لاکن متاصفانه په کمال نه ده رسیدلی په سوریه کی داشتغ څخه یو نرم نری ورغ جوړیږی او بیا په پلاسټک کی اینودل کیږی په بازارونوکی په ښه قیمت پرولل کیږی او وخارج ته په ټنو صادریږی.

# انار

انار اعصاب قوی کوی ،که داناروپه اوبو لږ څه اوبه اوشهت ګډ سی تنفسی جهاز پاکوی ، قبض سموی وینه پاکوی او کولمې د غوړو څخه پاکوی دانار ددرختی په پوستکې کی دوه مواده ( بلیترین ، ایزوبلیترین 0.25 ٪)وجود لری چې دکیډی داوړدوچنجیانوپه خارجولو کی ډیره مرسته کوی.

انار بدن ته ښه طاقت ورکوی،انار وینه پاکوی که دوه ګیلاسه دانار اوبه دورځی وچیښل سی سترګی روښانه کوی دسر درد ، تبه ، دنس ناسته ختموی، دانار اوبه په پښتورګی کی ډبری ویلی کوی ،انار معده اوزړه قوی کوی بولی ډیروی ، په بدن کی ګرمی ختموی.

# رومي

اشتها خلاصوی، طبیب او ډاکتر د رومیانو په خوړلو او د هغه د اوبو په څښلوو هغو کسانو ته امر کوی چې د روماتیزم ، نقرس ( د پښوبجلوکو درد) د پښتورګې ډبری ، د بولواو مثانې ریګ ، او د بندونوالتهاب ناوغي لری ، د رومی کامل ( اوبه ، پوستکې ، او مندکې ) ټوله خوړل دی ولی چی د رومې پوستکې د نرۍ کولمو حرکت اسانه کوی او هغه مواد چی په نری کولمو کی وراسته شوی وی هغه خارجوی ، رومې نرم دی او پوستکې په نرۍ کولمو کی نه جزبیږی دغټو کولمو ته چې ورسیږی نو هغه فضول مواد مات او ټوټه کړی ددی سببه د هغو کسانو د پاره ډېر فایده کوی چې د قبض ناروغی لری ، هغه کسان چې د معدی تیزاب یې ډېر وی دهغو دپاره فایده کوی ، وینه قوی کوی دهغو کسانو دپاره چې د وینې دفقر په ناروغې اخته وی او یا خپله وینه وبل ناروغ ته ورکړی او بیا رومیان وخوری ډېره فایده ورته کوی، هغه کسان چې دزړه ، شګر ، او چاغوالی ناروغې لری وهغو فایده کوی ، ماشوم اود ډېر عمر کسانو ته ښه فایده کوی ، درومیانو اوبه هغه مکروب چې وجسم ته فایده کوی په ګیډه او کولمو کې سالم ساتی ، دری ګیلاسه اوبه او یو ګیلاس درومی اوبه که سهار په نهاره وڅښل سی 90 ورځی ډېر ښه رژیم دی

# دپیام وړ

هغه کسان چې داپنې ناروغې ، دغټو کولمو التهاب لری درومې بوستکی دی نه خوری ،که مو درومیانو سلاطه خوړل نو هغه ته لیمبو ، مالګه ،او سرکه ډېره مه وراچوې ولی چی هغه خپله ډېره تروېشکې لری ،رومې ډېر مه پخوی ولی چی دفایدی ویټامین ئی کمیږی خاصتا په اوبو کی او ښه داده چی په غوړو او کوچ کی پاخه شی چی بعضی ویتنامین سی او نور موادئی سالم پاته شی او که څو څاڅکی سرکه او یا لیمبو دپخلی پر وخت درواچول شی رنګ به یې دمنځه نه ځې.

# پیاز

پیاز اعصاب قوی کوی ، وینه صافوی د وینی جریان تنظیموی ،مکروب وژنی خاصتا دتیفوس مکروب ، په پیازو هغه مواد دی چی د پنسلین کار هم څنی اخستلای شو بولی ډیروی، د ځیګر د التهاب دپاره ډېره فایده کوی ،د چنګاښ د ناروغې ضد دی هغه څوک چی پیاز خوری هغه به دچنګاښ د ناروغې څخه په امان وی ، اشتها خلاصوی او ښه غدا ده دهغو کسانو دپاره چی معده یې قوی وی ، د شګر ناروغ ته ډېره فایده کوی او د خولې وچوالی به یې ورک سی فرانسوی عالم ثابته کړی ده چی په پیاز کی یوه ماده دګلوکینین وجود چی دانسولین کار ورکوی جنسی طاقت ډېروی ، دزړه حرکت قوی کوی او شراېین د

بنديدو څخه ساتي، وپوستکي او وېښتانو ته ډيره فايده رسوی، که څوک ترخوب د مخه يوه کوچنې دانه پياز وخوری ډير ښه خوب به ورسی لاکن په ګيډه بادونه پيداکوی او که يې سهارتر نهارې دمخه وخوری هاضمه به يې ښه شی.

## دپام وړ

په هغو هيوادو کی چی د پيازو خوراک ډير دی هلته د چنګاښ ناروغی هيڅ وجود نه لری ، پياز بايدپه داسی ځای کی وساتل سی چی وچ ځای وی او هوا يې خلاصه وی سپن سوی پياز که پاته شی هغه بايد بيا استعمال نه شی ولی چی هغه زاريات جوړ شی.

## د غوزانو طبعی ګټی :

غوزان عصبي او عضلاتي سيستيمونو ته قوت ورکوی . غوزان د وينی لوړ فشار او د زړه ناروغيو لپاره ګټور دی د الالينولينګ اسيد په درلودلو سره پوهان دا ماده د زړه له حملو په مخنيوي کې مهمه بولي ۲ دانی غوزان د زړه ناروغ لپاره دير ګټور دی .

غوزان د کلسترولو په کمولوکی مهم رول لری او که هر ورځ وخوړل شی ممکن کولسترول له منځه يوسی .

د بواسيرو، او همدارنګه که څوک قبضيت څخه رنځ وړی نو غوزان ورته دير موثر دی د قبضيت مريض دی د وچو انځرو سره يو ځای په ورځ کې د چاى خوړلو يوه کاشوغه د جوش اوبو سره وخورې .

د سترګو ليدو حس، ورسره زياتيږی او هم ويښتان ورسره قوی کيږی . لازمی انرژی پوره کولو په موخه کوچنيانو ته دير ګټور دی. د جلدي امراضو د تداوی لپاره،لکه اګزما يعني پرسوب،زيړ زخم،وچوالی،لپاره د غوزانو ايشيدلو پاڼو څخه استفاده وکړی.

د غوزانو د ونې ايشيدلې پاڼې د کدوداني چينجي غوزان په کوچنيانو او ښځو کی د وينی کموالی په له منځه وړلو کی دير ګټور دی.

که د غوزان تازه پوستکی په غاښونو او يا وريو وموښل شی د غاښونو پاک کيدو ترڅنګ قوی کيږی .

د پورتنيو ګټو په اساس بايد د غوزانو خوړلو کی افراط ونشی په ورځ کی بايد د ۵ دانو څخه دير ونه وخوړل ځکه د غوزانو زيات خوړل د بدن په صحت باندی ناوړه اغيزه کوی او هم د يادولو وړ ده هغه کسان چی د معدی تکليف ولری او يا د دير چاغښت څخه رنځ وړی بايد د غوزنو د خوړلو څخه ډده وکړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غوزان دا لاندې مواد لري .

پروټين، غوړ، بوره، کلسيم، فاسفورس، اوسپنه، پټاشيم، سوډيم، مګنيزيم، مس او د B ويټامينونو کورنی سره په ځنګ کې A .C. E ويټامينونه هم لري. همدارنګه امينو اسيدونه ، انټي اکسيډنټ چې په نورو بوټو کې کم پيدا کيږي چې د ناروغيو د مخنيوي لپاره ډېر ګټور دي په غوزانو کې په اسانی سره پيداکيدلی شي .

## خوب ماغزه له زهرجنو موادو "پاکوي"

ډاکټره نيډير ګارډ زياتوي چې د ذهن مينځلو دغه عمليه د ماغزو د فعاليت ډېرېدو لپاره حياتي بنه لري، چې په ويښ والي کې دا کار ناممکن دی.

امريکايي څېړونکو دا ثابته کړې ده، چې د انسان ماغزه له خوبه د هغو زهرجنو اضافي ځيزونو د خلاصون په توګه ګټه اخلي، چې د ورځې په اوږدو کې د انسان ذهن ورسره څه-ناڅه ګډوډ شوی وی او يا يې ډېر سوچ کړی وي.

څېړونکو ويلي "په ذهن کې له اضافي ځيزونو د خلاصون سيستم" د خوب له اصلي لاملونو ګڼل کيږي.

### دغه تجربه پر موږکانو شوې ده:

دوی وايي، کټ مټ د انسان ذهن هم داسې دی، چې د ورځې په اوږدو او ويښ والي پرمهال د عصبي ژونکو ترمنځ د اړيکو پرمهال له ډېر سوچ او فکر ستړی شوی وي، چې دا ستړيا د خوب په کولو له منځه ځي.

د (ساينس) په نامه نشريه کې د دغې څېړنې پايلې دا هم ثابته کړې ده، چې د خوب پروخت د مغزو ژونکې چوملکېږي چې دا کار د کوچنيو سوريو د پرانيستلو لامل ګرځي او اوبلنو موادو ته د "مغزو د مينځلو" اجازه ورکوي.

همداشان، دوی وايي که چېرې د مغزو دغه کوچني سوري بند پاتې شي، د ځينو عصبي ناروغو سبب هم ګرځېدلی شي.

مخکينيو څېړنو ښوولې وه، چې خوب د ذهن په پياوړتيا او د زده کړې په زياتوالي کې ښه رول لري، خو د نيويارک روشسټر پوهنتون څېړنو ښوولې چې خوب د ماغزو د ژونکو (حجرو) په "ساتنه" کې مهم رول لوبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ځېرونکې ډلې یوې غړې ډاکترې مایکن نیډیر ګارډ ویلي "ماغزه ډېر کم ځواک لري، چې تر ډېره په دوه لاره کې ګیر وي: یا ویښ پاتېږي او سوچ کوي او یا هم ویدېږي او محفوظ ساتل کیږي."

نوموړې زیاتوي "ماغزه په کور کې د کوربنې د چوپړ دنده مخ ته وړي، یا مېلمنو ته ښه راغلاست وايي او یا کور پاک ساتي... خو دواړې چارې پر یو مهال نه شي کولی."

## د موږکانو ماغزه

دغه ځېړنه د تېر کال د پوهانو د هغې ځېړنې بشپړوونکې ده، چې د ګلیمفاوي سیستم یا Glymphatic systemپه نامه یو سیستم یې کشف کړی و، چې له ناوړه ځیزونو د ذهن د خلاصون کار مخته بیايي.

پوهانو د موږکانو پر ماغزو د ځېړنې پایله کې دا دلیل راوړی و، چې ګلیمفاوي سیستم د خوب پرمهال د موږکانو د ماغزو دغه سیستم لس ځلې ډېر وي.

دوی دا هم ویلي وو، چې په ماغزو کې ځانګړې ژونکې –چې تر ډېره د ماغزو د ژونکو د ژوندي ساتلو دنده لري- د خوب پروخت چوملکې وي، چې د نورو ژونکو په منځ کې د مضرو ځیزونو د لیرې کولو لپاره کار کوي.

ډاکټره نیډیر ګارډ زیاتوي چې د ذهن مینځلو دغه عملیه د ماغزو د فعالیت ډېرېدو لپاره حیاتي بڼه لري، چې په ویښ والي کې دا کار ناممکن دی.

هغې بي بي سي ته وویل: "طبعاً دا ټول اټکلونه دي، خو ښکاري چې ماغزه خپلو ټولو برخو ته د اوبلو موادو په رسولو کې د معلوماتو د راکړې ورکړې پرمهال –یعنې ویښ والي کې- لږ فعالیت کولی شي".

## د لب سرین ښځه د سرطان مریضي پیدا کیږي

اروپایانو به پخوا ویل چې سره شونډان باید سړی مچ کړي ، مګر اوس وایي د سر شونډانو ښځه لیري کرځه چي د سرطان مریضي ځینی پیدا کیږی . په حقیقت کي همداسي هم ده .

د امریکا فدرالی صحي موئسیسي له ډیرو پلټنو وروسته ثبوت کړه چي د ښځو په لب سرین کي له هغه مصنوعي رنګونوسره چي لب سرین ځینی جوړوي ، سرب هم شامل دي . د طب له نقطه نظره ډیر وخت پخوا ثبوت شوی وه چي د سربو ښځه سرطان پیدا کیږي.

د نړۍ والو پلټنو له مخې هره ښځه په خپل ژوند کې څه د پاسه ۳،۵ کیلو ګرامه لب سرین خوري . له همدی کبله دې راپور زیاته نا راحتي رامنځ ته کړیده . په راپور کې راغلي دي چې د لب سرین جوړونکې مشهوره کمپنیاني د خپلو تولیداتو سره سرب ور ګډوي .

د سربو خاصیت په لب سرین کی دادی چې لب سرین زیات وخت پر شونډانو پاته کیږي . سرب چې هر څومره زیات وخت د انسان پر پوست پاته شي هغمومره یې تاثیر زیات دی او د سرطان لپاره ژر لاره هواروي . په کال ۱۹۸۷ کې کوم وخت چې د لمړي ځل لپاره ثابته شوه چې سرب د انستان لپاره مضر دي ، د بنزین او پنسل قلمانو له نسخې څخه و ایستل شول اوس امریکایي تحقیقاتو ثبوت کړه چې په لب سرین کې سرب هم دصحت لپاره خطر لري .

# نارنج ا و سلامتیا

سربېره پر دې چې د نارنج بېلابېلې برخې خوراکي مصرف لري، یو درمیلز بوټی هم ګڼل کېږي. د دغې مېوې له پاڼو ، اوبو ،او دم کړې جوشاندې څخه دډېرو نا روغیو په درملنه کې ګټه اخیستل کیږي

د نارنج اوبه پرېمانه ویټامین سي لري چې د خوړو خوند ورسر ه ښه کېدای شي خو نارنج د معدې ، پوستکې ،عصبي سېستم، د وینې د جریان او تنفسي سېستم لپاره ګټو ر مېوه ده حتی د نارنج پوستکی د ډېرو ناروغیو لپاره ګټور

ثا بت شوی دی. لکه چې وویل شول د نارنج اوبه ویټامین سي لري خو په ټو ل کې د نارنج ګټې او اغېزې په دې ډول را لنډولای شو:

که د نارنج له پاڼو چاې دم کړو اشتها ورسره زیاتېږي ا ود هاضمې قدرت زیاتوي دغه چاې به سلګۍ کمې کړي او قولنج هم له منځه وړي.

که د نارنج پاڼې په سیوري کې وچې کړو د هغو کسانو لپاره به ډېره ګټّه ولري چې هاضمه یې سمه نه ده پر دې سربېره د عضلو قوت ورسره زیاتېږي .او د ماشوم د خېټې درد ورسره کمېږي

د نارنج د پوستکي دم کړي چاې هم ډېرې ګټې لري د بېلګې په توګه که تر خوړو مخکې وخوړل شي اشتها ورسره ښه کیږي او د کولمو د مېکروبونو د ختمولو لپاره ښه دي.

ویل کیږي که د نارنج د ونې جرړې وچې او بیا د چاې په ډول دم شي د کولمو د مېکروبو نو په ختمېدو ا و د قبضیت په له منځه وړلو کې ډېره مرسته کوي.

د نارنج د ګل دبټ ولولو لپاره باید یو لړ شریطو ته پام وشي د ساري په توګه باید د نارنج ګل سهار راټول او په تیارې او سیوري کې وچ شي که له دغه ګلانو چاې دم کړو او ویې

ډېنو دسترس (روحي فشار) په ختمېدو کې ډېره مرسته کوي هغه کسان چې کمزوري اعصاب لري باید له دغې جوشاندې ګټه پورته کړي.

تجربو ثابته کړې ده که د نارنج پوست په مخ ومښل شي دځوانکې یا اکنې (Acne) په درملنه کې مرسته کوي او پوستکی تاند او ځوان ساتي د پوستکي په ډېرو ماسکونو کې د نارنج له شیرې استفاده کېږي.

د نارنج شربت درګونو ترومبوز (په رګونو کې د وینې پرنډکېدل) لپاره ګټور ثابت شوي دي هغه کسان چې د وینې غلظت یې ډېر وي هغوی ته سپارښتنه کېږي چې د نارنج شربت وڅښي.

د نارنج د غوټېو بویول د ذکام لپاره ګټور وي او د آنژین او ټوخي په معالجه کې تر ې استفاده کېږي.

## خو دغه ترکیبات چې مونږ یاد کړل څه ډول یې برابرولای شو:

**د نارنج د پاڼې چاي :** د نارنج یو ه پاڼه په یو ګیلاس جوش اوبو کې واچوئ او له څو د قیقو وروسته یې وڅښئ.

د نارنج پوستکی هم له دې وروسته چې ټو ټه مو کړ په یو ګیلاس اوبو کې یې د شلو دقیقو لپاره وایشوئ دغه چوشاند ه له ډوډۍ وروسته څښل کېږي.

پر دې سربېره نارنج پخولاي هم شئ یو سلامت نارنج په اوبو کې وایشوئ چې تریخوالی یې ولاړ شي لومړنۍ اوبه یې وغورځوئ او بیا یې د شلو دقېقو لپاره وایشوئ وروسته یې په یو ټوکر وچ کړئ او هر سهار یې په نهاره وخورئ.

د نارنج له شربت څخه هم استفاده کېداې شي د نارنج د شربت د ترلاسه کولو لپاره درې کیلو نارنج وایشوئ او تر دې چې نیمایي ته ورسېږي له هغه وروسته یې ځګ (کف) راټول کړئ او بیا د بورې یا چینۍ په ګډلو سره شربت تیار کړئ.

نارنج نرۍ نرۍ پرې کړئ او بیا یې پر پوستکي د څو دقیقو لپاره کېږدئ دغه کار به ستاسو د پوستکي له سلامتیا سره ډېره مرسته وکړي البته دېرش قیقې ورسته خپل مخ پرېمینځئ.

# سهار وخته راويښېدل د ښه صحت او خوشالۍ سبب کېږي

يوه نوې څېړنه ښيي چې کوم کسان له خوبه نسبتا وختي راويښېږي ، تر هغو کسانو يې د خوشحالۍ او د ښه صحت د لرلو امکان زيات دي چې سهار ناوخته راپاڅېږي.

په روهيامپټون پوهنتون کې محققان وايي چې دوي ته معلومه شوې ده چې کوم کسان سهار مهال نسبتا وختي راويښيږي، د ورځني کار په وخت ممکن تر نورو تکړه او تازه وي. خو برعکس، هغه کسان چې شپې مالې تر ډېرو پورې ويښ وي

او سهار ناوخته راويښېږي، په روحي مړاويتوب او پريشانۍ باندې يې د مبتلا کېدو امکان ډېر دي.

د روهيامپټون پوهنتون محققانو له خوب څخه د وخته يا ناوخته راپاڅېدو په اړه د څېړنې په موده کې له يو زر او اته شپېته کسانو پوښتنې وکړې او د هغوي ژوند يې مطالعه کړ او بيا دې نتېجې ته ورسېدل چې کوم کسان د سهار تر اوو بجو دمخه راويښېږي، هغوي بايد د سهار وګړي وبولو او کوم کسان چې د نهو بجو شاوخوا راويښېږي، هغوي بايد د شپې وګړي وګڼو. د دغو محققانو په نظر د شپې وګړي د سهار تر وګړيو نسبتا ډېر چاغېږي او صحت يې نسبتا ښه نه وي.

ټلګراف ورځپاڼه د دې څېړنې د ټيم د يوه غړي ډاکتر جورګ هابر له قوله ليکي چې : په متوسط ډول د سهار د وګړيو وزن د شپې د وګړيو تر وزن کم وي ، صحت يې بهتره وي او په ژوند کې يې خوشحاله زياته وي.

## ګندنه

ګندنه زياتی فايدې لری ، په ګندنه کی 90٪ اوبه يو ګرام پروتين 5 ګرامه شکر دی په ګندنه کی ويټامين ای ، ويټامين بی او ويټامين سی ، کلسيم ، فوسفور ، پو تاشيم منګنيز ، اوسپنه ، ګوګړ ، او کلورين وجود لری ګندنه لکه پياز دمکروب ضد ده ، د ګيډی څخه چنجيان خارجوی ، جسم ته ښه طاقت ورکوی ،اواز صافوی غزلچيان يی د اواز دصافولو دپاره خوری، د سل ناروغ ته زياته ګټه رسوی ، د قولنج ناروغ ته ګټه رسوی،جنسی طاقت زياتوی ، بلغم خارجوی ،کولمی پاکوی ، هغه کسان چی وينه يې کمه وی وهغوی ته زياته ګټه لری ،د مثانی او پښتورګی التهاب سموی ، اعصاب قوی کوی او شريانونه نرموی ،بولی زياتوی ، هغه کسان چی دبندونو دردونه لری يا روماتيزمی دردونه لری وهغوی ته ډيره ګټه رسوی ،شيدې زياتوی د ګندنی په اوبو اوړه خيشته کړی او پر چنجکۍ کښيښږدی د چنجکۍ زۀوب به خارج سی ، د ډير سخت ټو خ د پاره تازه ګندنه د لږ څه ګبين سره ګډ کړی او سهار

په نهاره وخوری تږخ به ارام سی ، د شاشه بنده د پاره لږ ګندنه وایشوی او د زیتون غوړی په ګډ کړی تاوده یې ترنامه لاندی یعنی پر مثانه ورکښیښږدی بولی به یې ایله سی ، د ماشومان د دانو دپاره لږ څه د ګندنی اوبه د شیدو سره ګډی کړی او د ماشوم مخ په غوړ کړی هغه سری دانی به ورکی کړی جلدی پاړسوب هم سموی.

# ګازره

ډیر کم نور سبزیجات موجود دي چې په دی اندازه کاروتین ولری او په بدن کې په ویتامین Aتبدیل شي.

دا سبزي ریشتیا هم هر کاره او د ویتامین B اوC غني منبع ده همدارنګه کلسیم او پیکتین فایبر لري چې د دې فایبر دنده د کلسترولو کمول دي.

ګازره داسی یو نبات ده چې ٪۸۷ اوبه لري د منرالي مالګو او ویتامینونو سره.

ګازره د ویتامینA ، پتاسیم، ویتامین C وB6 ، مس، فولیک اسید، تیامین او مګنیزیمو غنی منبع ده.

په لوړه سویه بیتا کاروتین لري چې د ګازرې د نارنجی رنګ سبب شوی.

## د ګازری مثبت تاثیرات په بدن:

د جلد، ویښتو او نوکانو ښکلا

که هره ورځ د ګازرې جوس وڅښل شي د مایکروب مقابل کې بدن مقاومت پیدا کوی او د اندوکراین غدو او ګردو ته خاص ارزښت لري.

د قلبي حملو مخنیوی ، د ) Anemiaکم خونی) سره مبارزه ، په وینه کې د قندو تنظیم ، د سترګو سلامتیا کوي او داسی نوری ډیری ګټی... خو په مناسبه اندازه د ګازری جوس او یا خام خوړل ډیره ګټه لري د اندازې څخه زیات خوړل یې تاوان لري.

د ګازرې جوس په یو وخت کې ډیر مه څښئ صبر وکړئ څو معده مخکینیو جوس څخه خالي شي.

یو وخت کې څو ګیلاسه څښل ستاسی د جلد په رنګ بدې اغیزې لري او ستاسی بدن د سرطان سره مبارزه کوي نو ډیر antioxidants ته ضرورت لری.

Carotenemiaیوه طبی اصطلاح ده چې په وینه کې د کاروتین د زیاتوالی له امله منځ ته راځی چې د ښه صحت په معنا نده. نو زه تاسی له هره ورځ ۱ ګیلاس سپارښتنه کوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library


# شلغم د سرطان ضد ترکاري

شلغم نه یوازې د ویټامینو له ارخه او د معدنی خواص د درلودلو له امله ډیره باارزښت دی بلکه د نورو نا خواړه خصوصیاتو له مخې هم مکمل دی او له مهمو سبزیو له جملو څخه ګڼل کیږي.

د پیاز ترځنګ پاڼې لرونکي سبزي (شنه بوټي) هم د سرطان د مخنیوی عمده لامل ګڼل کیږی. ځکه دوی لکه د کلم پیچ او نورو چلیپایی بوټي ( د بوټو یو ګروه) هغه ځانګری مواد خپل ترکیب کې لري چې د ژوندي ژوي د سرطان د نارغیو د ودي مخنیوي کوي. همدارنګه غوړي لرونکی شلغم (منداب) چې غټ او زیرچکی شلغم دی د سرطان ضد مواد لري. یو د دغودسرطان ضد مواد چې په شلغم کې شته د( ګلوکوسینولیت ) په نوم یادیږی.

شلغم لرونکې سبزي لکه پانه لرونکې کلم، پالک د دغو شنو او پانه لرونکیو بوټیود جملو څخه دي. کتل شوی هغه ګڼ خلک چې دارنګه شنه سبزی ډیر کاروي د هغوی اخته کیدل کچه دسرطان په بیلا بیلی ناروغیو باندی په ځانګری توګه د شش سرطان باندی ډیره کم دی. د نریوالی مطالعی داسی څرګندوی چې شنه سبزیو او هغه چې ګڼ پاڼې لری شاید د ځینو سرطان د له مینځه ورلو ګته ور لامل يي. او ددي ترڅنګ دغو سبزیو په ډیر کچه (کاروتنویدونه) چې پکې (بتاکاروتن او کلروفیل) هم شته په خپل ترکیب کې یی لري او دا دواره مواد د سرطان ضد خاصیت لري.

# د اوربړو د استفادې ارزښت او اهمیت

په هغه خوسکیو کی چی نوي و دنیا ته راغلي وی او د بدن محافظوی سیستم یې اوس هم مکمل نه وي د اوربړو لاسته راونه ډیره حیاتی ده. خوسکی تر ۱-۲ میاشتني چی دمحافظوي سیستم یی مکملیږی و اوربړو ته ضرورت لری. په اوربړو کی ضروری آنتی باډیاني او ایمنوګلوبولینونه ( ضروري پروتینونه ) شامل دي چی د خوسکیو سره د بیماریو او ناروغیو په منظور کومک کوي. دغه محافظت چی خوسکي یی د اوربړو د لارې لاسته راوړي، غیرفعال محافظت یا معافیت( Passive Immunity ) ورته ویل کیږي.

اوربړه د ۲۲٪ په حدودو کی او شیدې د ۱۲٪ په حدودو کی جامده ماده ده. د دغو جامدو موادو ډیر په اوربړو کی د ایمنوګلوبینونو دي. اوربړه همدارنګه د باکیفیته او لوړو منابعو د پروتینو ، قند ، وازګه او ویتامین A او E په ځان کی لري.

## د اوربوزو مکملې ګټې:

اوربوزه درلودونکی د قوی فکتورونو ( عواملو) دي چې د محافظیت سیستم عملکرد یا کړنه په مناسب شکل ګرځوی او د هغه د فعالیت ارتقاء او په فعالیت کی توازن تر خپلې اندازې زیات کومک کوي. د ویروسونو ، باکتریاو ، آلرژنونو ، الرجنونو او مخمرونو سره په مبارزه کی کومک کوي همدارنګه میکروبي کولمه پیز بوټی متوازن او د د مناسب هضم څخه ملاتړ کوي.

## د اوربوزو رول د ودې د مخالفو فکتورونو په برابر:

اوربوزه د چربی څخه د استفادې قابلیت ته ډیروالی وربخښي. د چربی سوځول مناسب احتراق د عضو غښتلیتوب رامینځته کوي او د انعطاف په ساتلو او منځته راوړلو کی د احتراق څخه وروسته په سلامتی سره ممکنه ده. اوربوزه د طبیعی سلول د رُشد او جوړولوڅخه د حمایت یوخاص قوت لري. نسجونه کومک کوي ، تنګونې او ګرونې ته سرعت ورکړي او د الودګیو او کثافاتو مخه ونیسی. د هډوکي د ودې د سلامتیا، نښلونکې نسجونه، پوست ، عضلې او عصبی رشتې او دهغه په بیا جوړولو کی کومک کوی او همداشان د وینې خوږوالی ، ګلوکوز او د مغز کیماوی سطحې( سروتنین او دوپامین) متوازن کوي DNA RNA .
بهترین شکل د کپسول او پودرو د اوربوزو دی، د معافیت د کپسولو د تقویت لپاره د هضم لارې اماده کوي. د مصرف طریقه د دوو څخه تر څلورو کپسولو ، دوه واره په ورځ کی په یوه ډک ګلاس اوبو کی په داسی حال کی چی معده خالی وي کیږي. د اوربوزو مصرف په ناشته او د ورځی په مینځ کی ښه پایله لري. د اوربوزو د پودورو مصرف هم امکان لري د بدن جوړونکو او یا ټوله کسان چی د هغه زیاد مصرف ته اړتیا لري ګټمن او د احتیاج وړ وي.
ډیر ورزشکاران بدن جوړونکی اوربوزه د ۵-۲۰ ګرامه او یا زیات په ورځ کی مصرفوي ( د بدن د حجم زیاتیدو او د عضلاتو د ودې ارتقاء اوربوزه ښه دی چی د ۳۰-۴۵ دقیقو مخکی تر کارولو مصرف سی.)

پودر کیدای سی د اوبو سره مخلوط سی او یا په هم په نوشابه کی د مثال په توګه د نارنج اوبه او غذایی مواد لکه مستې سره مخلوط سی. اوربوزه کیدای سی چی په موضعی شکل د ماګینو اوبو سره په مخلوط کولو مصرف سی او د سوځولو او ګریډلو د جوړوالی سره په کومک کی یو موضعی تاثیر لری.

## شلومبی

بهترین هضمونکی دی چی هم خپله ژر هضمیژی او هم په معده کی شیان ژر هضموی-په شلومبو کی د کلسیم،میگنشیم،پروتین،سودیم مالگی هم وی چی دا توله و هدوکو او غاشو ته پرورش ورکوی-د شلومبو په استعمال سره په بدن کی د وینی دوران چابکیژی او وینه د مضرو موادو سخه پاکوی داکتر سچسین دا په تجربه ثابته کری ده چی د شلومبو استعمال سری د ژر زرتوت(بدا کیدو) سخه راگرزوی.

تر گاته شلومبو نری شلومبی مفید دی،بالخاصه د هغو خلگو لپاره چی هاضمه یی کمزوری وی. د هغه چا لپاره چی پر ملا باندی درد وی یا خوب ونه لری یا کله کله تبه کیژی.

## پټاټې

پټاټې ښه غذا ده ، که دپټاټو سره شیدې یا کلسیم گډ سی نو به کامله قوی غذا سی

ایشول سوی پټاټې دهغو کسانو دپاره چې معده یې ضعیفه وی او یا دمعدې تیزاب لری او یا هغه کار گران چې سخت کارونه کوی ډیره فایده کوی ، دپټاټو اوبه که پرسوځلې ځای ژر واچول سی درد اراموی او

هغه سوځلی ځای کوبې نه کوی ، پټاټې وزن زیاتوی ، اشتها خلاصوی

## دپام وړ

سرې کړی پټاټې ژر نه هضمیږی هغه کسان چې په بدن کی چاغ وی دهغو دپاره دسرې کړو پټاټو خوراک ښه نه دی.

دپټاټوپه سترگو ( زخو ) کی یوه ماده چې سولانین Solanine ورته وایې دغه ماده ضرر ناکه ماده ده داستعمال پوخت کی باید دغه زخی تر نه لری شی

پټاټې بایددپوستکی سره پخې شی وروسته تر پخیدو پوستکی تری نه لری شی او یا ډیری نازکی سپینی شی ولی چې اکثره ویټامین تر نازک پوست لاندی دی

پټاټې په بخار سره پخول ښه دی ولی چې اکثره دفایدی مواد یې وساتل شی

په ژړه پټاټه کې تر سپینی او خړی پټاټې ویټامین ډیر وی درانیولو په وخت کی باید ژړه پټاټه رانیول شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# کولیسترول څه شی دی

تعریف: کولیسترول د وینی د غوړو څخه عبارت دی چه د ینی په واسط تولیدیږی، او د بدن د نورمالو وظایفو د پرمخ بیولو لپاره ضروری دی

کولیسترول په وینه کی د پروتینو سره په ترکیبی ډول موجود وی چه د دواړو ترکیب د لیپوپروتینو په نوم یادیږی.

# د کولیسترول وظیفی :

-د بدن د حجراتو د باندنی طبقی جوړښت ، حجراتو ته د قابل جذب موادو مشخص کول چه کومو ته اجازه ورکړی او کومو ته یی ورنه کړی چه حجری ته داخل شی.

د جنسی هورمونونو په تولید کی هم دخیل دی ، همدارنګه د ادرنال غدی د هومونو(کورټیزول،کورټیکوستیرون، الدوستیرون او نورو) په تولید کی هم مهم رول لری.

د صفرا په تولید کی هم مرسته کوی .د لمر د وړانګو په واسطه د ویټامن ډی په اخیستلو کی هم مرسته کوی. د هغه ویټامنونو په جذب او میتابولیزم کی هم مرسته کوی کوم چه په غوړو کی د حل کیدو قابلیت لری لکه:

(Vitamin A, D, E & K.) او همدارنګه د عصبی ریښو پوښل.

# د کولیسترول یا لیپوپروټینو ډولونه:

## ۱ - ټیټ غلظت درلودونکی لیپوپروټین یا Low density lipoprotein (LDL)

دا ډول لیپوپروتین یا کولیسترول د بدو لیپوپروتینو په نامه هم یادیږی، دا ډول لیپوپروتین، کولیسترول د ینی څخه حجراتو ته انتقالوی چه په نتیجه کی په حجراتو او د هغه په شاوخوا کی د هغوی ډیروالی د وینی د رګونو د تنګوالی او د هغه د دیوالونو د سختوالی سبب ګرځی چه په نتیجه کی لوړ فشار ، د رګونو شکیدل او داسی نورو مشکلاتو سبب کیدای شی.

## ۲ – لوړ غلظت درلودونکی لیپوپروتین یا High density Lipoprotein (HDL)

دا ډول لیپوپروتین د ښه لیپوپروتینو په نوم هم یادیږی، دا ډول لیپوپروتین ، کولیسترول د بدن د حجراتو څخه ینی ته انتقالوی او په ینه کی توټی کیږی او د بدن څخه خارجیږی. چه په نتیجه کی د رنګو د تنګوالی څخه مخنیوی کیږی.

## ۳ – ترایګلایسرایډ Triglycerides

ترایګلایسرایډ یو کیمیاوی ترکیب دی په کوم کی چه په ډیر مقدار غوړ موجود دی، دا ترکیب د وینی په پلازما کی موجود وی، نوموړی غوړ زموږ د غوړوغذایی موادو څخه کوم چه موږ یی په ورځنیو خوړ کی اخلو منشه اخلی او همدارنګه په بدن کی د نورو غذایی مواد لکه قندی مواد او داسی نورو څخه هم جوړیږی کوم چه زموږ د بدن د مصرف څخه زیات شی، نوموړی مواد د بدن په شحمی حجرو کی ذخیره کیږی او د ضرورت په وخت کی په مصرف رسیږی.

## د کولیسترولو اندازه:

مطلوبه اندازه 200. mg/dl

د اخرین سرحد اندازه 200- 239 mg/dl

لوړ حد 240 mg/dlاو تر د پورته.

## د لوړ کولیسترول خطرونه:

د وینی د رنګونو د دیوال سختوالی او تنګوالی.

د زړه د رنګونو ناروغی او تنګوالی چه په نتیجه کی د زړه عضلی ته په کافی اندازه وینه او اکسجن نه ریسیږی.

کله چه د زړه عضلی ته په کافی اندازه وینه او اکسجن ونه رسیږی د زړه حملی او حتی د زړه د ودریدو او مرګ سبب کیږی.

دا چه د زړه عضلی ته په کافی اندازه وینه او اکسجن ونه رسیږی د سینی درد او نارحتی یا خناق صدری را مینځ ته کیږی.

د وینی د رګونو ناروغی.

د زړه وړی او غټی حملی چه کیدای شی د زړه د ودریدو او مرگ سبب شی.

## د وینی د لوړ کولیسترول نښی:

خناق صدری یا د سینی درد چه د غاړی چپ لاس معدی او شا خواته انتشار مومی.

د تمرین یا گرځیدو په وخت کی د لینگیو دردونه، چه د وینی د رگونو د تنگوالی له وجی مینځ ته راځی.

په وینه کی د لختی یا غوټی مینځ ته راتلل چه کیدای شی د وینی د رگونو د بندیدو سبب وگرځی، او همدارنگه د وینی د رگونو پری کیدل یا سوری کیدل.

د بدن د پوستکی خصوصاً د سترگو په شاوخوا پنډی زیړ رنگه لکو را مینځ ته کیدل.

## د وینی د لوړ کولیسترول اسباب

غذایی رژیم: هغه غذایی مواد چه په لوړه اندازه کولیسترول لری لکه: هگی، پښتورگی، بحری غذایی مواد، لبنیات، حیوانی غوړی لکه کوچ، د مال غوړی، وازگی سپینی غوښی.

-د فزیکی کار او تمرین کموالی یا نه کول، ځای په ځای کښیناستل او پریوتل د کولیسترولو خصوصاً د بدو کولیسترولو د لوړیدو سبب گرځی.

## د وزن زیاتوالی.

-د مخدره موادو خصوصاً سگریټو زیات استعمال د بدو کولیسترولو د زیاتیدو سبب کیږی.

## د الکولی مشروباتو استعمال.

خطرناک فکتورنه کوم چه د تداوی او وقایی وړ هم ندی:

کورنی تاریخچه ، هغه کسان چه د زړه د ناروغانو او لوړ کولیسترول درلودونکی مخکنی واقعی ولری مثلاً که د چا پلار ورور مور او داسی نور. د لوړ کولیسترول تاریخچه درلودلو تاسی هم په خطر کی یاست کیدای شی وربانډی اخته شی.

د کولیسترول لوړه اندازه په نارینه وو کښی نسبت ښځو ته زیاته ده یعنی نارینه نسبت ښځو ته زیات په د ناروغی اخته کیږی.

هغه ښځی چه تر وخت مخکی شنډیږی یعنی میاشنی عادت یی بندیږی نسبت هغه ښځو ته چه ناوخته شنډیږی د کولیسترول د لوړیدو په ناروغی ډیری اخته کیږی.

## تشخيص:

-د کوليسترول اندازه د لابراتواری معايناتو په وسيله کيدای شی، د کوليسترول د اندازی لپاره مريض بايد د معايناتو څخه ۱۲ ساعته مخکی هيڅ شی بايد ونه خوری ، او ورسته بيا د وينی نمونه د مسول کس له خوا اخيستل کيږی ، په وينه کی بايد د LDL, HDL او Triglyceridesدری واړو اندازه معلومه شی.

## تداوی:

1 .د ژوند څرنګوالی : خصوصآ هغه کسان چه کورنی تاريچه ولری او يا هغه ښځی چه د وخت نه مخکی شنډی شويوی لاندی ټکی په نظر کی ولری:

-زيات فزيکی فعاليت بايد وکړی ، (کارد وکړی و د ګرځی حد اقل ۳۰۰۰ متره او يا تر د زيات بايد روزانه په پښو وګرځی)

-په خپل ورځنی خوراکی رژيم کی د له ميوی، سبزی، حبوبات (لوبيا، نخود، دال ماش او داسی نور) د وربشی ډوډی او ښه غوړی خصوصآ هغه غوړی چه مايع وی او کوليسترول و نه لری استفاده وکړی.

-هغه خواړه چه په حيوانی غوړو کی تيار شوی وی، خپله حيوانی غوړی لکه زيړ غوړی، وازده، کوچ، سپينه غوښه، همدارنګه ځينی نور خواړه لکه ينه، هګی، پښتورګی، لبنياتو څخه بايد کمه استفاده وکړی او يا يی هيڅ و نه خوری.

-د شپی له خوا حد اقل بايد ۸ ساعته خوب وکړی .

-که يی وزن لوړ وی کوښښ د وکړی تر څو خپل وزن نورمال حد ته کښته کړی.

-د الکولی مشروباتو استعمال بايد بند کړی.

-د مخدره موادو خصوصآ سګريټو له څکولو څخه جدآ ډډه کړی

## 2 .د دوا په واسطه تداوی:

-د دوا په واسطه تداوی بايد د ډاکترصاحبانو له خوا وشی هيڅ مريض بايد په خپل سر دوا استعمال نه کړی.

زه دځينی دوا ګانو چه د لوړ کوليسترول درلودونکو مريضانو لپاره توصيه کيږی، ځوانو ډاکترصاحبانو د معلوماتو په خاطر ياداوری کوم خو په توصيه کی يی بايد د ډير احتياط څخه کار واخيستل شی.

A. Statins (HMG-coa reductase inhibitors): دا دواګانې هغه انزایم چه په ینه کې د کولیسترول د تولید یا تنبه سبب کیږی نهی کوی، چه په نتیجه کې د کولیسترول تولید کمیږی او په وینه کې یې اندازه کمیږی، چه عبارت دی له Atorvastatin, Fluvastatin, : Lovastatin, Pravastatin, Rosuvastatin او Simvatatin د تابلیت په شکل ۱۰ او ۲۰ ملی ګرامه په بازار کې پیدا کیږی مقدار یې د ۱۰ څخه تر ۲۰ ملی ګرامه د ورځې یوه پلا توصیه کیږی. جانبی عوارض یې عبارت دی له:

قبضیت، سردرد، د نس درد او اسهال څخه.

B. همدارنګه Aspirin تابلیت د ورځې ۷۵ څخه تر ۱۵۰ ملی ګرامه پوری توصیه کیږی، په یاد ولری چه اسپرین تر ۱۶ کاله کښته عمر کم ماشومانو کې نه توصیه کیږی.

C. ترایګلایسراید کښته کوونکی درمل لکه Gemfibrozl, Fenofibrate, او: Clofibrate په هغه صورت کې چه ترایګلایسراید جګ وی توصیه کیږی.

D. Niacin یا د B ویتامین درلودونکی غذا ګانې او همدارنګه درمل هم ښه کولیسترول او هم بد کولیسترول کښته کوی نو په هغه صورت کې چه ښه کولیسترول یا HDL ډیر کښته نه وی توصیه کیږی.

E. هغه مریضان چه د وینې لوړ کولیسترول ولری او ورسره د وینې لوړ فشار هم ولری هغوی ته ACE inhibitors, arbs, Duiretics, Beta-blockers, او Calcium Channel blockers ورکولای شو، په یاد ولری هغه مریضان چه د زړه ضربان یې کم وی بیتا بلاکر درمل ورته نه توصیه کیږی.

Angiotensin receptor blocker (arbs) لکه Candesatan, Losartan, : Eprosartan او داسې نور.

ACE inhibitors لکه Captopril, enalopril, lisinopril: او داسې نور.

Beta-blockers لکه Atenolol, Propranolol, Metoprolol, Timolol, : Bisoprolol او داسې نور.

Calcium Channel blockers لکه Verapamil, Diltiazem, Nifedipne, : Isradifine, Nicardifine او داسې نور.

Duiretics لکه Furosemide, thiazide, Aldactone, Microzide: اوداسې نور

ه بدن کي ويټامينونه ټول هغه عضوي جوړښتونه دي چي نه يوازي دغړو دترميم اوانرژئ لپاره په کارراځي، بلکي دنورومهيمو سيستمونو،اوارګانونو دجوړښت او ودي لپاره هم پکاريږي

دمثال په توګه ؛دهضم په سيستم کي دخوراکي توکوادلون بدلون چي ترډيره حده په اسانئ سره نه شي حل کيدای په حل کولو کي يي دويټامينونو رول زيات دی

په دي سيستم کي دخوراکي توکودهضم په پروسه اوبدلون کي دويټامينونوترټولوستره وظيفه دقندونو،پروټينونو،اومعدني موادوترتيبول ا په دروسته توګه په کار اچول دي

يعني دقندونو،پروټينونو،اومعدني موادودادلون بدلون دنده چي په صحي توګه دانرژي سرچينه وګرزي په غاړه لري

او همدارنګه په بدن کي دمعافيت سيستم ځواکمن اوفعال ساتي دويني دکروياتو،دهډوکودجوړښت ،اودغاښونودجوړساتلولپاره مهم جوړښتونه دي. چي نژدي زياته برخه يي له خوراکي توکوڅخه لاس ته راځي

ټول ويټامينونه په بدن کي دحل کيدونکو جوړښتونوپه حيث په دوو عمده او کارنده ګروپونوويشل شوي دي چي اول ګروپ يي دliphopilپه نوم اودوهم ګروپ يي د hy drophilپه نامه ياديږي.

ياپه بل عبارت ويلای شو چي په بدن کي ټول ويټامينونه په دوو عمده اوکارنده ګروپونوباندي ترتيب شوي دي چي اوله يي برخه يي په اوبوکي حل کيدونکي لکه ويټامين سي ،ويټامين بي ،اوددي ويټامينونه دي

اودوهمه برخه يي هغه ويټامينونه دي چي په غوړوکي دحل کيدووړدي لکه دA"B:EاودKاړوندويټامينونه دي

لکه څرنګه چي ورته اشاره وشوه اوله برخه ويټامينونه په اوبو اودوهمه برخه ويټامينونه دځيګرتراغيزلاندي په غوړوکي حل او جذب کيږي

په اي ،ډي ،اې ،کي ، ويټامينونوسربيرهB12ويټامين هم په ځيګرکي ذخيره کيږي چي مهمه دنده يي دعصبي سيسم جوړساتل اوسلامتيا ده

په ځيګرکي دويټامينونو دجذب فيصدي ته په کتلوسره ويلای شوچي په بدن کي ځيګردويټامينونوترټولولويه زيرمه ده

په ځيګرکي دويټامينونوله ډلي څخه ويټامينB6 اوځيني نورددفاعي سيستم دتقويي لپاره ضروري ويټامينونه دي ويټامينونه په ټوليزه توګه ديولړتجزيو اوپروسوپه کاراوچونه

اوسرته رسونه باندي لاس ته راځي آن تردي چي کله وخت داسي هم کيداى شي چي کله وخت ديولړپروسو اوتجزيو په اساس له يوه ويټامين څخه بل ويټامين لاس ته راوړل شي

دبيلګي په توګه ،استثنايي ويټامينونه دډي ويټامين جوړوي ياني کله چي انسان دلمررڼا ته کښيني او دلمرشعاوي يي بدن ته دا خلي شي په دي حالت کي بدن ويټامين ډي جوړوي

د لمر وړانګو ته لږ مخامخ کيدل د ويتامين ډي کموالي ته د انسان تمايل زياتوي . دا کموالى بيا د هډوکو د معدني موادو د خرابي سبب کيږي چې په ماشومانو کې د rickets د ناروغۍ سبب کيږي او په لويانو کې بيا د هډوکو د نرميدو يا osteomalacia oste )) په لاتين کې د هډوکې او مليشيا د نرميدلوپه معني ده

# موبايل د تيلفون نه زياته کار اخيستنه د سرطان سبب ګرځي

د سرطاني مرضۇنو سره د مبارزې امريکايی موسسې يو ځل بيا خپل هغه خبرداری تکرار کړ چې وايی د موبايل د تيلفون نه زياته کار اخيستنه د سرطان سبب ګرځي

د سرطاني مرضۇنو او موبايل تر منځ د اړيکو پوښتنې مخکې تر دی هم را ولاړې شوی وی. خو دا لومړی ځل دی چې د څيړونکو يوه مخکښه ډله داسی يو جدي خبرداری خپور کړی دی

داکتر ارنولد هيبرمن، د پټسبرګ د پوهنتون د سرطاني مرضۇنو سره د مبارزی د مرکز رئيس خپلو همکارانو ته د يوه نوت په ترڅ کی دا خبر داری واضحه کړ او وايی چې ماشومان بايد يوازی او يوازی په عاجلو شرايطو کی د موبايل نه کار واخلي، ځکه دوی تر نور زيات د ګوابښ سره مخ دي

د سرطان سره د مبارزې امريکايی موسسې غړې داکتره مايکل تن دغه څيړنې له نږدې نه څاري

تراوسه ټول شواهد د موبايل د تيلوفن زيان په زغرده نشي په ډاګه کولای. زه وايم دا نامکنه ده چې د ساينس سره دا په اثبات ورسوو چې موبايل سل په سلو کې مصوؤنه دی." د سرطان سره دمبارزې امريکايی اداره وايی موبايل تيلفونونه د انرژئ راديويی څپې د وړانګو په توګه مغزو ته استوي. دغه انستيتوت دا په ډاګه کوي چې د ګڼ شمير څيړنی د نوی تکنالوژی په اړه همدې ټکي ته اشاره کوي او زياتوي چې د موبايل د تيلفون کار اخيستونکی چې شمير يی ورځ په روځ زياتيږي بايد ديته ژوره پاملرنه وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو سلو اتیا ملیون کسان په امرکیا او د دوه بلیونو نه زیات کسان په نړی کی د مبایل تیلفون کاروي د هیبیرمن خبرداری د اوسنی او پخوانیو چیړنو په اساس اعلان شوی. اوس نو دموبایل کار اخیستونکو ته اندیښنه پیدا شوی

په وروستیو نهایی نتیجو کې اوس هم د مبایل د زیان بشپړ ثبوت ندی لاس ته راغلی نو داکتران هم د وایرلس غوړی د استعمال مشوره ورکویغ او وایی ماغزو ته د وړانگو مخنیوی وکړئ

# دشپې په رڼاکې خوب کول ودماغ ته نقصان رسوي

ساینسی تحقیق دشپې په رڼاکې خوب کول ودماغ ته نقصان رسوی

خوب دلله جل جلاله یوله بې مثله نعموتونوڅخه یونعمت دی اوالله جل جلاله فرمایی؛ چی خوب ستاسو لپاره ارام اوسکون دی، داچی اوس داخوب په رڼاکې ښه دی اوکه په تاریکه کې ساینس پوهانوپردې باندی څیړنه کړېده، ځینې خلک خوب دتاریکی پرځای په رڼاکې ښه بولی اوخوښوې یی، اوساینس پوهان بیاپه دې انددی چی په رڼاکې خوب ودماغ ته نقصان رسوی د (سوسایټی فارنیوروساینسز) په کلنۍ غونډه کې یولوی نظرداورکول شوچی هغه کسان چی په رڼاکې خوب کوی په هغوکی دروحی تکلیف

# اوفشار (Tension, Depression)

زیات دی، اونښې نښانې ئې له ورایه معلومیږی، اوهغه کسان چی داتوساعتونولپاره په تاریکه کی خوب کوی، په دې کسانوکی هیڅ دروحی تکلیف اوفشارنښې نښانې معلومیږی اوداخلک نسبت وهغوخلکوته چی په رڼاکې خوب کوی ددماغ له پلوه ډېرپه استرحت باندی دی اوداتجربې ډېرې شوی دی اوڅېړنې ئې پایلوته رسېدلې دی۔

دانسان دماغ په رڼا اوپه تاریکه کی مختلف هارمونونه پیداکوی، هغه هارمونونه چی په رڼاکی پیداکوی هغه ترهغوهارمونونوچی په تاریکه کی ئې پیداکوی ډېرکټوردی ـ اوبل داچی په تاریکه کې دخوب حرکت (Cycles) ډېرښه دی نستب ورڼاته، اوپه رڼاکې سترگې داسی اشارې وماغ ته لیږی چی دماغ وپوره ارام ته نه پرېږدې، که څه هم سترگې پټې وې، اوسترگې ئې وارام ته نه پرېږدې۔

# بدني کار انسان له ناروغيو ژغوري

د لين سټ سيانسي جريدې د رپوټ او څېړني له مخې جسماني کمزروتياو په ټوله دنيا کې د وبا شکل غوره کړی دی او د قربانيانو شمېر يې په ټوله نړۍ کې هرکال د سګرټ څښونکو او دې ورته نورو ناروغيو د قربانيانو سره ورتوالی ښيي.

د نړۍ ګڼو روغتيايي څېړونکو په خپلو څېړنو کې څرګنده کړې ده، هغه کسان ، چې جمسي او فزيکې کار نه کوي او خپل ډېر وخت په ناسته او يا هم په ملاسته تېروي له امله يې د پيدا کيدونکو نارغيو د قربانيانو شمېر په ۲۰۰۸ کال کې۵۳ لکو ته رسيدلی دی.

په رپوټ کې راغلي دي چې د قربانيانو دغه شمېره دا کال په ټوله نړې هم د بېلا بېلو ناروغيو يو کره شمېره ده.

د طبي څېړونو په اساس د د زړه د رنګونو شپړ په سلو کې ناروغان داسې وي چې فيزکي اوبدني کار نه شي کولی، او نورې ډېرې ناروغۍ هم له همدې امله پيدا کېدی شي.

په دغه تحقيقي رپوټ کې ويل شوي دي چې د کينسر په ناروغيو ٪۱۰ اخته کسان هم هغه څوک دی، چې فزيکي کار ډېر نه خوښوي او ډېر کارونه په ناسته ترسره کوي.

نويو څېړنو داسې ښودلې، چې په نړۍ کې د هغو ځوانانو چې لټ او تمبل دي په ډېرو خطرناکو ناروغيو يې د اخته کېدو خطره شته، کومې ناروغۍ چې د بدني کار نه د کولو له امله پيدا کيږي.

طبي کارپوهان وايي، چې بدني کار، په لوبو کې برخه اخيستل او ازاد ورزش يا سپورټ انسانان له ډېرو خطرناکو ناروغيو ساتي او د عمر په اوږدوالي کې ورسره مرسته کوي.

د دغه رپوټ پر بنسټ د عمر په تېريدو سره انسان په جمساني ډول هم کمزوری کيږي او که چېرته يې فزيکي کارونه نه وي ترسره کړي نو په اسانۍ سره د ناروغيو ښکار جوړيدلی شي، رپوټ وايي چې دا ستونزه د نارينه وو په پرتله په ښځينه وو کې زياته ده، ځانګړي هغو هېوادونو کې کې چې د خلکو د ژوند سطحه په کې لوړه ده.

رپوټ زياتوي دغه ډول ناروغۍ په بډايه ملکونو کې تر نورو ډېرې ليدل کيږي، ځکه په دغه هېوادونو کې خلک د پياده ګرځېدو پر ځای په موټر کې ګرځي، او خپل زيات وخت د تلويزيون په کتو او کمپيوټر سره تېروي، چې له امله يې بدني کار ته وخت نه پيدا کيږي.

روغتيا پوهان وايي چې د دې ستونزو د مخنيوي لپاره بايد ځوانان په اوونۍ کې کم تر کمه ۱۵۰ منټه بدني کار وکړي، لکه منډه وهل، سايکل چلولو، پياده ګرځېدل، او باغواني کول

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ولې ټوله شپه خوب نه درځي

که چېرته د شپې خوب نه درځي نو په دې باید پوه شئ چې تاسو یوازینی کس نه یاست چې په دې ستونزه اخته شوی یاست. که چېرته د شپې خوب نه درځي نو په دې باید پوه شئ، چې تاسو یوازینی څوک نه یاست،

چې په دې ستونزه کې اخته شوي یاست، د یوې نوې څېړنې له مخې داسې معلومه شوې چې د نړۍ یوه لویه برخه د دې ستونزې ښکار شوي دي او ورځ تر بلې په دې برخه کې اضافه والی راځي.

د انګلستان په یو طبي پوهنتون کې یوې نوې څېړنې داسې ثابته کړې، چې د بې خوبۍ ستونزه یوازې د پرمختللو هېوادنو ستونزه نه ده بلکې مخ پر پرمختګ هېوادونو کې هم ورځ تر بلې په ډېرې تېزۍ سره خپرېږي.

د یاد پوهنتون یو استاد ډاکټر سویریو استرینجس د دې څېړنې د راپور لیکونکی دی، هغه وایي له دې څېړنې یې موخه د اسیا او افریقا د اتو هېوادونو په هغه خلکو چې د بې خوبۍ په ستونزه اخته و یو شمېر کسانو څېړنې ترسره کړي، چې پایلې داسې ویلې دي.

دغه څېړنه د ګانا، تنزانیه، جنوبي افریقه، هندوستان، بنګله دیش، ویتنام، اندونیشیا او کینیا په ښاري سیمو کې ترسره شوې ده، ډاکټر استرینجس وایي چې په ټولو اتو هېوادونو کې ډېرو خلکو د بې خوبۍ ستونزه ډېره وه.

د څېړنې له پایلو پوهان داسې اندازه لګوي، چې په پرمختللو هېوادونو کې د بې خوبۍ په ستونزې اخته کسانو شمېر تر ۱۵ کروړه دی.

ډاکټر استرینجس وایي، په دې اړه پاخه او کره شواهد لري، چې بې خوبي د لوړې د له منځه وړلو او دماغي ناروغیو سبب کېږي، نوموړی همدارنګه وایي چې د دې ترڅنګ د بدن نور فعالیتونه هم تر اغېز لاندې راولي.

هغه وایي بې خوبي د انسان د بدن دفاعي قوه کمزورې کوي چې په له امله یې د مختلفو خطرناکو ناروغیو د پیدا کېدو لپاره لار اوره ولی شي.

ډاکټر استرینجس همدارنګه وایي چې ډېر خوب هم د بدن لپاره ښه نه دی او د مختلفو ناروغیو د پیدا کېدو سبب کېدی شي.

دا مهال په پرمختللو هېوادونو کې د بې خوبۍ په ستونزې اخته کسانو شمېر له ۱۵ کروړو اوړي.

ډاکټر وايي چې د سیګریټو څکول، غېر متوازن خوراک، نور داسې عادتونه چې روغتيا ته ښه نه وي د بې خوبۍ ستونزه زېږوونې شي، نوموړی همدارنګه په غربي هېوادونو کې ۲۴ ساعته ژوند هم د بې خوبۍ د ستونزې د پيدا کېدو ستر لامل بولي او وايي چې د انټرنيټ غېر معمولي استعمالول هم د بې خوبۍ د ناروغۍ په رامنځته کولو کې ستره ونډه لري.

له اوږدو څېړنو وروسته داسې پايلې هم ترلاسه شوي دی چې اوږد مهاله ذهني فشار، وېره او نور روحي فشارونه هم په پرمختللو هېوادونو کې د بې خوبۍ ستونزې زېږوونې شي، او داسې هم ويل شوي چې په دې هېوادونو کې د نارينه وو په پرتله مېرمنې ډېرې په دې ناروغۍ اخته دي.

د څېړنې له مخې په بنګله دېش، سهيلي افريقا او ويتنام کې ډېر زيات خلک د بې خوبۍ په ستونزه اخته وو، چې د ډاکټر استرينجس په وينا په دغو مملکتونو کې د بې خوبۍ ستونزه په عامه روغتيا روغتونونو کې يوه عامه مساله ګرځېدلې ده.

خو د دې برعکس په څېړنه کې داسې هم راغلي چې په هندوستان او اندونيشيا کې د بې خوبۍ په ستونزو اخته کسانو شمېر په هېجاني شکل کم و.

ډاکټر استرينجس خبرداری ورکوي چې په پرمختللو هېوادونو کې د بې خوبۍ د ستونزې ډېروالی به په دغه هېوادونو کې د ډېرو نورو ناروغيو پيدا کېدو ته هم لاره اواره کړي.

نوموړی وايي چې د بې خوبۍ د ستونزې له لرې کولو لپاره کومه اسانه لاره نه شته، او که وي هم نو دغه موضوع اوږدې مودې ته اړتيا لري، او که څوک غواړي، چې د دې ستونزې لپاره کوم لاره تجويز کړي، نو بايد په اوږده موده کې د هغه د ژوند کولو طريقه، او نورې روغتيايي اغېزې په پام کې ونيسي

## ذهني فشار په کوچنيانو کې د سر درد لامل کېږی

په ښوونځي کې ډېر کار او د شپې له خوا د تلويزون او کمپيوټر زيات استعمال کوچنيان له ذهني فشار سره مخ کوي د ايټاليه په روغتون کې ډاکټرانو له يوې نوې څېړنې وروسته ويلي چې ذهني فشار په کوچنيانو کې د سر درد پيدا کېدو لامل کېږي،

دوی وايي په ښوونځيو کې پر کوچنيانو ډېر کار او بيا په کور کې تلويزيون او کمپيوټر ته ډېره ناسته د ماشومان له ذهني فشار سره مخ کوي، چې له امله ورته د سر درد ستونزه پيدا کوي.

د دې څېړنې د ډاکټرانو په وينا زياتر هغه کوچنيان د سر درد له ستونزې سره مخ کېږي، چې په دهني توګه له زيات فشار سره مخ وي.

د دې څېړنې د ډاکټرانو له ډلې ډاکټر ډالد ليبرا وايي چې د څېړنې په دوران کې ۷۲ داسې کېسونه ورته مخې ته راغلي چې د هغوی سر درد د ډېر فشار له امله و.

نوموړی وايي چې د ورځې د ښوونځي کارونه او د شپې کمپيوټر او تلويزون ته ناسته د کوچنيانو خوب نه شي پوره کولی، چې له امله يې د ذهني فشار سره مخ کېږي او دا ستونزه ورته پيدا کېږي.

هغه وايي د دې لپاره چې په کوچنيانو کې د سر درد ستونزه ختمه شي نو بايد، چې له ذهني فشاره لرې وساتل شي او د دې لپاره په کار ده، چې په ښوونځيو کې ورته د تفريح او لوبو ډېر فرصتونه برابر شي، چې دا کار کولای شي هغوی له ذهني فشاره وساتي.

نوموړی همدارنګه سپارښتنه کوي چې د تلويزيون په کتلو او کمپيوټر په استعمال کې کمی هم په دې برخه کې مرسته کوي، چې په وينا يې دا کار د يو کوچني په روغتيا کې مهمه ونډه لري.

## ايا د لمر وړانګې او ويټامين ډي ستاسو عمر زياتوي

ويټامين ډي د هډوکو د پوخوالي او قوت لپاره اساسي ارزښت لري. د بدن د مقاومت، ښه دماغي صحت، د ناروغيو د رغېدلو، د عمر د اوږدېدو، د التهاب (پړسوب) د کمښت او له مزمنو ناروغيو څخه په خلاصېدو کې برخه اخلي. ويټامين ډي، ځکه هډوکي قوي کوي، چې له کولمو څخه وينې ته د کلسيوم او فاسفيت جذب او په وينه کې يې معينه اندازه ممکنوي او له دغو مادو د هډوکو اصلي برخه جوړېږي.

### د کمښت زيانونه

که ويټامين ډي په بدن کې کم وي، نو ډېرې ستونزې رامنځته کوي : په ماشومانو کې د ريکټس ناروغي منځته راوړي چې د ماشومانو د هډوکو د کمزورۍ او بد شکليو سبب کېږي. په مېرمنو کې د اوستيو مليشيا (Osteomalacia) سبب کېږي چې هډوکي پکې نرم او کمزوري وي. په لوړ عمر کې اوستيوپوروز (osteoporosis) رامنځ ته کوي چې هډوکي وراسته او له منځه سوري کېږي او د ماتېدو خطر يې زياتېږي. همدا راز د ويټامين ډي کمښت د الزهايمر د ناروغۍ خطر دوه چنده کوي (چې پکې حافظه کار نه کوي). د حافظې د کمزورۍ، د شکرې ناروغۍ، د زړه او رګونو د ناروغيو، مخکې له وخته مړينو، د کولمو، سينې او پروستات سرطانونو، عصبي ـ عضلي دردونو، اوتواميون ناروغيو (داسې ناروغۍ چې د بدن حجرې د خپل ځان په وړاندې جګړه پيلوي)، اوتيزم (يوه دماغي ناروغي)، انفلوينزا، د ملټيپل سکليروزز (multiple sclerosis) په نوم د يوې جلدي ناروغۍ او ځينو نورو ناروغيو سبب کېږي او يا دغو ناروغيو ته زمينه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې برعکس د لمر وړانګې او ویټامین ډي له دغو پورته حالاتو مخنیوی کوي. همداراز د خوب کیفیت ښه کوي، د پسوریازز په نوم یوې جلدي ناروغۍ له رغېدو سره مرسته کوي او ژور خفګان له منځه وړي.

د ستونزې وسعت

د ویټامین ډي کمښت یوازې په افغانستان کې ستونزه نده. په ځینو نورو ملکونو کې هم دغه ستونزه شته او یا مخکې موجوده وه. زموږ په جنوبي ګاونډیانو هند، بنګله دېش او پاکستان کې دغه ستونزه ستره ده، خو په شمالي ګاونډیو کې یو څه کمه ده. په غربي هیوادو کې د شلمې پېړۍ په لومړیو کې اتیا سلنه ماشومان د دې ویټامین په کمښت اخته وو، خو اوس دغه ستونزه کنټرول شوې ده. البته د هډوکو نرمښت اوس هم د امریکا په ۴۰ میلونه ښځو کې شته.

## ولې لا دا ستونزه دومره پراخه ده؟

په اوسنۍ زمانه کې چې کاري مصروفیتونه بېخي زیات شوي، نو فزیکي فعالیت او له لمر سره تماس تر ډېره حده کم شوی دی. دا ډول عادت د ویټامین ډي په فعالېدو منفي اغېزه لري. هغه څوک چې ویټامین ډي لرونکي خواړه نه خوري، د معدې او کولمو ناروغۍ لري یا یې عملیاتونه کړي وي، هم د دې ویټامین له کمښت سره مخ دي. افغان مېرمنې زیاتره په کورونو کې د لمر له وړانګو لیرې اوسېږي، که بهر ته هم وځي، ځان په لباسونو کې ډېر پېچي، نو ځکه تر ټولو ډېرې د ویټامین ډي له کمښت سره مخ دي. ډېر کوچني ماشومان او زاړه خلک هم لدې امله چې زیاتره په کورونو کې وي، د ویټامین ډي له کمښت سره مخامخ دي. امیندوارې او شیدې ورکوونکې میندې، تورپوستکي، چاغ خلک، نوي بالغان او له لمر څخه نور لیرې خلک هم په دې ډله کې شامل دي.

## حل لاره

اوس دا پوښتنه ذهن ته راځي چې د دومره لویې ستونزې حل څه شی دی؟ د ویټامین ډي تر ټولو ښه او بې لګښته منبع د لمر وړانګې دي. د افغانستان لمر پوره اولترا ویلیټ (ultraviolet)وړانګې لري چې د بدن په پوستکي کې ویټامین ډی فعالوي. په کابل کې د هوا د ککړوالی له امله تشویش موجود و، چې دوړې او خاورې به دغه وړانګې ځمکې ته راپرېږدي که نه؟ خو علمي څېړنو چې د ټکنالوژۍ په مرسته تر سره شوې، ثابته کړه چې په کابل کې د لمر وړانګې د ویټامین ډي د جوړولو لپاره کافي دي. لمر ته د مخامخ کېدو بهترین وخت د سهار دنهو او یوولس بجو تر منځ وخت دی. که د بدن یوه ځانګړې برخه لکه لاسونه او پښې لمر ته هره ورځ لږ تر لږه ۱۵ دقیقې مخامخ شي، د بدن د اړتیا وړ ویټامین ډي به

فعال شي. لمر ته مخ او سترګې مه مخامخوئ، ځکه د بدن نازک غړي او پوستکی له لمر سره د زيات تماس په صورت کې تخريبېدای شي. لمر ته په مخامخ کېدو کې د پوستکي رنګ هم رول لري، د نازکه او سپين پوستکي لرونکي وګړي دې د کم وخت لپاره او د تور او ډبل پوستکي لرونکي دې نسبتاً د زيات وخت لپاره لمر ته خپل جلد مخامخ کړي. د بدن هغه برخه چې لمر ته مخامخوئ، تر ۴۸ ساعتونو پورې په صابونه مه مينځئ.

د لمر سره د تماس د دومره ډېرو ګټو په څنګ کې پدې پوهېدل هم ضرور دي چې له حده ډېر وخت او ډېر سوزند لمر ته دوامدار مخامخېدل د نازکو پوستکو د تخريب سبب کېږي (چې ميکروبي کېدو ته مساعدېږي)، همدا راز په نادرو پېښو کې د پوستکي د سرطانونو، د پوستکي د غونجوالي، د سترګو د ناروغيو او په څېره کې د زږښت د نښو دراپيدا کېدو سبب کېږي، نو لمر حياتي ارزښت لري، خو په اندازه!

له خوړو څخه ويټامين ډي اخيستل ضرور دي، په هګيو، شيدو، مستو، حبوباتو، نارنج، ماهي او دماهي په غوړو، ځيګر او بحري خوړو کې ويټامين ډي په يوه اندازه شته، خو په هر صورت بايد د لمر شعاع هېره نشي، ځکه يوازې له خوړو څخه ويټامين ډي اخيستل کافي ندی. په غني شوو خوړو کې ويټامين ډي تر نورو خوړو زيات دی.

## ويټامين ډي او د عمر اوږدوالی

ځينو څېړنو ښودلې ده چې د ويټامين ډي متوازنه اندازه د بدن په حجرو کې ځينې جوړښتونه پياوړي کوي چې د اوږده عمر سبب کېږي، خو دا مسئله په پوره ډول نده ثبوت شوې. د پنځوس هغو څېړنو له بيا کتنې چې په کوچران ډېټابيس کې ثبت شوي دي، دا څرګنده شوې ده چې د ويټامين ډي  پوره اندازه د مخکې له وخته مړينو په کمښت کې رول لري.  ځينو څېړنو ښودلې ده چې ويټامين ډي د بدن په حجرو کې د تيلومير په نوم د يو جوړښت له پياوړتيا او اوږدېدو سره مرسته کوي. که تيلومير اوږد وي، د عمر د اوږدوالي او سرطان له مخنيوي سره مرسته کوي

# د لیکونکي پیژندنه



واحدالله پاڅون د فضل مولا زوی، د ننګرها ولایت اوسیدونکی، په کال ۱۳۶۹ کې زیږیدلی دی. لومړنی او منځنی زده کړی یې په کابل کې د سید نور محمد شاه مینه په عالي لیسه کې او لوړې زده کړې یې د میوند د لوړو زده کړو په موسسه کې د کمپیوترساینس په ریشته کې تر سره کړې دي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**